د مصطفی عمرزی په زیار



# ملي رسالت

Ketabton.com

(د محمد طارق بزگر کارنامي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لوی خدای په نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دعوت نشریې د یو دیرشم کالیزې په ویاړ
به افتخار سی و یکمین سال نشریه ی دعوت

# ملي رسالت/ رسالت ملی

(د محمد طارق بزګر کارنامې/ کارنامه ی محمد طارق بزگر)

د مصطفی عمرزی په زیار

2019/۱۳۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کتاب پېژندنه

نوم: ملي رسالت / رسالت ملی
راټولونه، تنظیم او بیاکتنه: مصطفی عمرزی
سمونه: م.ع-م.ط.ب
دیزاین: م.ع
ژبې: پشتو او دری افغانی
مخونه: 203
خپرونکې: م. ط. ب
د چاپ شمیره: لمړی
چاپځی: کی یف-اکراین
ټوکې: 1000
کال: 2019/۱۳۹۸
ISBN: 978-82-691395-3-2

د دې کتاب د چاپي، انلاین او هر ډول خپراوي خوندي دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دی کتاب کې:


۱- رسالت ملی........................................................................1

**لمړی څپرکی/ محمد طارق بزګر**................................................5

۲- حبیب الله غمخور..............................................................5

۳- محمد نقیب تره خیل..........................................................21

۴- قدرت الله هیوادپال...........................................................24

۵- محمد سرور وکیلی.............................................................27

۶- امرالدین سرحد.................................................................28

۷- استاد کم باور کابلی...........................................................29

۸- پوهنمل رحمت ځواکمن......................................................30

**دویم څپرکی/ دعوت**.............................................................32

۹- مصطفی عمرزی.................................................................32

۱۰- سراج الحق ببرک زی ځدراڼ...............................................34

۱۱- کاندیدای اکادمیسین استاد محمد اعظم سیستانی...............40

۱۲- عبدالغفار جُبیر.................................................................46

۱۳- قریب الرحمن سعید..........................................................48

۱۴- محمد آصف ننګ..............................................................51

۱۵- سردار ولی پشتون زوی......................................................54

۱۶- شاهی سعادت..................................................................56

۱۷- استاد کاظم بیمار ننګرهاری...............................................58

۱۸- شکریه بارکزی.................................................................60

۱۹- داکتر حضرت عمر زاخیلوال...............................................61

۲۰- داکتر نبی مصداق............................................................63

۲۱- محمد نقیب تره خیل.........................................................66

۲۲- ذاهد جلالی.....................................................................68

۲۳- داکتر محمد نواب ویساند....................................................70

۲۴- دکتور محمد عثمان روستار تره کی......................................73

۲۵- فهیم نظیمی.....................................................................75

۲۶- بیکسیار...........................................................................76

۲۷- داکتر جمشید سمون..........................................................79

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۸- اجمل روهی........................................................ 83
۲۹- سرلوخ مرادزی...................................................... 85
۳۰- دکتور استاد سید خلیل الله هاشمیان.................................. 87
۳۱- پوهاند داکتر محمد حسن کاکر......................................... 89
۳۲- داکتر عبدالصمد حامد................................................ 93
۳۳- هلمند پردیس........................................................ 95
۳۴- استاد صباح.......................................................... 97
۳۵- استاد ابوبکر ساپی.................................................. 102
۳۶- محمد امین بسمل..................................................... 103

**دریم څپرکی / پیغامونه**.............................................. 106

۳۷- ولي الله ملکزی..................................................... 106
۳۸- استاد عمر پاڅون.................................................... 108
۳۹-داکتر صلاح الدین سعیدی.............................................. 109
۴۰- نجم شینواری........................................................ 110
۴۱- عظیم الدین علیمی................................................... 111
۴۲- استاد صباح......................................................... 112
۴۳- داکتر لطیف یاد..................................................... 113
۴۴- عاشق فنا........................................................... 114
۴۵- ف. هیرمند.......................................................... 115
۴۶- انجنیر فضل احمد افغان............................................. 117-116
٤٧- د ادیسی ادبی ټولنی پیغام........................................... 118
۴۸- نیک هدایت څاځی.................................................... 120
۴۹- محمد ایاز نوری..................................................... 121
۵۰- استاد محمد اسمعیل یون.............................................. 123
۵۱- د زلمو پاڅون ټولنه................................................. 126
۵۲- محمد یوسف هیواددوست............................................... 130

**څلورم څپرکی / د بزګر څیره**.......................................... 132

۵۳- در مستند نارویژی «پناهنده»......................................... 132
۵۴- در مطبوعات غربی.................................................... 136

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵۵- ستایش در انجمن فرهنگ افغانی................................148
۵۶- ستایش در برنامه ی تلویزیونی ستاره های درخشان.........150
۵۷- ستایش در انجمن خیزش جوانان در سویدن..................153
۵۸- در گزارش تلویزیون ناروی.......................................154
۵۹- ستایش نامه ها..........................................................155
**پنځم څپرکی/ د دعوت نوستالژی**...........................................163
**شپږم څپرکی/ د انځورونو البم**.............................................186
معرفی مصطفی عمرزی...................................................200

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رسالت ملی
(مقدمه)

بی جا نیست اگر اذعان شود مواضع ملی ما از شروع تاریخ بحران (هفت ثور) تا کنون، افغان های بی طرف بوده اند. در این جریان، رفقای خاین که از امکانات دولتی، به جا مردم می افتند، در برابر خود در جبهاتی که از خشم ملت ساخته بودند، افغان ها را بسیج می کردند تا از کشور دفاع کنند. از همان زمان، سلسله ای از آدرس ها از گذشته، آینده و سرنوشت ما می گفتند. در این میان، آدرس هایی که با دیگران/ بیگانه گان گره خورده بودند، حتی در خط مقاومت ملی مردم، شبیه رفقایی عمل می کردند که آرامش خاطر را در کنار روس ها پنداشته بودند. برادران اخوانی تنظیم هایی که از شکم سیری میل کرده بودند از طریق افغانستان به بهشت بروند، آسایش افغان هایی را می گرفتند که دنبال تفهیم مسئله ی ملی می شدند.
رهبران مردمی که حول شاه پیشین، زنده یاد اعلی حضرت شاه محمد ظاهر(رح) گرد می آمدند، در دستان بسته ی شاه مرحوم، ریسمان هایی را می دیدند که ساخت شرق و غرب بودند. در آن سال ها، حتی طرح ملی موضوعات، گونه ای از تکفیر شمرده می شد. بازار الحادی و جهادی از کیسه های غربی و شرقی تمویل می شدند. بنا بر این، حاکمیت دولتی، ممثل منافع شوروی بود و جهاد افغان ها در خط اخوانیسم، از مردم و منافع ما دورتر می رفت. سخن از رفیق و برادر بود، اما ذهنیت افغان پابرجا که مسئله ی ملی را دوباره روی کار آورد، طیف دیگری از افغان ها را متحد می کرد که در هجرت می زیستند.
نشرات داخلی با اباطیل دولتی و نشرات بیرونی، به ویژه در جبهات تنظیم ها، پُر از تضاد و تناقض حامیان الحاد و توحیَد بودند. تورق تاریخ آن روز ها خلاف برداشت های چپی و راستی، محرز می کند محرکه گیریان تنازع، مُهره های بازیگرانی بودند که با عقب و جلو، بگیر و ببند، فتح و سقوط شهر ها در کمال راحتی و آرامش، در جلسات شرقی و غربی گرد می آمدند تا از همدیگر باج بگیرند یا به بهانه ی جنگ، صلح کنند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



در واقع یافت تصویر واقعی مردم قربانی ما در آیینه ای متصور بود که خود آنان ساخته بودند. رسالت ملی محمد طارق بزگر، بخشی از علایق انسانی، شریفانه و ملی افغان هایی ست که در دیار هجرت، در پشت جبهات جنگ و فراموشی، مردم را به یاد افغانستان می انداختند. آن وطن، تداعی روز هایی بود که آزاد بودند.

تلقین حس ملی به طیفی که در گیر و دار قربانی می دادند و در سوی دیگر در دیار هجرت، از اصل گسسته می شدند، سعی ای بود که در کورسوی درک همه گانی، اما مجریان و قربانیان جنگ را به باور های ملی، نزدیک می کرد.

تا پایان حکومت ملا برهان الدین ربانی، منافع و مصالح ملی، قربانی موضع گیری هایی شده بودند که به اصطلاح در حد سگ جنگی های داخلی، گروه های متخاصم را به جان هم می انداختند تا با اشغال چند منطقه و ساحه ی ویران، از فتوحات دم بزنند.

امید های مردم با حاکمیت تنظیمی نابود شدند. بنا بر این، روشنگری هایی که همچنان هویت افغانستان را از لجن پی آمد تجاوز شوروی بیرون کنند، افغان های بی طرف، اما صاحب درک را به قربانی و ایثار بیشتر می کشاندند.

کتاب «رسالت ملی»، روایت مستند از زنده گی یک فرزند با درک و با وجدان این کشور است. من در این تجربه در انظار بزرگانی که این جریان(دعوت محمد طارق بزگر) را بهتر از من می شناختند، به نقاط پایان نکات مهم رسیدم. این افاده، خوب تر از آن چه سعی می کردم از منظر احاطه ی من به تاریخ، بخشی از رسالت ملی یک افغان را تاریخی کند، اهمیت دارد.

راویان «رسالت ملی»، ماخذ و منابع این کتاب اند. از کوچک ترین ها (به لحاظ سن) تا بزرگ تر ها (به لحاظ دانایی) مستندی از زنده گی مردی پرداخته شده است که در نمونه های او، بسیار نیستند. بخشی از این روایت برای من که در جریان جهاد بزرگ در کابل غمین، تکاپوی رفقای خاین را شاهد بودم، ضم مهم است؛ پشت جبهه ای که از پاکستان تا فراسوی مرز ها، افغان های دردمند را در سوگ وطن در مجامع مهاجران و پناهنده گان گرد می آورد تا در فراق کاشانه عزا

(c) ketabton.com: The Digital Library



بگیرند، اما یاد شان نرود سرنوشت مملکت در گرو افکاری ست که یکی با دعوت دیگری از زنگاره های باد و بوران تاریخ می زدودند.
تامل روی برگ های دعوت، خلاف برداشت دیگران، صورت حال صفای افغان هاست. در این کوشش در هجرت سعی می کردند هستی و زنده گی از حافظه ی افغان ها فراموش نشوند.
روایت سیاسی، جهادی و خبری سال های بحران، قسم معمول نشرات افغانی، به ویژه افغان های مهاجر بود، اما ویژه گی بسیاری آن ها با ترسیم اصالت های زمان صلح، از نگرانی دایم حرف می زد.
محمد طارق بزگر در مجموعه ای از نوشته هایی که به مناسبت های دعوت، پیرامون او و نشریه اش نوشته اند، حضور محسوس تاریخی دارد. بر این اساس ترجیح دادم به حرف دوستان و بزرگانی گوش دهم که بسیاری در شمار افغان های مهاجر، خیلی بهتر از برداشت من از کارنامه ی او می دانند: قیمت سال ها ایثار و دردسر فرهنگی در دیار هجرت، چه قدر است؟
راویان کتاب «رسالت ملی»، رسالت ملی محمد طارق بزگر را مشروح کرده اند. کار من در این اثر، بیشتر تنظیم نقش ها، نگاره ها و نوشته هایی بود که گزیده ای از دعوت ملی، اسلامی و افغانی ما برای تحفظ سرزمین آبایی و اجدادی نیز شمرده می شوند.
آشنایان دعوت و دوستان بزگر با شرح ماوقع بخشی از گذشته ی ایثار یک فرزند باوجدان این کشور، راه گشایند تا در این مثال، بازخوانی تاریخ غیر سیاسی افغان ها هم که رابطه ی منطقی آنان با قبل از هفت ثور است تفهیم کند: نیاز به گردآوری و تنظیم تاریخی داریم که در برگ های زمان هجرت در هر جا که قدوم افغان های دردمند، شروح مهاجرت هستند، با محتوای ملی به چشم می خورند.
در این کتاب، گزیده ای از نگرانی های افغان های آگاه در واقع ابواب نو می گشایند تا از عواطف، درک و احساسات ملت که در حاکمیت های کمونیستی، تنظیم و ملایی، اما حق حیات ما را فراموش نکرده بودند، به پیام هایی ملحق شوند که از مجموعه ی آن ها صدای ملت افغان در هرج و مرج سیاسی، زیر فشار های شرق و غرب، هرگز خاموش نشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوشته های این مجموعه، گزیده هایی از وقت و ناوقت مناسبت های دعوت و بزگر می باشند؛ عواطف گره خورده ی درهم که غایه ی آن ها شرح ماجرای رسالت ملی است؛ آن ها را در مقام تبیین نیاز ها، منافع، مصالح و اولویت های ما قرار می دهند.

مبدا، محتوا، ارزش و تداوم نوشته های فرهنگیان و قلم به دستان، این کتاب را در نتیجه ای مختص می کنند که منظور آنان از کار فرهنگی، غایه ی خدمت به مملکت و حفظ شوونات آن است.

رسانه ی دعوت و محمد طارق بزگر، دو نام پیوسته به هویت و مملکت ما در سال هایی شناخته می شوند که سرمایه های کلان مالی و بشری در جبهات شرق و غرق، حیف و میل می شدند.

مرور دعوت تاریخی مردم ما آشکار می کند اگر این محور ها (امثال دعوت و بزگر) نبودند، زاده گان زمینه ی جنگ و ویرانی در منظر تار و تاریک حیات محکوم به فنا، چه گونه آگاه می شدند که گذشته دارند و بخشی از آنان با هجرت در دیار غربت فراموش نکنند افغان استند!

مصطفی عمرزی

۱۱/ ۸ / ۱۳۹۷ش

آپارتمان های مارکیت ملی

کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمړی څپرکی:
محمد طارق بزگر

**د محمد طارق بزګر د دعوت جريدې**
**او ويب پاڼې مسوول مدير لنډ ژوندليک**
حبيب الله غمخور

د پښتو ادب ستوري الفت صاحب د دې ښکلي شعر په لوړېني سره زموږ د دې ځوان او هځاند فرهنګي شخصيت، ليکوال، او ژورناليست ښاغلي محمد طارق بزګر لنډه پېژندنه پيلوم.

د وطن د شرف سپړيم نه وېرېږم
که د تورو ګذارونه دم په دم خورم
دا خوږي، غوړي کولې دې وي د نورو
د وطن د فاع کښې زه ګولۍ د بم خورم
چې په سر مې د وطن خدمت منلی
څه پروا ده که خپل سر لکه قلم خورم

د ښاغلي محمد طارق بزګر زموږ تکړه ليکوال او فرهنګی څېړې **۲۳** کلن فرهنګی او ولسي چوپړ يادغوندې ته ئي ډالۍ کوم.
د پيل خبري:
درانه لوستونکي خبر دی چې د سويډن پلازمېنه ستوکهلم په ښار کې زموږ دځوانانو د ((زلمو پاڅون ټولنې)) لخوا د ځوان فرهنګي څېړې د علمي او فرهنګی چوپړ د درنښت په وياړ د روان کال د دسمبر پر لسمه يوه درنه غونډه رابللې ده.
يا خو ښاغلی محمد طارق بزګر صاحب ځوانه فرهنګی څېره ده او يا خو لا موږ تر اوسه دې کچې ته نه يو رسېدلي چې د خپلو شخصيتونو ژوندليک ولرو. د غونډو د معمول او دغې تشې د ډکېدو په موخه مې پرېکړه وکړه د خپل دې فرهنګی دوست د پېژندليک د ماڼۍ ډبره کښېږدم.
پدې پوره باور لرم چې د بزګر صاحب ژوندليک به تر دې چې ما ليکلئ څو ځله اوږد او لوستل به ئي زموږ ځوان نسل ته ګټور وي. سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې چې د ښاغلي طارق بزګر صاحب د کار او فرهنګي چوپړ سره به ډېر هيوادوال اشنايي ولري، خو د دې ليکنې نه زما موخه داده چې له يوې خوا مې د هغه زيار او زحمت ستاينه کړې وي او د بلې خوا مې لږ او ډېر د دې درونږ شخصيت په هغو اړخونو لوستونکي خبر کړي وي چې دوئ لا پرې خبر نه دي.

کله چې سويډن ته راکډه سوم دلته مې د فرهنګي ګټورو کارونو چې موخه ئې له يوې خوا په بهر کې د افغاني کلتور ژوندی ساتل او د بلې خوا ځوان نسل د دې کلتوري ارزښتونو سره په پيوند کې روزلو اړتيا احساس کړه، له نېکه مرغه دغه هدف ته د رسېدو لپاره د خپلو يو شمير هيوادوالو ملاتړ مې سم دواره احساس کړ. د دوئ په هڅونه مې فرهنګي کارونو او پدې برخه کښې د ګټورو ګامونو پورته کولو ته زياته پاملرنه وکړه. زما د همدې وطندارانو د هڅونې او ملاتړ په پايله کښې پر دې بريالی سوم په ۲۰۰۰م کال کې د لومړي ځل لپاره د پښتو ادب ستوري، سياسي او ادبي شخصيت ارواښاد ګل پاچا الفت په وياړ نړيوال علمي سمينار د مالمو په ښار کې جوړ کړ. په همدې سمينارکښې د ډيرو فرهنګي، علمي او سياسي شخصيتونو تر څنګ د دې منلي او هڅاند فرهنګي شخصيت سره معرفي شوم. زموږ دوستی او د ګران هيواد افغانستان لپاره ګډه فرهنګی همکاري او هڅې تر نن ورځې پوري دوام لري.

دا چې په سويډن کښې د ژوندو فرهنګيانو، اديبانو، شاعرانو او ژونالستانو د ستاينې او هڅونې، د ملي او وطنی چوپړ د درناوي او ارزونې په وياړ يو په بل پسې درنې غونډې جوړيږي، زما او ټولوافغانانو لپاره د وياړ ځاي دی.

دې ټکي ته مې پدې خاطر ګوته ونيوله چې له بده مرغه تر اوسه لا څنګه چې اړينه ده او په نورو ولسونو کې د ملي عنعنې بڼه لري په موږ افغانانو کې د خپلو ژونديو څه قدر نسته. کله چې خداي نخواسته مړ سي، يوه نيمه ورځ ئې وير وکړو او بيا د ابد لپاره رانه هير سي. هغه د محترم ننګيال صاحب خبره ((نه د ژوندو چندان قدر کوو او نه د مړو.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ناخوالو سره پدې وروستۍ لسیزه کښې د ځوانو فرهنګیانو او روڼ اندو په هڅو او تلاښونو د فرهنګي ټولنو په مټ معقوله مبارزه روانه ده. د همدې ملي او معقولو تلاښونو په پایله کښې دا دي اوس د دې پروسې شاهدان، یو چې نه یوازي له هیواد نه بهر بلکې د داسي ستاین غونډو لمن تر افغانستان پوري هم غزیدلې ده.

اوس د ژوندیو لیکوالو، ادیبانو، شاعرانو، ژورنالیستانو او فرهنګیانو د ملي او وطني چوپړ درناوی کیږي او د هغوئ د ستاینې په موخه علمي او ادبي درنې غونډې جوړیږي او د همدې غونډو د جوړېدو په درشل کښې زموږ د ټولنې د ژوندیو ویاړونو ستاینه کیږي او هغوئ نور هم علمي او ادبي چوپړ ته هڅول کیږي.

زما له نظره ښاغلي محمد طارق بزګر نه یوازي فرهنګي شخصیت دی بلکې یو کارنده ژورنالست او تکړه لیکوال هم دی. د دعوت جریدې لپاره ټولي سرمقالې د همدې بزګر صاحب په قلم لیکل سوی، چې د ده د پوهې او وطني مینې ښکارندویه بېلګه ئې ګڼلای سو.

ښاغلی محمدطارق بزګر نه یوازي د بیلابیلو مقالو په لیکلو سره بلکې دا ((۲۳)) کاله په پرله پسې توګه د افغانستان د ډله ایزو رسنیو په آسمان کښې د دعوت په نوم جریدې د خپرولو شمع روښانه ساتلې ده او له دې لارې ئې نه یوازي دا چې د خپلو لیکوالو او سیاسي څېړونکو نظریات تر هیوادوالو او نړیوالو رسولي، دا دي اوس ئې د ۱۹۹۷ کال را پدې خواد دعوت جریدې د نشرېدو تر څنګ دعوت ویب پاڼه پرانیستې او له دې لارې هم د افغانستان او نړۍ په ګوټ ګوټ کښې افغان لیکوالو ته د خپلو نظریاتو، علمي او ادبي لیکنو د نشر پوره امکانات برابر کړي دي.

ماته رامعلومه ده چې په بهر کې د یوې چاپي رسنۍ د کار پرمخ بېول څومره ستونزمن کار دی، خو ویاړ ئې پدې کښې دی چې د همدې رسنۍ په مټ لیکوال او ولس یو د بل په حال خبرېږي. ماته د بزګر صاحب هڅې او تلاښونه له نږدې معلوم دي او د ده د دې فرهنګي چوپړ په ملي ارزښت پوهیږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دعوت پر ټنډه ليکل سوی چې مياشتنی خپرونه ده، خو زه به ورته ورځپاڼه پدې خاطر ووايم چې په دعوت کې خپاره شوی مطالب دومره عالي او بډاي وي چې په يوه او دوو مياشتو کي نه زړېږي.
زه زموږ ځوان نسل ته مشوره ورکوم چې هره ورځ دعوت ته مراجعه وکړي او له هغه سره په مشوره د هيواد او نړۍ په هکله نوي نظرونه، نېکي مشوري او معلومات ترلاسه کړل شي.
زه نه غواړم پدې ليکنه کښې چې د بزګر صاحب ژوندليک ته مې ډالۍ کړېده د دعوت جريدې پر فعاليت او ملي ادبي ارزښت باندي ډېري خبري وليکم. دومره غواړم څرګنده کړم چې دعوت اوس يوازي داسي خپرونه نه ده چې د ملي کلتور او ثقافت ساتلو او ادبياتو په پياوړتيا کښي وياړلئ ځای لري، بلکې د افغان قلموالو په بې ساري مرستي د افغانستان د سياسي، اقتصادي، فرهنګي او ټولنيزو پېښو د څو کلن تاريخ په کتابتون او أرشيف او د ورځنيو مسائيلو په اړوند د افغان ولس د نظرياتو او عقايدو د انعکاس په ډګر بدل سوئ دی.
طارق صاحب د ليکوالۍ او فرهنګی چوپړ په برخه کې د قلم چلولو تر څنګ د افغانستان د سياسي حالاتو په اړوند هم د ننداره کوونکی په توګه ندی پاته سوی. د خپل ژوند د امکاناتو په چوکاټ کښي د ملي ګټو او هيوادوالو د هوسا او بسيا ژوند راوستو لپاره هم د فرهنګی ژوند د امکاناتو په چوکاټ کښي تلاښونه کړې دي او پر دې لار تر اوسه هم روان دی؛ څکه خو ئې د افغانستان په اړوند په ټولو هغو کنفرانسو او غونډو کې چې په اروپايي هيوادو کښي جوړ سوی، فعاله برخه اخيستې؛ په کومو کې چې د ګډون حق او بلنه ورکړه سوې ده. همدا ډول ئې د اروپا په مختلفو هيوادو کې د فرهنګی ټولنو په نوښت علمی او څېړنيزو کنفرانسونو، سمينارونو او غونډو کې هم فعاله برخه اخيستنې ده. دا خو لا پرېږده چې دا ۲۳ کاله د کډوالۍ د ژوندله ټولو کړاونو او سرګردانيو سره د دعوت جريدې او دعوت ويبپاڼې د خپرېدو تر څنګ دا دی اوس د يوه پښتو ژبې تلوېزيونی چينل د جوړېدو لپاره شپه او ورځ نه ستړې کېدونکی تلاښونه کوي.
زه محمدطارق صاحب ته پدې وطنی او ملي فرهنګی چوپړ کښي د لازياتو برياو په غوښتلو سره خپلې تبصرې لمځی رانغاړم او غواړم درنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوستونکو ته په لنډو ټکو کښې د دوي دغه فرهنګی چوپړ دبڼ د مالیار، تکړه لیکوال او ژورنالست وروپیژنم.
زیږېدنه، یا دې نړۍ ته سترګې غړول:
د پښتو ژبې دغه پېژندل سوې څیره او ژورنالیست محمد طارق بزګر له نن څخه پوره ۴۵ کاله پخوا دې نړۍ ته په ۱۳۴۵لمریز کال د کنړ ولایت د نرنګ ولسوالۍ اوسېدونکی ارواښاد عبدالقیوم بزګر په یوه منوره او متدینه کورنۍ کښې دنیا ته سترګې غړولې دي.
ارواښاد عبدالقیوم بزګر د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی نه تر فارغېدو وروسته د ظاهر شاه او داوودخان په رژیمونو کښې مختلفې دولتي دندو په کار ګمارل سوئ دي او هغه ئې په پوره امانتدارۍ او صداقت سرته رسولې دي.
ښاغلي طارق بزګر لومړنۍ او منځنۍ زده کړې د کابل ښار په مختلفو ښوونځیو کښې سرته رسولې دي. نوموړی لا د کابل ښار د نادریې لیسې په یولسم ټولګی کښې په زده کړې مصروف و چې دی پر افغانستان د شوروي اتحاد د یرغل په وړاندې د مخالفت له مخې په ۱۹۸۰ کې له کابل نه د پېښور په لور هیواد پرېښېدو ته مجبور سو؛ په داسې حال کې چې کورنۍ لا په کابل کې اوسیده.
د نوموړی په وینا هلته هم د کورنۍ لخوا ورته تل د زده کړو سپارښتنه او هڅول کیده، څکه خوئې عالي تحصیلات د پېښور په اسلامیه کالج او د پېښور پوهنتون نه په سیاسي علومو او اسلامیاتو په برخه کښې عالي او مسلکي تحصیلات په برۍ پای ته ورسول.
په کوزه پښتونخوا کښې تر اته کاله ژوندکولو وروسته په ۱۹۸۸ ز کال د یوازې د ناروی هیواد ته رامهاجر سو. د هغه کره معلوماتو له مخې چې په ناروی کښې ئې د ښاغلی طارق بزګر په اړه لرم دلته ئې هم د ناروي دلوړو تحصیلاتو په موسسه کښې (Bodø High School Norway) انترنیتی ژورنالیزم ولوست او تر هغه وروسته ئې دکانبرن (Canburne University) په پوهنتون کې د ژورنالیزم په برخه کښې تحصیل کړی او تر اوسه په زده کړو بوخت او وایي چې تر څو ژوندی وی زه به تل یو زده کوونکی یم.
لیکوالي او فرهنګی چوپړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بزګر صاحب وايي لمړۍ ځل مې په ۱۹۸۲ ز کال پېښور کې د کډوالۍ د ژوند په شرايطو کښې د مقالوپه ليکلو پيل وکړ چې تر ۱۹۸۸ ز کال پورې د افغانستان او نړۍ په مختلفو رسنيو کښې په پښتو، دری، اردو او عربی ژبو خپرې شوې دي. طبيعی ده چې تر اوسه ئې له نېکه مرغه د قلم رنګ نه دئ وچ سوی او ګوتې ئې د قلم ښوروڵو او ماغزه يې د تحليل او مسائيلو د څېړلو پوره او غښتلئ توان لري. پر دې خداي ورکړې استعداد دې نور هم برکت وي.

د دې هڅاند ليکوال او له هيواد سره مينه ناک ژورناليست د ليکنو تنده پرديو رسنيو نسواى ماتولاي. همدا دليل وو چې پس له ډېر زيار او زحمت نه ئې پخپله د يوې چاپي رسنۍ ((دعوت)) په نوم مهالنۍ خپرونې چې بيا وروسته په جريده بدله سوه په خپرېدو لاس پوري کړ. دعوت دا ((۲۳)) کاله په خپلو ((۲۳۰)) خپرو شوو ګڼو کښې چې د نړۍ تر پنځوسو هيوادو پورې رسيږي، افغان ولس ته د خپل هيواد او ټاټوبي سره مينې او محبت د د ې ټاټوبي اوسېدونکو ته د انساني چوپړ، په هيواد کې د هوسا، بسيا او دموکراتيکې ټولنې د جوړېدو لپاره د ملي، علمي، سياسي، ادبي او فرهنګی رښتياني او ګټور چوپړ دعوت ورکړی. دې خپرونې هيڅ کله خپل نظر او عقيده پر لوستونکو او د هيواد سياسي، ټولنيز او فرهنګی بهير پر مينه والو نده تپلې، بلکې د خپل نظر د څرګندولو تر څنګ ئې تل د افغانستان د مختلفو سياسي، علمي، فرهنګی او مذهبي څېرو نظريات او عقايد تر خپلو لوستونکو او مينه والو پوري رسولي دي.

دعوت خپرونې او دعوت ويبپاڼه کښې د ورليږل سوو ليکنو او مطالبو خپرولو مسووليت د محمدطارق بزګر پر غاړه دی، خو په دعوت جريده اودعوت ويبپاڼه کښې د نظرياتوخپرول او په خپلو نظرياتو افغان ولس خبرول د هر ليکوال او د عوت قلمی همکار دنده او مسئوليت دی. اړينه ئې بولم څرګنده کړم چې د څو کالو راپدې خوا دعوت جريده په پښتو، دري، انګليسي اوناروېري ژبو ليکنې خپروي.

د دعوت جريدې او دعوت ويبپاڼې د ۲۳ کلن علمي او ادبي چوپړ ارزونې په اړوند، زه يوازې د دې نشراتي ارګانو د قلمي همکارانو او لوستونکو دڅو دوستانو د ليکنو او پېرزوينو څو ټکی د بېلګې په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



را اخلم، تر څو درانه لوستونکي د دې نشراتي ارګانو او خپله ښاغلی بزګر صاحب د ژورنالستيک او فرهنګی خدمت د ارزښت او رول په هکله تر يوه بريده معلومات پيدا کړي.

ښاغلی ډاکټرصاحب نبي مصداق ليکي:

تاسو د ډيرو اقتصادي ستونزو سره سره دعوت وچلولو او د خوښي ځای دی چې ځان لپاره مو د افغانستان په مطبوعاتو کې د تل لپاره نيک نوم وګټلو. اوس چې هماغې جريدې تر څنګ ډير اصلاح شوی او ښايسته ويب پاڼه هم پر مخ بیایې ډير د خوشالي او افتخار ځای دی. ځکه مونږ دا دی درې لسيزې کيږي چې د نړۍ په هر ګوټ کې خواره شوی يؤ. دعوت جريدې ته د انتظار پر ځای، د ويب پاڼې له لارې د افغانستان په پيښو هره ورځ خبريږو.

زموږ بل د غښتلي قلم څښتن استاد صباح صاحب دعوت ارزونه کړې وايي:

نشريهء دعوت به مثابهء يک نشريهء ملی و وطنی در امر اطلاع رسانی و آگاهی عمومی، کار های نهايت مفيد و ارزنده ای را انجام داده است.

تکړه ليکوال او ژباړونکي رحمت آريا صاحب د استاد صباح سره همغږې لري ليکي:

دعوت د خپلې ناپيلې او بې پرې تګلارې پر بنسټ د افغاني- پښتني دود او پښت د رغښت لپاره د خپلو نه ستړي کېدونکو هلو ځلو له لارې پياوړې لاس ته راوړنې لري او وياړ يې د افغانانو د ټولنيزو فرهنګي بنسټونو پرځلانده تندي د ځلانده ستوري په توګه ځليږي.

هره لاره ځانته لوړې او ژورې لري، په ځانګړې توګه د افغانستان ناورين ځپلي ټولنه چې د ټولنيز ژوند هرګوټ يې د درو تېرو لسېزو خونړيو جګړو په ترخ کې په ژورو ګړنګونو اوښتی دی.

جګړې نه يوازې زموږ مادي شتمنۍ لوټ کړې، بلکه زموږ معنوي ارزښتونه يې را دړې وړې کړل. نيواکګرو او ښکيلاکګرو ځواکونو د دغې ټولنې هره برخه ونړولهؤ خو د ډيرې خواشينۍ ځای دا دی چې دغه نړونه نه يوازې پرديو وکړه، بلکه يو شمير ککړو افغان لاسونو هم پرديو ته په چوپړ کې د دغې نړونې پر اور دومره تيل ور توی کړل چې ان پردې په خپله ورته هک پک پاتې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرگوره! د دعوت ویبپاڼه یوه له هغو رغښتګرو زړه سواندو لاسونو څخه ده چې د دغې ورانۍ په بیا جوړونه کې شپه او ورځ نوښتګرې خولې تویوي.
په وروستیو وختونو کې د دعوت ویبپاڼې انځوریزه مخبڼه هم په نوې بڼې راواوښتله او د پخوانۍ مخبڼې په پرتله یې لا ښکلا وموندله.
کاندیدای اکادمیسین او تاریخ پوه محمداعظم سیستانی صاحب هم د دعوت ستاینه کوي وايي:
دعوت با چاپ، نشر و توزیع ۲۱۱ شماره، واقعاً رسالت بزرگ ملی و فرهنگی خود را در جهت آگاهی دادن و آگاه ساختن هموطنان خود از تازه ترین تحولات اجتماعی و سیاسی متعلق به کشور جنگ زدهء افغانستان، به دوش گرفته و تا آن جائی که من می بینم، این رسالت را به نحو تحسین برانگیزی ایفا کرده و می کند.
ښاغلی پوهاند دوکتور مجاوراحمدزیار صاحب د دعوت دشلمې کالیزې په مناسبت خپل لیږل سوی پیغام کښې لیکي:
زه پر خپل وار د دغې ټولمنلي مهالنۍ شلمه کالیزه ګران او هڅاند رسنوال دوست محمد طارق بزګر ته نیکمرغه او ښه وایم. ټولمنلتیایې تر هرڅه له مخه په دې دوو ټکوکې نغښتې چې یوخوایې د درو خپرنیو (پښتو، پارسي او انګلیسي) ژبو په کارونه د قلمي همکارانو او لوستونکو کړۍ ښه ترا غځولې او بل یې له ټولو رسنیزو اړونو سره سم هرې اندپوهې او لیدتوګې ته خپله غېږ تل پرانېستې پرې ایښې ده. په دې توګه یې د هغو لنډ اندو بنسټپالو او ښلتونپالو د بېځایه نیوکو پلمه له منځه وړې چې ګڼه تاریخي هېواد او هېوادوال د خپلو ناولو سیاسي، اندپوهیزو او ژبتوکمیزو او بیا د بهرنیو بادارانو له ګټو وټو ځاروي.
د ژوند په داسي ناخوالو کې یې ډیر کم خلک شل کړي، خو ها د صالح محمد صالح صاحب خبره ستاسو دعوت ستاسو په افغاني همت او د پښتو او وطن سره د بې دریغه مینې او محبت په احساس سره دا دي شل کړه.
مطبوعاتي کار او دیوې ملي خپروني پرمخ بېول هغه هم د غرب په لالهانده ژوند او د وطن په داسي وینو لړلې، لړزانده او د رنګونو په بازار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د زړه خوږ غواړي چې څوک دي شل کاله ور باندي ووهي او ځان ته لوی ویاړ تر لاسه کړي.

زموږ پیاوړی لیکوال په استرالیاکي مېشت افغان ښاغلي هدایت الله هدایت صاحب، خپله ارزونه پدې ښه زموږ او تاسو سره شریکوي:

محترم بزگر صاحب!

تازه ستاسو د دعوت ویبپاڼه هم د شکل او محتوی د لحاظه ډېره ښکلې او بډایه سوې او په افغاني حلقو کي یوه مطرح او درنه پاڼه گرځېدلې ده.

تاسو گران د دعوت په خپرونو کې د بیان و آزادی او وطني رسالت ته مو ښه پوره میدان ورکړی دی چې دا کار ستاسو د پراخ نظر او وطنپالني استازیتوب کوي. هغه باور او درناوی چې تاسو گران یې و ورځنیو ملي غوښتنو او پښتنو ته کوی او هغه واقعیتونه چي تاسویې په دعوت کي منعکسوی، نو ستاسو پاڼه یې د زیات قدر وړ گرځولې ده.

د کابل پوهنتون استاد کاظم بیمار صاحب لیکي:

د دعوت جریده او بریښنا پاڼه د تاسیس د ورځي څخه بیا تر نن پورې د گران هیواد افغانستان او هیوادوالو په خدمت او چوپړ کې ده. او په دغه لیار کي مخ په وړاندي روانه ده او د حقایقو په نشر-او خپرولو کي يې هیڅ وخت دریغ نه دی کړی او د هیچا او هیڅ قدرت تر تاثیر لاندي نده تللي او هیڅکله یې ځان په ژبني، قبیلوي، مذهبي او سمتي تعصبونو او تبعیضونو ندی ککړ کړی.

دعوت، بیطرفه جریده او بریښنا پاڼه ده؛ مگر بې غرضه نده، ځکه چې د خپل هیواد د ملي مصالحو او د وطن د تمامیت مسوولیت په غاړه لري. دغه غرض ته د رسیدلو لپاره یې تل ملي خیرې او ملي مبارز شخصیتونه را دعوت کړي چې د وطن د ملي مصالحو او ملي گټو څخه په دفاع قلمي مبارزې ته پرله پسې دوام ورکړي.

له امریکانه استاد قدرت الله فرهاد صاحب بیا وایي:

دعوت ربښتیا شل کلن ښکاري. له دعوت سره زما اړیکه وه او ده چیرته چه د پښتو شمع بله شي، هلته پتنگان وي.

د افغانستان له پلازمېني کابل ښارنه ښاغلی احمد فرزان صاحب لیکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو په رسنيز بهير کی دعوت ځانګړی ځای لري. ښايی د اوسنيو ټولو پښتو خپرونو او خپرنيزو بنسټونو سرلاری يی وګڼو. زه د زړه له تله خوښ يم چي زموږ فرهنګي او قلمی ملګري په دی توانيدلي چي د خپلي ژبی لپاره يی د چوپړ دونه اوږد واټن طی کړی او لايی هم ورته ملا تړلي چي تر منزل مقصود پوري ځان ورسوي.

ښاغلی عمر پاڅون ليکي:

زه دعوت سره د ۱۹۸۸ کال راهيسي په اړيکه کي يم. دعوت د لاس په ليکلو د خپل منزل په لور رهي شو. ډير زر يې ټايپ ته لار ومیندله چې په ډير لنډ وخت کي کمپيوټر ته ننوت چي چاپي جريدې سره يې يوه د دعوت ويبپاڼه د ۱۹۹۷ نه هم خلاصه کړه. اوس دعوت يوه جريده نه بلکه يوه ميډيا ده چي نن په زرګونو لوستونکي لري.

دعوت نه يواځې افغانانو ته په پښتو او دری، بلکه بهرنيانو ته هم په انګليسي او ناروېژي ژبو په زړه پورې ليکنې وړاندې کوي. همدا سبب دی چې ډير بهرنی لوستونکی او ليکونکی لری.

انجنير فضل احمد افغان له کاناډا نه پدې هکله خپل نظر د لوستونکوسره پدې ښه شريکوي:

زه وياړم چه د دعوت د ويبپاڼی سره اړيکي لرم او ښی زده کړی ورنه کوم. زه تاسی ګران او قدرمند ورور ته چې خپلې شپې او ورځی مو د ګرانو وطنوالو په چوپړ کی د دين، سولې، آزادۍ او استقلال له پاره وقف کړی دی او د وطنوالو له پاره زحمت باسۍ د پاک الله نه ستاسی نور بری غواړم.

محمد اياز نوری صاحب له هالنډ نه د انجنير فضل احمد افغان دخبرو پخلی کوي وايي:

د دعوت نشرات تل د ملت په دفاع او د حقيقت په ويلو استوار وو او دي. قلمي همکاران يې هم ټول افغان لوړ ملي او د لوړ انساني احساس درلودونکي افغانان پاتې شوي دي. او البته کله چې يوه رسنۍ د يوه واقعاً ملي مبارز شخصيت لکه محمد طارق بزګر صاحب له خوا اداره کيږي، معلومه ده چې هلته ملي خاين ور نشي ورټکولای.

د دعوت جريدې او دعوت ويبپاڼې د ارزونې کړدۍ لمځۍ د ګران ځوان او تکړه ژورنالست صالح محمد صالح پدې ټکو رانغاړم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي: بزګرصاحب! دعوت شل کړه. هغه وړانـدي ليکـي، دعـوت هغـه خپرونه ده چې په تېرو دوو لسيزو کې يې د افغان ولس ملګرتيا کړې او که نورو دې ولس ته ټوپک او ټانـک ډالـۍ کـړي دي، خپرونـې ورتـه پوهـه، مينـه او ورورولي ورکـړې ده. د نېکمرغـۍ ځـای دی چـې دې خپروني دوې لسيزې عمر وکړ. ډېرې خپروني خو داسې دي چې تر يو څو ګڼو وروسته يې بيا څرک نه لګېږي، خو دعوت برېښـنايي نـړۍ تـه هم لار خلاصه کړه او د نړۍ هر ګوټ ته يې ځان ورساوه، چـې پـه دې برخه کې د ښاغلي محمد طارق بزګر هڅې د ستاينې وړ دي؛ چـې پـه دومره بوخت ژونـد کـې يـې شـپه او ورځ پـر ځـان يـوه کـړې او دغـې خپروني ته يې ژوند ورکړی.
غواړم دا خبره وکړم چې ماد دعوت جريدې او ويبپاڼې په اړوند د ځينو پوهانو نظرياتو ته يوه ځغلنده کتنه پدې خاطر وکـړه چـې دغـه نظرونـه پخپله د ښاغلي طارق بزګر د لنډ ژوند اوږد داستان بيـانوي، پـه لوسـتلو ئې لوستونکی ته له ورايه څرګندېږي چې ولـې مـوږ د ده قـدر کـوو او ولې ځوان نسل دې ته رابولوچې د خپلو فرهنګيـانو، اديبـانو، پوهـانو او عالمانو په نظرياتو او هڅو ځان خبر کړي.
په علمي غونډو او سيمينارونو کې برخه اخيستل:
لکه څرنګه چـې د ليکنـې پـه پيـل کښـې مـې اشـاره ورتـه وکـړه، بزګـر صاحب پر هغو کنفرانسونو او غونډو سربېره چې په اروپـايي هيـوادو او امريکا کښې د افغاني فرهنګی ټولنو په نوښت جوړي سوې په يوشـمير نورو هغـو نړيوالـو کنفرانسـونو کښـې هـم برخـه اخيسـتې؛ کـوم چـې د دولتونو او نړيوالو سازمانونو لخوا جوړ سوي دي. د بېلګې په توګه:
۱/ د ۲۰۰۶ کال د اپريل پر ۲۵ او۲٦ د ((اکو سيستم د بوټو څخـه ونـه د ساينس نظر او چلنجونه او د اکو سيستم او د غربـت مخنيـوی)) ترنامـه لاندې د ملګروملتو د سازمان لخوا علمي کنفرانس او ورکشـاپ چـې د ډنمـارک هيـواد د کوپنهـاګن پـه ښـارکې د دې هيـواد د بهرنيـو چـارو وزارت په مټ جوړ سوی وو.
۲/ د ۲۰۰۷ کال د جون له دوهمې نه د جون تر څلرمـې پـورې د قـانون اينښـودونکو ټولنـو لـه خـوا د G8 (۸ سـتر صـنعتی هيوادونـه) اجنـډا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګلونو په نه وهلو سره د ګازونو د تولید کمولو اجندا ترنامه لانـدي د برلین په ښار د المان هېواد په پارلمان (بوندېسداګ) کې.
۳/ د ۲۰۰۷ کال اکتوبر ۲۹ څخه د نومبر تر ۲ دوهمې پورې، د ناروې د تروندهایم ښار کې د ملګرو ملتونو لخوا کنفرانس ((پـه نـړۍ کـې ټـول ژوندي موجودات او په ځانګړې توګه د هغوی ژوند کول او اوسیدل)) (۲۰۱۰ او تر هغـه وروسـته). پـه دې کنفـرانس کښـې د ۸۰ هیوادونـو د چاپیریال ساتني لوړپوړو چارواکو برخه درلوده.
۴/ د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر له ۱۳ څخه تر ۱۹ پورې د پولنډ په ګدانسک ښارکې د میډیا ۲۴ لخوا چې مرکز یې په سویس کې دی، د فنلند هیواد د بهرنیـو چـارو وزارت پـه مـالي مرسـته د ((د اوبـو د بیځایـه مصـرف مخنیوي)) ترنامـه لانـدي ورکشـاپ او کـانفرانس چـې د ۱۷ هیوادونـو ژورنالسـتان وربلـل شـوی وو او د ژورنالسـتانو د شخصـې روزنـې او معلوماتو له پاره جوړشوی وو.
۵/ د ۲۰۱۰ فبروري له لمړۍ نه تر ۵ نیټې پورې د ملګروملتو او د ناروې د حکومت له لوری د ((ټولو ژوندي موجوداتـو سـاتنه او د دوامـدارې پرمختیا له پاره کارکول)) تر نامه لاندي د نـاروي هیـواد تروندهایم پـه ښار کې علمي کنفرانس.
د دې پورته یادو شویو کنفرانسونو تر څنګ په ډېرو افغاني غونډو کـې چې په امریکا، انګلستان، جرمني، نـاروې، سـویډن او نوروهیـوادو کـې جوړې سوي، فعاله برخه اخیستې ده.
د بزګرصاحب سره نړیوالو راډیوګانو لکه بی بـی سـی پښـتو او فارسـی، امریکا غږ پښتو او دری، ازادی رادیو، د فرانسې نړیوالـه راډیـو فارسـی، المان غږ دویچـې ویلـې پښـتو رادیـو سره پـه سـلګونو سـیاسي او ادبي مرکې کړې دي. همدا ډول د بزګر صـاحب سره د افغانسـتان د ورځنیـو سیاسي، پوځی حالاتو په اړوند ډیـرې مرکـې سـوي چـې پـه نـارویژي اخبـارونو، راډیـو او تلویزیونونـو برسـیره پـه یـو شـمیر افغـاني مجلـو، اخبارونو او ویبپاڼو کې هم پر خپل وخت خپرې شوی دی.
د ښاغلی محمد طارق بزګر مورنۍ ژبه پښتو ده، خو هغه په دري، اردو، انګلیسي، نارویژي باندي پـوره پـوهیږي؛ خـود دې ژبـو ترڅنـګ یـوه اندازه په عربي ژبه هم پوهیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ز ماد معلوماتو له مخې نوموړي د افغانستان د مختلفو اړخونو په اړه د ۵۰۰۰ په شاوخوا کښې په پښتو، دری، اردو، انگلیس او ناروېژي ژبو کتابونه او مجلې په خپل کورني کتابتون کې لري. بزگر صاحب وايي د کتابونو ټولولوسره له ډېر پخوا مينه او علاقه لري. همدا ډول په زرگونو انځورونو، ويډيوئي کسټونو، سی ډي او کسټونو چې په ټولوکښې د افغانستان په اړوند معلومات راټول سوی د بزگرصاحب د کورنۍ کتابتون يوه بله برخه جوړوي.

د دغو فرهنگي فعاليتونو په څنگ کې پر څو کتابونو کار کوي چې ځيني يې تقريباً بشپړ او يو شمير به ئې وروسته د چاپ جوگه شي.

د بېلگې په توگه:

۱/ ناروېژی پښتو ډيکشنری چې تر اوسه ((۲۵۰۰۰)) لغتونه پکښې راغونډ شوی دی.

۲/ پښتو ((۱۰۰۰)) لنډۍ د انگليسي له ژباړې او تشريح سره.

۳/ پښتو ((۱۰۰۰)) متلونه د انگليسي له ژباړې سره.

۴/ د دعوت د خپروشوو ليکنو او مرکو کتابونه د کلکسيون په بڼه.

دولتی دندې:

بزگر صاحب زما ديوې پوښتنې په ځواب کي راته وويل: اوس د ناروې د دولتي ټلويزيون (nrk) سره په ځينو پروژو کې برخه اخلم او کار ورسره کوم. د دې تر څنگ د ناروې د پوهنې د وزارت سره د مفتش په توگه دنده لرم؛ او که مې وخت درلود نو د تلیفون له لياري کله ناکله ترجمه هم کوي.

ستاينليکونه:

بزگر صاحب دخپل فرهنگی چوپړ په درشل کښې د امريکا په شمالي کليفورنيا کې افغاني کلتوري ټولنه، په جرمني کښې د افغانستان د کلتوری ودې ټولنې، په امريکاکښې نور ټلويزيون او سويډن د مالمو په ښارکښې د دوستۍ فرهنگی ټولنې له خوا په ستاينليکونو سره نازول سوی او درناوی ئې سوئ دي.

کورنۍ ژوند:

ښاغلي بزگر د يوې پوښتنې په جواب کښې راته وويل چي درې ورونه او څلور خويندې لرم. هغه زياته کړه دوه ورونه مې ډاکتران او يو بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروور مې د عربی ژبې او ادبیاتو څانګه کښې لوړې زده کړې لري او پدې برخه کې کارکوي.
د افغاني دود او دستور له مخې مې د بزګر صاحب د پتمنو خوینډو د ژوند د څرنګوالي په هکله پوښتنه ونکړه. ډاډه یم چې هغوئ هم د تعلیم په ترلاسه کېدو سره اوس د خپل بخت په کور کښې خوښ او ارام پتمن ژوند ولري.
بزګر صاحب واده کړی او د ګډ کورني نېکمرغه ژوند ثمره ئې نام خداي څلور اولادونه دي چې مشر زوی ئې سباوون ۱۵کلن، لور یې اغلې مینه جانه ۱۴ کلنه، اباسین جان ۱۰کلن او کشری زوی ئې سمون جان یونیم کلن دی.
ماته له بزګر صاحب سره په اړیکو کښې دا څرګنده سوې چې بزګر یو پټ خولی، مؤدب انسان په توګه هیڅکله د چا په خبرو کې بې واره نه دی ورګډ سوی. چې چا پوښتلئ نه وی په مجلسونو کې پټه خوله ناست وي او د نورو خبرې په ډېر دقت سره اوري. که څوک پوښتنه ترېنه وکړي په ډېرو ساده او خوږو کلیمو جواب وایي. یوخوږ مجلسه سړی دي.
هغه یوله هغو علمي او فرهنګی څېرو څخه دی کوم چې د قومي بې اتفاقیو، ژبني، مذهبی او منطقوي توپیر سره مخالف وي. هغه تل په ټولو هغو غونډو کې چې ماهم یوځاي ورسره ګډون کړی، د یوه درانه او صابر نظر خاوندپه توګه پاته سوی او د نوبت ترلاسه کېدو په وخت کښې ئې په ډېرو ادبیانه جملو او له فرهنګی اخلاقو نه په ډکې روحیې سره د اړونده مسلې په هکله خپل نظر وړاندي کړی او له هغه څخه ئې د منطق په توان دفاع کړې ده. هېڅ وخت مې نه په یادېږي چې د یوشمیر په اصطلاح پوهانو او لیکوالو په څیر دې دیوال ته سرټمبه کړی وي او خپل نظر دې پر اورېدونکو په زور او یا د ترېبون له امکاناتو څخه په استفادې سره په چاومني. په یوه خبره د زښتو درنو عالي اخلاقو څښتن په توګه پر موږ ټولو هغو چې پېژنویې د یوه درانه شخصیت په توګه ګران او د قدر وړ شخصیت دی؛ ځکه خو پدې ډاډه یم چې بزګر صاحب به زموږ په ټولنه کښې دیوې وتلې او زړه وري فرهنګی څېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په توګه د تل لپاره د افغان ولس په څنګ کښي د درناوي وړ شخصيت پاته وي.

ښاغلي بزګر د خپل نه ستړي کېدونکي زيار او زحمت پـه پايلـه کښـي زيات علمی، ادبي او فرهنګي اثار د دعوت خپرونـي لـه لاري زمـوږ د جګړه ځپلی هيواد راتلونکو نسلونو ته ديوې علمـي او ادبي پـانګي پـه توګه په پنځوسو هيوادو کې د افغانسـتان د اوسـنيو او راتلونکـو حـالاتو مينه والو کورونو ته رسولي دي، خو دا په ځوان نسل پوري اړه لري چې د دې پټې خزانې او زموږ د هيواد د ليکوالو او سياست پوهانو له معقولو نظرياتو او انديښنو نه څنګه او په کومه بڼه د هيواد د روښـانه راتلـونکې په موخه استفاده کوي.

دعوت ويبپاڼې اوس د افغان ولس په ځانګړې توګه زمو د پوره پوهاوی په موخه په يو ډير عـالي ابتکـار لاس پـوري کـړئ؛ هغـه دا چـې پـدې وروستيو کې زموږ د هيواد يو شمير پوهانو سره په دوامداره توګه مرکـې خپروي. زه پدې باور يم چې له دې لاري به دعوت وکولاي سي افغان ولس ته د دوي د پوهانو نظريات او وړانديزونه په ښه توګه ور ورسوي.

د هيواد پداسي نازکو شرايطو او ترينګلو حالاتوکې چې زمـوږ ولـس د يو سخت ازمون پر ډګر ولاړ دي، دا ملت د دوستی په جامه کښي د بېلا بيلـو زبرځواکـو د دښـمنيو او ډول ډول دسيسـو لـه سـختو سـېلابونو او توفـانونوسره مخـامخ دی، اړينـه ده چـې د هيـواد د داسي ځوانـو شخصيتونو درناوی وشې او هغوي د ټول افغانستان په ګټه نور هم مـلي چوپړ ته وهڅول سي.

زه ديوه افغان په توګـه د ځـوان نسـل سره د افغـاني مينـې او د دوئ پـه وړاندي د مسووليت په درکولو سره کوښښ کوم که تکرار هم وي دوي ته د ليکنو په وسيله ور په ياد کړم چې تاسو پيـاوړي پوهـان، ليکـوال او څېړونکي لرئ؛ د هغوئ عزت که بل څوک نـه کـوي، تاسـو ئي بايـد د خپلو عادي ساده او لږو امکاناتو په لرلوسره وکړئ. هغه دا چـې د دوي په وياړ او د دوي پر ليکل شوو اثارو باندې ځانونه پوه اوبيا د بحـث پـه نامه يو په بل پسې غونډې جوړي کړئ او پدې غونـډو کښـي دوي تـه بلنه ورکړئ او د دوئ نه وغواړئ چي ستاسو سره پر يـوه کمبلـه او يـوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوتره کښېني او تاسو په خپلو عالمانه او له تجربو نه ډکو خبرو او پیرزوینو ونازوي.

د خپل هیواد د عالمانو او پوهانو په وړاندې بې تفاوتي او نالوستوب به زمونږ ټولنه تر یوې بلې پېړۍ پورې هم د ګاونډیانو او نړیوالو د اقتصادي، سیاسي، ټولنیز او فرهنګی ستم او تیري لاندي وساتي.

په ګران او سوځېدلي افغانستان کښې د علم، پوهي او خپل منځی مینې او محبت زیاتېدو لورته د پیاوړو ګامونو د پورته کېدو اوخپل هیواد د هر خواخوږي او صادق قلموال، علمي او ادبي شخصیت د ستاینې او هڅونې په هیله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ریښتني شخصیت

محمد نقیب تره خیل

محمد طارق بزګر له تنکۍ ځواني پـدې بـاور وه چـې تفکـر د معرفـت او معرفت د هدایت او هدایت د رضایت، قناعت او د ریښتنی شخصیت تومنه ده. نو هغه د تفکر په قوت د پیسو ګټلو پر ځای د علم ګټـل خـوښ کـړل. معرفت هاغه د معنویت واټ ته هدایت کړ، هدایت هاغه راضي او قانع کړ، چې د ثروت او قدرت عمر لنډ او تنګ وي. او بل که د قـدرت پـه وخـت کې د شخص نفس مهار او خسي نه وي؟ نو بیا مستي او هوس زیږوي او له قدرت نه انحراف کوي چې له امله یې ظلم او استبداد زیږیږي.
هر څومره چې د ټولنې منوره او حاکمه طبقه ریاکاره، خودخـواه او جاطلبـه کیږي، بیا هم هغومره فتنه او فساد زیږوي، څنګـه چـې همداسـې پـه افغـان ټولنه کې وشول اولا هم کیږي. یو شمیر کسانو په دا ۴۰ کـالو کـې د هیـواد دننه او بهر په لس هـاوو ګوندونـه- تنظیمونـه پـه سـل هـاوو ادبي- فرهنګـي کولتوري ټولني د هیواد، اسلام، انسـان او قـوم پـالني ترنامـه لانـدي جـوړې کړی دي. خو هر هغه د ژمنو خلاف عمل وکړ، هغوئ د ثـروت، شـهرت او قدرت موندو په تمه همدا کولتوري او سیاسي دفترونه د اسلامیت، انسـانیت او قومیت پلورنې هټۍ ګرځولي. له همدې لاملـه د ارزښـتنو پلـورل د اکـثرو افغانانو عادت شوی. له ټـولنې حیـا کـډه شـوی او بېشرمـي پـه کـې معـاف شوی. همدا د ارزښتونو سـوداګر پـه جـبر او ظلـم ثـروت او قـدرت ترلاسـه کوي. بیا په ورته ډول قدرت ترې اخستل کیږي. د سلطنت له مرګ سره یې د شخصت مرګ جوخت وي.
دا منلې او عملي شوې وینا که انسان قدرت تـه پـه ګونـډو نشي- ثـروت تـه خامخا تسلیمیږي. بزګر هـم د ابـراهیم ابـن ادهـم غونـدې د خپـل مضـبوط ایمان پر باور او د نفسي سپېڅلتیا په قوت پورتنې وینا د خپل ځان په اړونـد باطله کړې.
ابن ادهم د بلخ سلطنت د علم د زده کړې او د انساني خدمت پـر مقصـد د مکې معظمې پر قصد پرېښود. ډېـر کلونـه وروسـته د بحـر پـه څنـډه ادهـم خپلې څېرې او شړېدلې جامې ګنډلې، پـر آس سـپورکس یـې تـر څنـګ تېریږي، ورته ځیر ګورې پېژني یې چې زه خو د دې سلطان یو وخت وزیـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وم. ورکښته کېږي او ادب یې کوي، ورته وايي اِې سلطانه! ولې دې بې هېڅه خپل سلطنت او عظمت پرېښود او ځان دې پدې مصیبت او مشقت اخته کړ. هغه ورله وایي، تر هغه سلطنت مې دا ډېر پراخ ښکلي او با قدرته دی، ابراهیم ستنه بحر ته گذاره وي، بیا غږ کوي، راکړه ستن مې، یو زر کبان له اوبو سرونه اوچتوي او د سرو زرو ستني په شونډو کې نیولي وي. وايي، نه، زه مې خپله ستن غواړم! شېبه وروسته هم هغه ستنه یو کب ورته له اوبو راباسي. بل ځل ابن ادهم د مکې په کوڅه کې قدم وهي، یو یهودي هلک له خپل سپي سره ورپسې په تعقیب کې وي، کله چې هاغه تم شي دا هلک هم تمېږي. خو څه وخت چې ابراهیم د ناستو کسانو خواته رسیږي، دا هلک پرې داسې غږ کوي: اې بوډا! دا ستا ږیره ښکلې ده، که زما د سپي لکۍ؟ هاغه ورته وايي زویه! که مې دا ږیره د خدای لپاره نه د ریا لپاره پرې اېښې وي او په ورځ د محشر زه په جهنم کې اوسم، نو د سپي لکۍ دې ښکلې ده او که په جنت کې یم بیا نو زما ږیره ښکلې ده، هلک ډومبې خجالتیږي، بیا ور درومي د هغه لاسونه ښکلوي او د شهادت کلمه وائي مسلمان کیږي.

بزگر صیب هم د ناروې په هستۍ او د ځوانۍ په مستۍ کې ثروت او قدرت دواړه د علم د زدکړې او ریښتني خدمت په نسبت بابېزه وګڼل. تر څنګ یې د حق په پلوۍ او د باطل پر ضد د دعوت ادبي اخلاقي او روزنیز سنګرجوړ کړ. یقیناً چې ډېرو هېواد والو به د دعوت په رڼا د حقیقت لار موندلې وي. د دعوت رسنۍ د بزګر ریښتینولي او یومخي اثباته وي چې د مکان، زمان او حالاتو تابع شوی ندي، نن هم خپل هدف ته هسې ژمن دي لکه ۳۰ کاله پخوا چې وه.

ابراهیم د ادهم اولادې ته د پلار میراثي سلطنت او ثروت بشپړه ورپرېښوول. د ادهم اولاد چې د شخصیت مشروعیت د سلطنت له درباره اخیستی وه. نو د سلطنت له بایللو سره جوخت بېشخصیته هم شول، خو ابراهیم چې یو سر او دوه غوږه نوم ورکې مکې ته راغلی وه، او د پوهې په رڼا د عقېدې په مضبوطتیا د نفس په سپېڅلتیا د مهره بانه او عادل زړه په لرولو یې خپل کوچني او لنډ عمره شخصیت ستر او تلپاتي کړ. د دې تر څنګ یې آن د کورني مړ شخصیت ژوندې وساته. د هر انسان د کار محصول د هغه د حقیقي شخصیت بنه ښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بزگر شخصیت دعـوت دي او دعـوت د پـوهې او کولتـور مرکـز نـن هـم ژوندی دي اوسبا به هم وي.

۱۴/۲/۲۰۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښاغلی طارق بزګر چې زه يې پيژنم

قدرت الله هېوادپال

زه ښاغلي بزګر له ډېر وړوکوالي پيژنم؛ هم مې استاد دی، هم لارښود او هم معنوي پلار.

ژوندي قومونه تل خپل نېکان هڅوي او درناوی يې کوي. افغانستان چې نن له کومو ستونزو او ننګونو تيريږي په داسې حال کې دي چې د قلم جهاد او غورځنګ د ټوپک او زور له غورځنګه لومړی ځای خپلوي، او ښاغلي بزګر د دې سنګر ډېر تکړه او سپيڅلي مبارز دی.

زه ښاغلي بزګر له ډېرې زمانې راپيژنم؛ هغه مې استاد دی، ځکه د ليکنې چم يې راښودلی دی او تل يې هڅولی يم. اوس هم چې کله په ټيليفون سره غږيږو، نو له کورني احوال وروسته په ډېره خوږه ژبه او اصطلاح راپوښتي چې په وطن کې څه حال دی؟ تل مې هڅوي چې يو څه وليکه. هيڅکله يې دا احساس نه دی راکړی چې زه نه پوهيږم يا دا څه چې دې ليکلي دي غلط يا اصلاح غواړي؛ ځکه د دوی علم او پوهې ته زه هيڅکله نشم رسيدلای او د دوی په وړاندې ليکنه به لکه لمر ته چې شمع ږدی، خو تل يې هڅولی يم. لارښود مې دی ځکه چې تل يې افغانستان لومړی ساتلی او هيڅکله د حکومتونو، خوځښتونو او اشخاصو له مفکورو نه دی اغېزمن شوی او دا درس يې راکړی چې بچيه! تل دا هېواد لومړی وګڼه. د اشخاصو او شخصي ګټو لپاره ملي ګټې مه قربانوه او معنوي پلار مې دی؛ ځکه چې پداسې حالاتو کې يې لاس راکړی چې ما پخپله هم خپل ښه او بد نه پېژندل او له خپل اولاد يې کم نه يم ګڼلی. زما په ښه تربيه او روزنه کې يې فعاله ونډه اخيستې ده.

افغانان تل په درانه خوب ويده وي؛ آن نن چې نړۍ ته سپوږمۍ لنډه ښکاري او د مريخ او نورو سيارو غمونو پسې يې راخيستی، موږ خپل کوچنی هېواد آرام نه کړای شو او له دريېمې برخې زيات نفوس مو بيسواده دی. له سياسي او ټولنيزو چارو ناخبره دی او هغوی چې خبر دي هم د پردو ببولالې وايي او ملت لدې خوب څخه راويښولو لپاره هم ډېر خلک نه ګرځي. هر چا چې هر وخت وس شوې يا يې لدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاورې پښې سپکې کړي او يا دلته د خپلو جيبونو په ډکولو دي؛ خو ملتونه تل د هغوی اتلو بچيانو ساتلي دي. زموږ د تاريخ يوه لنډه داده چې تل يې رزمي او جنګي اتلان نازولي دي، خو د قلم اتلان له پاملرنې پاتې دي. که امير کروړ دی، بايزيد روښان دی او آن نږدې سيد جمال الدين افغان، پر دې يو هم داسې مؤثق او تاريخي کتاب نشته چې ټولې پوښتنې ځواب کړي او موږ لدې وروسته بايد دا خلاوې ډکې کړو او ونازوو؛ هغوی چې د دې ملت راويښولو لپاره نه ستړې کيدونکې هلې ځلې کوي.

له کومې ورځې چې مې ليک لوست زده کړې، له هغې ورځې راهيسې دعوت لولم او دوامداره لوستونکی يې يم. تل يې خپله بېطرفي ساتلې ده. د ملت غم يې خوړلی دی. په نننی سياسي چاپيريال کې چې نړيوالو د افغانانو سياسي مفکورو او تبصرو ککړولو او ځان ته راړولو په خاطر په سلګونه راډيوګانې، ټلويزونونه او خپروني پيل کړي دي، له هر وخت زيات د بېطرفه او ملي خپرونو ضرورت ډېر احساسيږي.

ښاغلي بزګر مې خپل دی. د کورنۍ غړې مو دی او زه ويارم چې په کورنۍ کې داسې ننګيالي لرو. زه نه غواړم چې ووايم څه خپلوي سره لرو؛ ځکه دا به لوستونکو ته يو څه شخصي او کورنۍ معاملې ښکاره شي، خو دومره وايم، چې زه نن څه يم په هغې کې د بزګر صاحب ډېره لويه ونډه ده، او د ژوند تر اخيري سلګۍ به يې زه احسانمند او منندوی واوسم، او دلته زما له ليکنې هدف هم شخصي درناوی او مننه ده، او هم د دې ملت د يوه خوار غريب بچي په حيث مننه چې دې ملت د مفکورو په روښانولو کې يې نه ستړې کيدونکې هلې ځلې کړي دي.

له ما پرته زه ښه باور لرم چې ښاغلي بزګر نور ډېر ځوانان روزلي دي او ورسره يې معنوي مرسته کړې ده؛ ورسره يې خپله پوهه او احساس راتلونکي نسل ته ليږدولي دی، چې ښه بيلګه يې د ځوانانو دې ټولنې دا احساس دی چې خپل ننګيالي ونازوي.

په موږ کې خود خواهي او د بخل مرض ډېر دی، خو د بزګر صاحب دا کمال مې هم خوښ دی چې نور هڅوي را ميدان ته شي او پخپله ورته يوازې آسانتياوې برابروي او شاته يې دريږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې ورته لاډېرې برياوې غواړم، او ښه متيقن يم چې د علم او پوهې هغه صدقه جاريه چې دوی يې درويشت کاله وړاندې تهداب ايښې وو، د ډېرو ذهنونه روښان کړي او د ځان لپاره يې د ثواب او سرلوړی يوه دوامداره او تلپاتې سرچينه پريښې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډېر ګران ښاغلی د قدر وړ بزګر صاحب!

محمد سرور وکيلي

زما د مينې او وروږګلوۍ ډک سلامونه او پېرزوني ومنۍ!
د دعوت خپرونه ۲۳ کلنه سوه. زما ښه ياد دي،چي له دې خپره وني سره سم په ډېرو بهرنيو هېوادو کي نورو خپرونو هم پيل وکړ، خو ډېرو يې سقوط وکړ او ځينو يې چي شاته ګوندي پلوي اقتصادي تکيه لرله
د سياست له مخي د هغي سياسي تکيي څخه يې مالي مرسته ترلاسه کول او ترلاسه کوي يې؛ نو بېخي ډېر لږ يې پاته دي؛ خو د دعوت خپرونه يوازي او يوازي ستاسو په عالي ابتکار، زيار او مالي لګښت مخته تللې او تر اوسه لاهم مخ ته ځي.
ماچي د دعوت په خوږې خپرونه کي کوم شی ليکه نو مي تل پر پښتنو ليکوالانو د اړغ کاوه، چي د دعوت له خوږې خپروني سره مرسته وکړی، ځکه دا مالي بار پريوه کس باندي ډېر دی او دا خپرونه زموږ ده؛ خو تاسو د دغو ټولو ربړونو او ستونزو سره سره دا خپرونه چي نن او سبا ۲۳ کلنه کېږي، پخپل پښتني غيرت او ژورناليستی واک په يوازي سر تر دغه ځايه را ورسوله. تاسو رښتيا هم چي د قدر وړ او د ستايني وړ ياست. خدای(ج) دي له هري بلا، افت، ناروغی او خواری نه وژغوره. امين!

په ادبي درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محمد طارق بزگر ته!

امرالدین سرحد

منډې یې وهلی یو پښتون په کلی کور کښې
دا یې وویل: چی لر و بر سوځی په اور کښې
ماتری اوریدلي په غوږو می یو خبر دی
نوی راختلی ښکلی ستوری لکه لمر دی
راشی زمونږ انګړ ته په جرګو په مرکو شو
موټې شو قوت شو ژر اوچت په خپلو پښو شو
ډیرو واوریدلي دا خبري خونده وري وې
لاره یې روښانه لر و بر یې دا منلي وې
خلکو ورته وویل مالومه دی نن لاره کړه
فکر دی کوه په ښو خبرو مونږه خوشاله کړه
دی مونږ ته بیان شو وویل: دا مې قسم دی
وینه کی ده مینه دغه ځان مې د وطن دی
دعا وشوه د خلکو چی «بزګر» دی ژر په کار شی
جوړ دی کړی «دعوت» چی ویجاړ کلی زمونږ ښار شی
خپلو غمځپلو ته خدمت، ضمیر مجبور کړ
ژوند د زمانی او حوادثو دئ مدیر کړ
اوس نو مونږه لولو د«عوت» د زړه کیسي
تیر شو یو لوی عمر په«بزګر» خوږي ترخي
تل دی د «دعوت» ډیوه روښانه وي
وړانګې یې تودي مخ یې ځلانده وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ستایش مردی که قلم را نفروخت!

(بزرگداشت جناب بزگر و رسانهء دعوت)

استاد کم باور کابلی

همرنگ زلال چشمه ساران
همزاد طراوت بهاران
روزنامه نگار با شهامت
مردی ز گرامی یادگاران
بر خرمن ناکسان چو آتش
توفنده چو موج آبشاران
دعوتگر دل به رستگاری
پاکیزه و ناب همچو باران!
کم زاد خجسته ای چو «طارق»
گیتی، به فراز روزگاران!
سروش، اثر خزان نه بیند!
آزاده گی اش، زیان نه بیند

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ګراني ملي فرهنګي څېرې طارق بزګر نمانځغونډې ته زما پېرزوینې

پوهنمل رحمت څواکمن

د لوی خدای په نامه

خپلې خبرې په خپل یوه شعر پېلوم:

لکه تیره د بیابان تل په یو حال یم
ونه، نه یم چې بدله په موسم شم
سر به هیڅ د مریتوب چاته ټیټ نه کړم
که سوری سوری په غشو د رستم شم
وا به نه وړم د ښایست له پرستشه
که لاهو په اباسین یا په جېلم شم
که غمونه د جانان همدا کاڼي کړي
وچ صورت به لکه کړکې د چلم شم
خپله وینه مې ښښلي ده مظلوم ته
که په ژوند چرته ملګرې د ظالم شم

خبر شوم چې په سوېډن کې د زلمو پاڅون ټولنه له یوې وتلې او نامتو فرهنګي او ملي څېرې محمد طارق بزګر او د هغه د فرهنګي کار او زيار ستاینه او یادونه کوي.

زه خو لومړی نوموړی ټولنې ته کور ودانې وایم چې ښه انتخاب، پر ځای انتخاب او پر وخت یې انتخاب کړی. د هغه چا درنښت ته یې غونډه رابللې، چې خدای ذاتي دروندوالي هم وربخښلې او په یوازې ځان کلونه کلونه ستر ملی خدمت او دروند تاریخي رسالت سرته رسوي.

تر کومه ځایه چې زه ګران بزګر صېب پېژنم او ما د ده افکار او نظریات د ده په اخبار (دعوت) کې کتلي دي، نو ماته تر فولادو کلکه او له ډېری درنه ملي-فرهنګي څېره ښکاري.

د اړودوړ، چور او تالان، رنګ بدلولو، ځان کړولو، لار چپولو، ځان درنولو او وخت تېرولو د دې وروستې مهال په دې دریوو لسیزو کې ډېرې ستری فرهنګې ستنې وښوېدې، بدرنګې شوې، له ملي ګټو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګ شوې او له موسمونو سره هم رنګې شوې، خو فکر کوم طارق بزګر تر اوسه له تېرو ټولو پړاوونو بشپړ او سالم راوتلې او د خپلو ملي-اسلامي ارمانونو، افغانستان او افغان ولس ترڅنګ ولاړ دې.

دې دا دوه لسيزي اخبار، د سوداګرۍ او ګټې لپاره نه چلوي، دې د خپل اخبار پاڼې په هسې ببولالو نه رنګوي، بلکه دې د خپل مظلوم او بې دفاع ولس، د خپل تاريخي او جنګځپلي هېواد او د خپل شتمن او بډای کلتور پالنه کوي. دې حق ته حق او باطل ته باطل، تور ته تور او سپين ته سپين، ظالم ته ظالم او مظلوم ته مظلوم، روا ته روا او ناروا ته ناروا وايي. دی په همدې لاره روان دې. دې همداسې دی. د زړه او خوله خبره يې يوه ده. دې د زمان او مکان تابع نه دی. وخت او مکان د ده مريان دي. دې په هر څه پوهيږي، دا غواړي چې هر بدلون، هر مکان او زمان د خپلو ارمانونو پر مدار وڅرخوي، ده ته مال او شتمني، مقام او دبدبه، لنډمهالي او بې خونده ښکاري. دې د خدای د رضا او د افغان انسان د ښېګڼې لپاره شوګيرونه ګالي، زيار باسي، او له خپلو ملي او انساني ارمانونو خپل مال او سر نذرانه کوي. دې په رښتيا هم د زياتې ستاينې او درناوي وړ دې.

زه په خپل وار د ده همت، جرت، د کلونو ستړياوو، شوګيرونو او ملي فرهنګې هڅو ته د تعظيم او درناوي لاس په ټټر ږدم، ورته اوږد، سرلوړی او عزتمن ژوند غواړم او د سيدجمال الدين له ټاټوبې راټوکېدلې دغې فرهنګې ځېرې ته د سترو ملي فرهنګې کړنو د تر سره کولو هيله کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم څپرکی:
دعوت

## رسانه ی دعوت

مصطفی عمرزی

جهاد بزرگ افغانان، آزمون دیگری بود که در ورایش فداکاری و ایثار، بار دیگر وجاهت و حیثیت یک ملت با پیشینه را آشکار می کنند. در آن سالیان، هرچند واژه گانی که بار معنایی «درد» داشتند، در روایت حال مردم، جزو ادبیات مستعمل بودند، اما عزت نفس، مردم را در صبوری ایستاده گی، از حافظه ی تاریخی محروم نمی کند. جبهات تنازع در تمام انواع آن، افغانان را در راه خدا و میهن، به ایثار می کشیدند.

مقاطعی اند که در بُرش آن ها گاه بُریده گی از گذشته به مبدای نو می رسد. حماسه ی جهاد افغانان، جزو میراث های پُرشکوه تاریخ بشر برای آزادی، مسجل است، اما آسیب های جنگ، پی آمد دشواری هایی شدند که افغانان با تحمل جنگ، ریسک کرده بودند.

دشواری رویایی با یک ابر قدرت، نفس گیرد بود. بنا بر این، بسط مفاهیم جهاد، مبارزه و قدرت از میان جبهه تا عقب جبهات، طیف دیگری از افغانان مجاهد را تشویق می کرد تا با کار فکری، فرهنگی و حرمت قلم بکوشند نقش واقعی توده هایی که قربانی شدند و قربانی می دهند، اصل مبارزه ی مردم با اتحادشوروی باشد.

من تا دو سال قبل نیز طارق بزگر را به جا نمی آوردم. از روی تصادف، یافت نشر مضامینم در سایت «افغان سباوون» که بعداً «دعوت میدیا ۲۴» شد، مرا با یکی از سرد و گرم چشیده گان سالیان ایثار، اما اندوه مردم آشنا کرد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



من با شهرت «بزگر» ها آشنا بودم، اما نمی دانستم فردی از این خـانواده از روی لطفی که فرهنگی ست، زمینه می سازد تا در نوبت مـا، آزمـون دیگـری سـپری شـود کـه در تنـازع فرهنگـی آن، ثقلـت و دشـواری محسوس است.

من از طریق رسانه ی دعوت نیز اندوخته هـای فکـری ام را تقـدیم مـی کنم. خوشحالم که این سعی در زمینه ای صورت می گیرد که از شـان و پیشینه ی نیک بهره مند است.

مسرت این که امثال من در زمینه ی تجربه ی بهم پیوسته ای که افغانیت را اصـل مـی دانـد، بیشـتر مـی شـود، در بسـتر مطمـئن ایـن حـدود بـه خانواده ی بزگر ها مبارکباد می گوید! در رسانه ی دعوت مـی مـانم و بـرای بزگـر هـا توفیـق بیشـتر مـی خـواهم کـه پیشـه ی آنـان(بزگر) در زمینه ی ملک و ملت، به حاصل نیکو می رسد.

تراژیدی فرار مغز ها و ویرانی محاضر مرید و مرشد، افغانان را هوشـیار کرده است: فرهنگ و فرهنگی را پاس بداریم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعوت خپروني نهه ويشتمي کاليزې په وياړ

سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

دعوت د خپلواکو رسنيو مرکز او د دعوت ميډيا څلرويشت ويبپاڼې مسئوول مدير يوه وړه ارزونه ډله ييزې رسنۍ زموږ د ورځني ژوند د لارې مل ګرځيدلي دي.
ډله ييزې رسنۍ زموږ په ورځني ژوند کې ستر واک ترلاسه کړي دی. موږ هره ورځ د راډيو، ټلويزيون، اخبار، ميلفون، ليپ ټاپ او د انټرنيټ نړۍله لارې د رسنيو تر اغيزلاندې يو. ډله ييزه رسنۍ په ټولنه کې د مالوماتي او اطلاعاتي خبري سر چيني په څېر خپل رول لوبوي.
رسنۍ د انسانانو په سياسي اند جوړونه کي خورا مهم اغېزمن رول لري. سياست پر رسنۍ او رسنۍ پر سياست باندې نېغ په نېغه اغېز لري. سياست او رسنۍ پر يو بل باندې په دوه اړخيزه توګه اتکأ لري.
ژورناليست ته په هره ټولنه کې ستر واک او مسئووليت ور په برخه کړل شوي دی. ليکوال او رسنوال د ولس غږ او سترګي دي. د خبريال يا ژورناليست په اړه پوښتنه دا ده، چې خبريال د خپلي ژورنالستيکي دندې په تر سره کولو کې څه رنګه خپلي موخې تعقيبوي، څومره پاک انساني نيت او څه ډول ملي احساس لري.
په دې کې هيڅ شک و شوپيان نشته چې د دعوت خپلواکه رسنيزه مرکز د افغانستان څخه د باندې د ټولو ملي افغان کډوالو ليکوالو، قلموالو، رسنوالو، کولتوري ودي ټولنو او اکاډيميکو بنسټونو او همدارنګه د اکاډيميکو روڼ اندو، سياسي شنونکو، کارپوهانو او افغان لوړ پوړې دولتي چارواکو تر منځ د سياست، اقتصاد، روغتيا، شعر و ادب، کولتور او ژبنۍ ډګر کې د کره مالوماتو، اطلاعاتو، د سياسي فکرونو تر منځ اړيکي، د تاريخي پېښو، تجربو، د ازميښتو اندونو راکړه ورکړه په برخه کې يو ستر پلټ فورم او يو وياړمن مرکزي رول لوبوي.
د دعوت خپروني محتوياتو او منځپانګي په ستره لمن کې تل د انسانيت، افغانيت، اسلاميت، انساني کرامت، د افغانانو ملي دودونه، ارزښتونه، د افغانستان خپلواکۍ، ملي حاکميت، ملي ګټو، د بيان ازادۍ او داسې نورو ټولمنلي کوډکسونو ته جدي پام کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دعوت هره ګڼه د افغانستان ملي ګټو په چوکاټ کې دې ټولمنلي ارزښتنو او نورمونو ته ځان مسئوول احساس کړي او یا ورسره مسوولانه چلند کړي دی.

دعوت خپروني د هر ډول کرکې، تعصب، تبعیض او پارووونکي لیکنو څخه ځان لرې ساتلي دی. د د عوت په اخبار کې هر افغان ته چې د ملي فکر خاوند وي، له کرکې، تبعیض او تعصب څخه پاک وي، د افغانستان ملي ګټو، ملي اسلامي ارزښتونو او ارمانو ته ژمن وي، نه یوازې ځای شته دی، بلکې هغه ته پر لوړ کچ د لوستلو ډیر څه لري.

د عوت میډیا څلرویشت ویبپاڼه:

اټکل له پېنځه سووکلونو راهیسې اخبار په نړۍ کې شتون لري، د وخت په تیریدو سره د اخبارونو په فورم، بڼه او شونتیاو کې په پر لپسې توګه بدلونونه راغلي دي.

د نړۍ ډله ییزو رسنیو نوې پرمختګونو ته په کتو سره داسې بریښي چې په نږدې راتلونکې کې به چاپي رسنۍ په ځانګړې توګه چاپي اخبارونه د خپل ژورنالیستکي کیفیت سره سره له منځه ولاړل شي. له بل پلوه د مولتي میډیا یا ډله ییزو رسنیو شونتیاوې چې د انټرنیت له لارې په بریښنایي ډیجیټل بڼه خپریږي، د ژورنالیزم کیفیت ته نوې چانسونه ور په برخه کړي.

تر اوسه په مالوماتي او اطلاعاتي رسنیو کې اخبارونه تر ټولو کره او د اعتبار وړ مالوماتوسر چیني ګڼلې کیږي. اخبارونه له ډیر پخوا څخه خلکو ته د لارښووني او د اعتبار وړ خبرې سر چیني ګڼلې شوي دي.

د یوه اخبار یا مهالني ځانګړې راز په دې کې نغښتي دی، کله چې اخبار کوم مالومات یا ټولنیز ارزښتونه خلکو ته وړاندې کوي، لوستونکي هڅه کوي په دغه ټولنیزو ارزښتونو کې د خپلوي یو ګډ احساس ومومي. له دې سره د اخبار لوستونکي په راتلونکي کې د ټولنې د لوړې پرګنې یا ممتاز قشر- سره په فکري ډګر کې ځان ګډ محسوسوي.

د دعوت میډیا ویبپاڼه بېلابېل په زړه پورې سیاسي او ټولنیز علمي مالومات خپروي. دا ویبپاڼه اوس په سلګونو، زرګونو لوستونکي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتونکي لري. افغانان هره ورځ په دې ویبپاڼه کې د سیاسي او ټولنیزو مسایلو تر څنگ خپل ملي او کولتوري ارزښتونه لټوي.

د دعوت مهالنۍ سره زما پېژندگلوي:

کله چې په ۱۹۸۸ کال کې د دعوت اخبار په خپرونو پیل وکړو. د هیواد په دننه او بهر کې د چاپیدونکو آزادو خپرونو کچه څښته ډیره ټیټه وه. د دعوت اخبار د ناروې په هیواد کې خپرونې پیل کړي وې. زه هغه مهال یو کال مخکې تر دې نیټې د خپل گران هیواد له پلازمېنې کابل څخه پیښور ته او بیا المان ته تازه کډوال شوي وم، په لومړي ځل یو دوست ما ته د دعوت اخبار یوه گڼه په پوسته کې راولیږله. په لیک کې داسي هم لیکلي و، کله چې تا دا اخبار ولوست بیا بیرته راولیږه او یا یو بل افغان ته یې د لوستلو لپاره ورکړه.

د المان د کډوالۍ په لومړیو کلونو کې زما سره د اخبار د گډون پیسې هم نه وې. اټکل درې یا څلور کاله ورسته مې د دعوت په اخبار کې گډون وکړو او بیا مې خپله قلمي همکاري هم ورسره پیل کړه.

زما په اند، دعوت خپله منځپانگه، محتویات او کاري کیفیت زموږ ملي او اسلامي ارزښتونو سره سم سمبال کړي دي. دعوت هر افغان د افغانستان ملي گټو، اسلامي، افغاني کولتوري، ملي ټرمینالوجیکي ارزښتونو، ملي او سیاسي سېمبولونو ته دعوتوي.

د دعوت مهالنۍ علمي څېړنیزه لیکنې، تاریخي ادبي مضامین، د افغان لوړ پوړې سیاسي چارواکو اندونه، د مخورو افغان شخصیتونو، د نظر خاوندانو خبرې اترې، مرکې، د اقتصاد، روغتیا او چاپیریال په هکله هر اړخیزه مالومات، په ځانگړي توگه د افغانانو د لسیزو ناورینونو او خونړۍ جگړې د حل لارې چارې لټوي. د لر او بر افغان ولس د یووالي څخه ملاتړ کوي. د افغاني ټولني بقا او ارتقا په برخه کې مثبت رول لوبوي. نړیوالو منلي شوي معیارونه او ارزښتونه ته پام کوي. د دعوت اخبار افغان ځوانانو او مشرانو ته د هیواد پالنې او د هیوادنۍ مینې یوه بله ډیوه گرځیدلي ده.

دعوت، ډیرې علمي، سیاسي، تحقیقاتي، څېړنیزه او تحلیلي لیکنې خپروي، د بیان او د آزاد فکر ژمندویې کوي، د افغانانو عامه پوهاوي، ملي روحیې او سیاسي ویښې شعور د پنځیولو او جگیولو هڅې کوي. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولیزه ټوګه دې ټکو ته په کتو سره د دعوت خپلواکه رسنیو مرکز د افغانستان په دننه او بهر کې افغانان ملي یووالي، تلپاتي سولې او ملي امن نظم ته را بولي.
د دعوت مهالنۍ زما ځکه خوښیږي چې یوه بې پرې او ناپیيلي خپرونه ده او د هیڅ یو سیاسي ګوند او هیڅ یوې ډلې تپلې ته پروپاګند او تبلیغات نه کوي. دعوت ملي وروروولۍ، سولې او ملي پخلاینه لپاره نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کوي.
ډیره د خوښې خبره ده، چې دعوت خپرونې خپل ۲۹ کلونه د افغان کډوالو په چوپړ کې تیر کړي دي. د دعوت خپرونې اروپا، امریکا، اسیا، افریقا او استرالیا پورې خپلو مینه والو ته رسیږي.
د دعوت مهالنۍ او د عوت میډیا ۲۴ ویبپاڼې مسوول مدیر کاري فعالیت ته له لرې یوه لنډه کتنه:
بزګر صیب زموږ په شان کور، کار، خپل خپلوان، دوستان، میلمه پالنه، د خوښې او خپګان سره مل ژوند لري. بزګر صیب د خپل ورځني نورمال ژوند کارو بار ستونزو سربیره ښایي په اټکلي او اوسط ډول د دعوت اخبار د لیکلو، ډیزاینولو، چمتوکولو، چاپلو او د پوستې له لارې لیږلوته لږ تر لږه په ورځ کې د دریو نه تر څلور ساعتونو پورې کار کړې وي. که موږ دغه اټکلي څلور ساعت کار د ۲۹ کلونو په ورځو کې ضرب کړو. موږ ته پته لګیږي، چې بزګر صیب د دعوت اخبار چلولو ته د خپل خوږ ژوند څو زره ساعته وړیا کار کړي دی.
د دعوت اخبار کې مو دا هم لوستلي، چې بزګر صیب د افغانستان د سیاسي مسایلو د څیړلو، د افغان غمیزې او جګړې د حل لارې چارې لټولو په موخه ډیرو هیوادونو ته د سیاسي کارپوهانو سره د خبرواترو او مرکو لپاره په زرګونه کیلو متره لرې سفرونه کړی دي.
زما په اند، د دعوت په خپرونه باندې د نیوکو مستحق یواځې هغه څوک کیدای شي، چې دی د کډوالۍ په شرایطو کې د رسنوالۍ دنده لا نوره ښه او بهتره ترسره کولی شي.
د دعوت مهالني ډیزاین او تخنیکي چارې همدرانګه د څرنګوالي په برخه کې ښایي د ځینو په سترګو کې کمزور تیاوې شتون ولري. دا باید

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یاد ولرو،چې اوس د دعوت مسئوول مدیر نور یو بې تجربې او غیر مسلکي سړی نه ګڼل کیږي.

زه هیله من یم، د دعوت معتبره رسنۍ خپل فعالیت په دوامداره توګه وساتي او په ټولو افغانانو په ټینګار سره غږ کوم، چې د دعوت خپرونه زما او ستا مادي او معنوي مرستو ته څښته ډیره اړتیا لري.

د دعوت د معتبري مهالنۍ د فعالیت، پایښت او بنې په اړه یو وړاندېز:

د دعوت خپروني مسئوولین که د وخت له غوښتنو سره سم لږ د نوې نړیوال ډیجیټل ډله ییزو رسنیو پرمختګونو او نوښتونو ته پام وکړي، ښه به دا وي چې د خپلي خپروني بڼه یوې چاپي مجلې ته واړوي. دغه نوې میاشتنۍ مجله باید په هره دوه یا دریو میاشتو کې په یوه ښکلي ډیزاین کې چاپ کړل شي. په دې نوې معتبره مجله کې سیاسي، فلسفي، اقتصادي، روغتیایي، چاپریال ساتني، ټولنیز ادبي، سپورتي او کولتوري مضامین د مسلکي کارپوهانو له خوا نوي په زړه پوري مالوماتي لیکنې څېړنې او ارزوني خپرې شي. د دعوت مجله باید ځان ته خپل لیکوال وموميي، څو د هرې مسلکي څانګې په اړه د خپلو مسلکي کارپوهانو څخه غوښتنه وکړي، د یوې ځانګړي موضوع په اړه نوې علمي لیکنې وکړي او د دې لیکنو امتیاز یواځې او یواځې د همدې مجلې سره محفوظ وساتل شي. مجله باید په ډېر ښکلي ډیزاین او رنګه انځورونو کې خپره شي. مجلې ته په پیل کې یوه ارزانه بیه وټاکل شي، دغه نوې مجله باید د افغانستان او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د افغانانو په کولتوري مرکزونو کې وپلورل شي. دا مجله باید د نړۍ معتبرو مجلو په شان لکه الماني مجله ډېر شپیګل، امریکایي مجله ټایمز او د جیوپولیټیک مجلې ته ورته وده وکړي.

د دعوت خپروني نوویشتمي کالیزې په ویاړ:

زه د یو لو ستونکي په توګه د دعوت ۲۹ کلن کولتوري هاندې هڅې، نوښتونه او بریاوې لوړې ارزوم او د زړه له کومي یې ستایم. حالاتو ته په کتو سره فعالیت ډېر مثبت او عالي ارزوم، د امتیاز څښتن او درنو چلوونکو ته د دې خپروني د ۲۹ مې کالیزې د رارسیدو په ویاړ مبارکي وایم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په اند د چاپي رسنيو څېړنيزخبريـال بزګـر صـيب اوسـپنيزه اراده او هڅې د ستايلو وړ ځکه دي، چې په کډوالۍ کې يې دغه رسنيزه بنسـټ په خپل وس او توان سره په سمه او بريالي توګـه مـديريت کـړي او تـر ډيره بريده د ژورناليزم اصول مراعت کړي دي.
ښاغلي بزګر ته د وياړ او خوښي ځای دې چې دعوت مهالنۍ وکـولای شول د ډيرو اقتصادي ستونزو او لږو مـالي مرسـتو سره سره د افغانـانو د ګډوالي په اوږده تاريخ کي د خپل بې پرېوالي تګلارې پر بنسـټ د يـو ملي تاريـخي وياړمن اخبار نوم خپل کړي.
دعوت د خپلو قلمي همکاران پر مټ د افغانستان په دننه او بهـر کـي د اعتبار وړ يو پياوړي آزاد ملي رسنيزه ځواک ګرځېـدلي دی. د دعـوت مخاطبين د هيواد ملي روڼ اندې يا د افغاني ټـولني لـوړ پـوړي پرګنـې دي. دعوت، لوی افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کـور ګڼـي، ځکـه يـې د ملي افغانانو په منځ کې ښه نوم ګټلي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## به مناسبت۲۹ مین سال نشراتی دعوت میدیا با مدیریت محمد طارق بزگر

کاندیدای اکادمیسین استاد م.ا. سیستانی

محمد طارق بزگر، یکی از نخبه گان فرهنگی و اطلاعات جمعی در خارج از افغانستان است که قریب سی سال از بهترین ایام عمر خود (۱۹۸۸–۲۰۱۷) را در راه تنویر افکار و اذهان هموطنان خود با نشر مجلهؤ دعوت وسایت دعوت میدیا، صرف کرده است. ۳۰ سال کار مطبوعاتی و آگاهی رسانی بلا توقف و بدون مزد، در توان هیچ کدام از ما خواننده گان و همکاران قلمی آقای بزگر نیست.
آقای بزگر، چرا این همه وقت و انرژی و توان جسمی و مادی و معنوی خود را در این راه صرف کرده است؟ آیا علت این همه سعی و تلاش او به خاطر کسب مقام و جاه دولتی بوده است؟ نه خیر. من فکر می کنم که علتش همانا عشق بی کران به کشورش افغانستان و مردم و زبان و فرهنگش بوده و است. عشق و محبتی را که من در وجود این شخصیت خوش برخورد و مؤدب و صبور و بردبار نسبت به افغانستان درک کرده ام، کمتر از عشق و علاقه ای نیست که اعلی حضرت امان الله خان برای تعالی و ترقی کشور خود داشت.
دانشمندان جامعه شناسی در مورد عوامل پدید آورندۀ شخصیت انسان می گویند: شخصیت، ساختهء وراثت و محیط زیست اوست؛ یعنی انسان با خصوصیات ژنتیکی خاصی به دنیا می‌آید، و پس از آن سر و کارش با محیط اجتماعی اطراف او است.
محیط اطراف، عبارت از خانواده، همسایه گان یا اهل روستا، کودکستان و مکتب، و بالاخره جامعه است که نقش مهمی در شکل دهی شخصیت انسان دارد.
انسان از محیطی که در آن بزرگ شده است، خواهی نخواهی تاثیر می پذیرد. اگر از اطرافیان خود محبت دیده باشد، با دیگران با محبت رفتار

(c) ketabton.com: The Digital Library



می کند واگر خشونت دیده باشد، طبعاً خشن بار می آید و با دیگران از درِ خشونت پیش خواهد آمد؛ اما ذکاوت و خلاقیت و ابتکار از وراثت انسان سرچشمه می گیرد. به همین جهت است که انسان های یک جامعه، همه دارای عین قابلیت و استعداد و خلاقیت نیستند و هر کدام، دارای مختصات و ویژه گی های منحصر به خود اند که با همان ویژه گی ها از یک دیگر متمایز می شوند.

تا زمانی که انسان، در عرصهء زنده گی و کار از خود مهارت و لیاقتی تبارز نداده باشد، نمی توان در موردش نظری مشخص ارائه کرد؛ فقط در روند کار و در پراتیک زنده گی است که ظرفیت انسان و توانائی هایش متبارز می شوند و دیگران را تحت تاثیر خود قرار می دهد و حسن نظر یا سوء نظر اطرافیان را نسبت به خود برمی انگیزاند.

مثلاً انسان ها با تبارز قابلیت های خاصی در عرصه های سیاسی، نظامی، اجتماعی، فرهنگی، فلسفی، یا هنری از خود آثاری چون کتاب، مقاله، رساله، یا یک اثر هنری از قبیل آهنگ های موسیقی، مجسمه یا تابلوی نقاشی، بر جا می گذارند و به خاطر آفریده های خویش، در جامعه متبارز و صاحب نام و شهرتی می شوند. شناخت چنین آدم هایی کار مشکل نیست و می توان از روی آثار شان، به طرز تفکر و ایده ها و نیات و پیام شان پی برد و آنان را برای نسل های جوان حال و آیندۀ جامعه معرفی کرد.

جوانان نیزعلاقمند اند تا از کرکتر و کارنامهء آدم های موفق، برجسته و خلاق تاسی بجویند و شخصیت خود را تکامل ببخشند. طبعاً این احساس، آن ها را به سوی تلاش برای طی کردن پله های ترقی و تعالی و کسب درجات علمی بالاتر و زنده گی آبرومند و فارغ از کژی و نادرستی، تشویق می کند.

آن هایی که در ابراز لیاقت، خلاقیت، درایت، کسب علم و فضیلت، راستی و درستی و وطندوستی از آزمون زمان موفقانه عبورکرده باشند،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نخبه گانی استند که مایهٔ افتخار و سرمشق دیگران می شوند و همواره الگوی راستی و درستی و انسان دوستی پنداشته می شوند؛ اما انسان هایی که فاقد استعداد و ذکاوت و خلاقیت و لیاقت استند، معمولاً به ریاکاری و تملق و چاپلوسی و دروغ متوسل می شوند، و معلومدار افراد زبون، اپورچونیست و ابن الوقتی اند که به خاطر حفظ یا کسب منافع شخصی، سر و گردن خم می کنند و برای جلب توجه ارباب قدرت حاضر اند تن به هر پستی بدهند.

هر یکی از ما در زنده گی روزمرهٔ خود، با هر دو گروه انسان های خوب و آدم های بد و پلید رو به رو شده ایم؛ از آدم های نیکوکار و نکونام، به نیکی یاد می کنیم و از انسان های فاسد و استفاده جو و دروغگو اظهار نفرت و انزجار می کنیم.

از بحث به دور نرویم، بحث بر سر محمد طارق بزگر، یکی از شخصیت های فرهنگی افغانستان مقیم کشور ناروی است. بزگر، فرزند دره های سرسبز و کوهساران پوشیده از جنگلات طبیعی و درختان کاج و نشتر ولایت کنر است.

کُنر یکی از ولایات دور افتاده در شمال شرق سلسه کوه های هندوکش واقع شده و دارای مناظر طبیعی زیبا و دره های پر جاذبه و دلکش است. در این دره ها، رودهای سرمست و پرآب با آبشار های زیبا و دل انگیز از میان سنگلاخ ها جریان دارند که مایهٔ حیات انسان و حیوان و نبات منطقه استند.

جناب بزگر، در چنان فضای آزاد و خوش آب و هوا، در یک خانوادهٔ منور و تحصیل کرده و صاحب قلم پشتون با قابلیت و استعداد خلاقیت و سرشار از حب وطن دوستی به دنیا آمد و از عطوفت والدین و برادران و خواهران خود، محبت و صفا و صمیمیت دید و راستی و صداقت شنید و به تدریج بزرگ و بزرگتر شد تا به مکتب رفت و از معلم و استادش نیز درس آزاده گی و صداقت و محبت به وطن را

(c) ketabton.com: The Digital Library



همان گونه که در خانواده شنیده بود، به تکرار شنید و آموخت. بزگر وقتی قدم به سن جوانی گذاشت و نزدیک بود صنف یازدهم لیسهٔ نادریه کابل را تمام کند و بقیهء پله های تحصیل را در وطنش طی کند، ولی متاسفانه که تجاوز اتحاد شوروی برکشورش، او را از آغوش مادر وطن به دور ساخت. او در سال ۱۹۸۰ مثل هزاران تن دیگر، راه مهاجرت در پیش گرفت و از کابل به پیشاور رفت. در آن جا دروسش را ادامه داد و در رشتهء علوم سیاسی و اسلام از اسلامیه کالج و پوهنتون پشاور لیسانس گرفت و در حالی که ۲۱ یا ۲۲ سال عمر داشت، به کشور ناروی پناهنده شد.

بزگر، در سال ۱۹۸۸ در کشور ناروی به حیث یک مهاجر افغان از حمایت های اجتماعی و فرهنگی کشور ناوری برخوردار شد، و در رشتهء کمپیوتر و میدیا و کمیونیکیشن (مطبوعات و ارتباطات) به تحصیل خود پرداخت.

بزگر در رشتهء ژورنالیزم، دارای تحصیلات عالی و تجربهء زیات بوده و در عرصهء ژورنالیزم انترنتی نیز دارای تحصیلات بلند از شمال ناروی است. او برای سالیان دراز در تلویزیون دولتی ناروی (NRK) کار کرد و نیز از طریق آنلاین در انگلستان، رشتهء ژورنالیزم خویش را تقویت کرده است.

آقای بزگر در پهلوی درس و تحصیل خود در ناروی، در صدد برآمد تا به مردم افغانستان از یک طریق سالم خدمتی انجام دهد؛ چون علاوه بر ذوق و علاقه به مطبوعات و رسانه های جمعی، خود را با دانش و تیوری این رشته از علوم انسانی مجهز کرده بود، در دسمبر سال ۱۹۸۸ دست به نشر یک مجلهء ماهانه به نام دعوت زد. بزگر خود گفته است که کار نشراتی مجلهء دعوت را در اوج مشکلات، با امکانات اندکی از طریق نوشتن با دست خود آغاز کرد و پس از نشر مجله، خود را مجبور دید آن را برای هموطنان نزدیک خود ابتدا در کشور های

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروی، سویدن و دنمارک توزیع کند و مصارف پستی را هم از جیب خود بپردازد.

به تدریج علاقه مندان دعوت در کشور های دیگر اروپائی و امریکایی بیشتر می شوند و او خود را مکلف می بیند دعوت را که حاوی اطلاعات و آگاهی ضروری سیاسی و اجتماعی و ادبی بود، به بیش از پنجاه و پنج کشور اروپائی و آسیائی و امریکائی برای افغانان برساند.

با رواج انترنت و میدیای برقی، در نیمهء دوم دههء ۹۰ قرن بیستم، آقای بزگر، کار بروز رسانی سایت دعوت میدیا را به زبان های پشتو و دری و انگلیسی و نارویژی با صداقت وطن پرستانه به مردم افغانستان ارائه کرده است.

آقای بزگر بدون وابسته گی به سازمان سیاسی خاص، با دیدگاه فراخ، هرگونه نظریات مخالف و موافق را مجال نشر و امکان تبارز می دهد. به همین لحاظ او مورد احترام همه افغانان و به خصوص همکاران قلمی و مطبوعاتی خود قرار دارد و با خلق خوش و کرکتر عالی ای که از تربیت خانواده گی خود به ارث برده است، همه را گرویدهء شخصیت متین و با وقار خود ساخته است. اینك از خدمات فرهنگی او به حیث مدیرمسوول دعوت میدیا، ۲۹ سال می گذرد. او در این مدت به طور خسته گی ناپذیر در راه بیداری و تنویر اذهان و شعور جوانان کشور، نقش روشنگرانهء خود را منحیث یك افغان وطندوست و خدمتگزار افغانستان به نحو خیلی تحسین برانگیز انجام داده و می دهد. این همه پشت کار و صرف وقت و انرژی، بدون تردید، ناشی از عشق عمیق او نسبت به مردم کشور و آگاهی دادن به مردمی است که خودش از میان آن ها بیرون آمده است. از این جهت جناب بزگر صاحب، دین بزرگی برگردن ما افغان ها دارد. بنابراین من این خدمات معنوی و با ارزش آقای بزگر را قابل تقدیر و ستایش می دانم و برای

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرفرازی این شخصیت برازنده و یکی از فرهنگیان نخبهء کشور، عمر طولانی و توفیق مزید از خدا آرزو می کنم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دعوت ښکلي مجله او ښکلي پاڼه

عبدالغفار جُبير

د ((دعوت)) مجلي او ويب پاڼي مؤسس ښاغلی مشر ـ ورور محمد طارق بزګر صاحب هغه څوک دئ چي د لومړي ځل لپاره يې زما لومړی اثر (ما ولي اسلام قبول کړ؟) د ده په هڅو او مالي لګښت سره په ۲۰۱۰ ميلادي کال کي چاپ شو، که زه په لنډو کې درته ولیکم: ((ښاغلي بزګر صاحب زه ليکوال کړم.))

ما له نن څخه ۸ يا ۹ کاله مخکي دعوت ويب پاڼي ته ليکني ليږلي، چي کله به مي يوه ليکنه ولېږله، د دوهمي ليکني لپاره به بزګر صاحب تشويق راکړ، او وبه يې هڅولم چي بله ليکنه او ژباړه وکړم، زما دوهم اثر (اسلام او نوي ساينسي ـ څېړنې ۱ ټوک) هم د ده په کوښښ په سويډن کي تکړه ورور ښاغلي ملک زي صاحب چاپ کړ، او بزګر صاحب ته دې الله جل جلاله په دنيا او آخرت کي پوره عوضونه ورکړي. (امين)

د ښاغلي محمد طارق بزګر صاحب ښکلي ويب پاڼه چي مخکي د (افغان سباوون) په نامه او بيا (دعوت ۲۴) شوه، ډېره يوه هر اړخيزه او معلوماتي ويب پاڼه ده. موږ تر هر څخه مخکي همدغه ښکلي پاڼه اقلاً په ورځ کي څو څو ځلي ګورو؛ دا ځکه چي داسي ليکني پکښي شتون لري، چي په نورو ويب پاڼو کي نشته او بې بېلګې دي. اسلام، سياست، ساينس، سپورت، تاريخ ، د نړۍ هيښونکي او هر ډول ليکني، کتابونه او ويډيو ګاني پکښي شتون لري. د افغانانو د درد احساس، د سولي پيغام، د نېکمرغۍ ولولې، د سکون ټکور، د پرمختګ لارې چارې او داسي نور اړين توکي پکښي پراته دي، نه يواځي د هغو افغانانو ولولې او احساسات منعکسوي چي په لويديځ کي اوسيږي بلکي د ګران هيواد افغانستان ورځنۍ تودې پيښې او ناخوالې هم پکښي رانغښتي دي، چي همدا د دې ښکلي پاڼي يوه ځانګړتيا ده. د بزګر صاحب په دې نړيواله پاڼه کي علاوه له دې څخه چي افغاني او اسلامي ليکني خپريږي بلکي ازادې ليکني هم سته، چي کېداى سي همدغه ليکني په ډېرو ويب پاڼو کي شتون ونلري، چي مطلب مي دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ چي بزګر صاحب خپله يو تکړه نړيوال ژورنالست دی، نو تر ډېرې اندازې پورې د ژورناليزم د اصولو مطابق د بيان ازادي يې هم پلې کړېده

دعوت خپرونه:

موږ زښته ډېرې مجلې لوستې او يا يې هم لولو، هم خارجي مجلې او هم داخلي مجلې، خو د ((دعوت)) مجله يوه بې مثله، معلوماتي او هر اړخيزه مجله ده.

بزګر صاحب موږ د ((دعوت)) مجلې هره ګڼه را ليږي. کله د ليکوالانو، اديبانو، پوهانو او علماء داسي ګڼه ګوڼه جوړه سي چي بيا موږ دغه مجله فوتو کاپي کړو او بيا يې تر ملګرو او دوستانو پورې رسوو، چي له دې ښکلې مجلې څخه موږ هر څه لکه: سياست، افغانپوهنه، ادبيات، تاريخ، ساينس او نور.... رازده کړيدي. که زه په دا هر څه په يوه جمله کي را ونغاړم نو زه ويلای سم ((د دعوت مجله او ويب پاڼه يو نړيوال دائرة المعارف دی.)) الله جل جلاله دي و بزګر صاحب ته اوږد عمر ورکړي چي همدا ملی وياړ تل له ځانه سره ولري، او همدا ملي خدمت ستر عبادت وګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دعوت ۲۹م پسرلی

قریب الرحمن سعید

د هیواد په سخت پیچلیي، د ناورینو او نانندریو ډک تاریخ کـي، نـژدی ۲۹ کلـه مختـه د نـومبر پـه میاشـت کـي، د دعـوت تـر نامـه لانـدي، محترم طارق بزگـر، د خپلـو او د خپلـو مینوالـو د احساسـاتو د بیـانولو، څرگندولو، او د هیواد د سیاسي او ټولنیزو حالاتو څخـه د عـامو ولسي-وگړو د خبرولو په خاطر، د فقـر او بي وطنـۍ پـه فضـا کـي، د نـاروي د هارایهٔ ښخه، میاشتنۍ خپرونه پیل کړه. دا پـه داسي حـال کـی چـي نـه هغه وخت کمپیوټرونو ته دومـره وده ورکـړل شـوي وه او نـه د اوس پـه څیر د لیږد رالیږد اسانتیاوو شتون درلود او نه دغه ډول نور کمپیوټري او یـا تیلیفـوني سـهولتونه شـتون درلـود. یـواځنی وسـایل چـی تـري گټـه اخیستل کیده د فکس ماشـین او یـا هـم د پوسـتي خـط وه. د فکـس د ماشین سهولت هم ډیر کم میسر و.

زما یاد دي چي محترم بزگر صیب به د خپلو ورځنیو کاري مصروفیتونو ترڅنگ د شپي تر ناوخته پوري په پوسته کي راغلي لیکونه، شـعرونه او مضمونونه پخپله تصحیح او ټایپ کول او بیا به یـی پـه خپلـه میاشـتنۍ خپرونه کي د خپریدو لـه پـاره امـاده کـول. هغـه وخـت دغـه خپرنیـزه سیاسي ټوله به لمړۍ چـاپ او بیـا بـه ټولـو مینـه والـو تـه د پوسـتی لـه لاري ور لیږل کیده، چي پوستي مصارف به یی هم پخپلـه د دعـوت د بنسټ ایښوونکي او مسوول مدیر له اړخه ور کول کیدل. کم مثال به تر سترگو شي چي د دعوت مینوالو به ورسره د دي اقتصادي بار په پورتـه کولو کی لاس کړی وي، خو د دعوت مسوول، خپـل ولـس او د ولـس منوري طبقي ته د خپلی سیاسي ټولی (دعـوت) ورلیـږل د خپـل ځـان لپاره یو چلینج گڼلی و په دي خاطر یی د خپلي هغه پانگی څخه، چـي د خپلو متو په زور یی گټله، ډیره برخه د دعوت په چـاپ او بیـا د دي سیاسي او ټولنیزی ټولي په پوستي مصارفو لږوله.

۲۹ کاله مخته هیواد د یوي توری تیاری سره مخ و. دهیواد پـه سـیاسي او ټولنیزه فضا وحشت او دهشـت حـاکم و. پـه سـلگونه زره انسـانان د وخت د بیرحمه حاکمانو د تیریو له لاسه د خـاورو خـوراک گرزیـدلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو. ولس مو په مختلفو گاونډيو او اروپايي هيوادو کي د مهاجر په نامه پاشل شوی و. ميندی بوري شوي وی، ناوي کونډی شوي وي او کوچنيان يتيمان شوي وو او په پرديو هيوادو کی د اجنبي انسانانو لاسو ته ناست وو. او هر چا چي څنگه يی زړه غوښتل همغسي لوبی يی پري کولي.

د هيواد دننه په مطبوعاتو سانسور و، ان تر دي چي د بهرنيو راديوگانو خبرونه اوريدل هم مرگوني جرم گرزيدلي و. ولس د خپل هيواد په اړه د هيڅ نه خبر نه و. نه د انټرنيټ سهولت شتون درلود او نه د سپوږمکيو استانيتاوي ميسري وی ترڅو ولس تري د خپل هيواد د سياسي او ټولنيزو حالاتو په اړه کره معلومات تر لاسه کړي. په داسي کرغيړنو او د نانندريو نه ډکو حالاتو کي د دعوت مياشتنی د ولس د يو شمير منورينو له پاره د رڼا او مشال حيثيت درلود. هغوي کولي شول چي ددي لاري خپل نظريات د ولس د نورو پرگنيو سره شريک کړي، او د دعوت مسوول او بنسټ ايښوونکي هم د ټولو تهديدونو او گواښونو سره سره بيا هم په خپل هوډ او عزم کلک ولاړ و. هغه خپله دغه مياشتنی د ټولو اقتصادي او ټولنيزو ستونزمنو شرايطو سره يو ځای فعاله و ساتله، ان تر دي چي په انټرنيټي دوران کی يی د دعوت ترنامه لاندي پاڼه هم پرانيسته چی د هيواد د ملي ژبو (پښتو او دري) نه علاوه يی په انگليسي او ناروېژی ژبو هم خپروني پيل کړی.

دعوت هم په انټرنيټي جال کي او هم په چاپي برخه کي په دغه ستره تاريخي اوږده موده کي د هيواد د مطبوعاتو د يوه ځلانده ستوري په څير وځليد، په خپرونو کي يی ورځ تر بلي د علميت او د انسانيت او حق په لور د بللو وړتيا نوره هم زياته شوه او ډير ژر يی د انټرنيټي خپرونو له لاري په نړيواله توگه د هيوادوالو تنده ورماته کړه.

دعوت د خپل تأسيس نه را وروسته په دي اوږده موده کي ډير ستر او تاريخي گامونه اخيستی، د هيواد د ملي گټو او شتمنيو يی دفاع کړی، د وطن او هيواد پالنی روحيه يی غښتلي کړي، او ولس يی د پرديو او پرديپالو، د استعمار او استثمار، اشغال او نيواک په مقابل کی د يوه واحد دريځ په لور رابللی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هغي چي ما د دعوت خپروني لوستي اويا مي یی انهر نیتهي لیکنـي تعقیب کړي، په هیڅ یوه کي یی هـم د هیـواد سره د مینـي او د خپلـو ملي ارزښتونو او مقدسي خاوري د دفاع نه اخوا د نورو قومونو تر منځ د تعصب نښي نه دي څرگندی شوي، بلکه پـه یـوه متحـد پلیـټ فـارم د ولس د راټولیدو دروند مسؤلیت یی په غاړه اخیستي او تـر اوسـه پـوري دغه دروند مسؤلیت په غاړه لري.

زه د دعوت بنسټ ایښوونکي مسوول مدیر، محترم محمد طـارق بزگـر ته د دغي ملي خپـروني د ۲۹مـي کلیـزي پـه مناسـبت د زړه لـه کـومی مبـارکی وایـم او د الله تعـالي نـه ورتـه پـه دي اړه د لا زیـات توفیق غوښتونکي یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۹ کاله دعوت وشو، خو زمونږ د وېښتابه کار څنګه شو؟

محمد آصف ننګ

۱۳۹۶ د تلې میاشت، کابل:
۲۹ کاله یعني د یو نسل عمر، دومره ډېر کلونه د دعوت ورځپاڼي دعوتي او د وېښتابه او د اذهانو د تنویر ماموریت ترسره شو، د خپلي مطبوعاتي تجربې له مخې، چې د وطن میاشتني مجلې او بیا د اقتصاد میاشتني مجلې د مدیر مسوول په حیث مسوولیت درلود، راته معلومېږي چې د ټولني د بیدارولو او پوهولو کار څومره ستونزې لري. دغسې دروند، له مسوولیت او زحمت ډک مزل، چې ښاغلي محمدطارق بزګر او ټیم یې پوره ۲۹ کاله طی کړی، واقعاً له عظمت ډک دی او سخت د قدردانۍ وړ ده. په همدې دعا چې خدای پاک دې د دې غښتلي شخصیت قلم او پیام پیاوړی لري او هم دې خدای پاک پر دې ملت رحم وکړې چې د غفلت له خوبه راوېښ شي او د نړۍ د ترقۍ او پرمختګ له کاروان سره دې دوی هم سیال شي.

دعوت خپرندوی مرحلې:
که ۲۹ کلن تسلسل ته وکتل شي، زه یې په څو مرحلو کې څېړلی شم:
(۱) په افغانستان کې د انقلابي احساساتو مرحله. دا هغه مرحله وه چې د رغوني او تحمل پیمانه پکې کم چلیدل. دا داسې مرحله وه چې د انکشاف، ترقۍ او پرمختګ او د نظام جوړوني په هکله بحث کول، ډیر اوریدونکي او خریداران نه درلودل، خو دعوت پدې کلونو کې هم ډېر ښکلي مباحث درلودل. دعوت پدې مرحله کې یو روڼ آندی قشر ـ وروزه او هغه قشر د نن ورځې په کار و بار کې ډېر ښکلي او مثبت نقش ایفا کوي. دعوت پدې کلونو کې د انقلابونو پیمانه کم او د وطن او وطن پالنې پیامونه ډېر نشر کړل.
(۲) بله مرحله د طالبانو مرحله وه. دا کلونه هم سخت ول. داسې کلونه وو چې پکې بیا هم د وطن او وطنپالنې سودا ورکه شوې وه. فکري اختناق ته ورته مرحله وه. د لیکوالانو قلم نه چلیده. محدودیتونه هم پریمانه و. پدې کلونو کې دعوت له وطن لیرې و خو مخاطبین یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایران، پاکستان او غربي هیوادونو کې تر ټولو ډېر و. دعوت پدې کلونو کې د وطنپالنې تر څنګ، خپله بې طرفي حفظ کړه، او د وطن د نجات او فلاح لپاره یې ښې ډېرې مقالې خپرې کړې.

(۳) تر سپتمبر (۱۱) وروسته مرحله، دا زموږ په تاریخ کې د بدلون او تحول تر ټولو عمده مرحله ده. پدې مرحله کې د افراط تر حده د دیموکراسۍ شعارونه وغږول شول. پدې مرحله کې دوه درې پدېدې د بحث وړ دي. اول دا چې رسنۍ غږیزې او چاپي ډېرې شوې، بیا یو څو کاله وروسته پسې بصري رسنۍ او تلویزونونه ډېر شول. پدې رسنیزه وسایلو کې خو شوقي او تفریحي برنامې ډېرې دي، خو د خردمندۍ، بیدارۍ، تعقل، تربیت او هدفمنده ماموریت ته د ولس د توجیه کولو او بسیج کولو پیامونه پکې ډېر کم خپاره کیږي.

پدې حاضر دور کې خواله رسنۍ، تویتر، فیسبوک او... هم پرې اضافه شول، چې د پیامونو د مدیریت او سانسور سلسله یې ختمه کړه؛ بې بندوباري یې وزیږوله، د حق او باطل، د سهي او غلط او د ګټور او مضر پیام او خطاب تفکیک یې مشکل کړ.

بل دا چې پدې مرحله کې د چاپیزو رسنیو، یا پرنټ میډیا، نقش ډېر کمزوری شو. د خبر د نشر سرعت زیات شو او هر څه په ډیجټل بڼه واوښتل.

پدې حاضر دور کې دعوت او بزګر، دواړه ښه چلیدلي. د تیرو ۱۶ کلونو تسلسل مې په چابکه توګه وکتو، واقعاً ډېر عالي پیامونه خپاره شوي، د اعتداله پر کرښې تګ شوی، ابله بازاري او اپلت پیامونه او مقالې قطعاً ندي نشر شوي. پدې مرحله د دعوت په مطالبو او مقالو کې د سولې غوښتونکي، چاپیریال او محیط زیست، معادن، منابع، اقتصاد، سیاسي اصلاحات، وده او انکشاف، پوهنه، زراعت او هر ډول تنوع څخه ډک نشرات شوي دي.

د بزګر صاحب په اړوند رسنیو کې د هنر برخه هم ښکلې اثار لري. د محلي نایابه موسیقۍ کلیپونه، تصویري هنر، جالب عکسونه او... .

د دې ټولو معنا دا چې دعوت د عصر په ژبه ښه پوهیږي، اعتدال او معقولیت ښه ساتلې شي او د وخت له تقاضاوو سره سم مزل کولی شي.

سپارښتنې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپارښتني مي هم مختصره دي. ويپ پاڼي کې دې د پښتو کتابونه ور اضافه شي، په خاصه توګه هغه کتابونه چې ژباړې ته ضرورت لري. د امريکا او اروپايي سياست او اقتصادي ودې په هکله ډېر ښکلي آثار چاپ شوي، که ژباړه يې ترسره شي او بيا علاقه مندانو ته کېښودل شي، نو د سياسي بصيرت په برخه کې به مهم نقش ولوبوي.

بل دا چې که دعوت د مهالنۍ يا فصلي مجلې په حيث په عصري او رنګه بڼه چاپ شي، نو د چاپي رسنيو صنعت او د مطالعې کلتور به ادامه پيدا کړي.

ډېر خلک انټرنيت ته لاسرسی نلري، او يو زيات شمير خلک په پوهنتونونو، انستيتوتونو او مکتبونو او مدرسو کې دي. دوی بايد له پامه ونه غورځول شي. ځوانان ځکه مهم دي چې خدای مکړه بيا د افراطي افکارو ښکار نشي. انقلابونه له همدې ځو پوهنتونونو را شروع شول او ځلويښت کاله يې دوام ومونډ؛ وطن يې هم ړنګ کړ او دوه ميليون وګړي پکې شهيدان شول؛ ځکه نو ټاکيد کوم چې مجله دې هم خپره شي.

زه شخصاً د دعوت هغه مزمن لوستونکی او مينه وال يم، چې له دعوت مي ډېر څه زده کړي؛ ځکه نو دغه خپرندوی بنياد حق لري چې امتنان يې وکړم.

له چلونکي ټيم، مشرتابه او د ليکوال غړو له ډلي څخه يې... ربنا مو لا ځلانده اوسه او خدای پاک دې د دې سپېځلو زحمتونو بدله په دنيا او آخرت کې درکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زه او دعوت، ۲۳ کاله د مخه!

سردار ولي پښتون زوی

ما هم د نورو لالهاندو افغانانو په څېر، سترګي د کډوالۍ پر مهال په پردي وطن کي روښي کړې. ستونزي، بې وطني، پردیتوب او نور ډول-ډول ذهني شکنجي د هري ورځي مهال وېش وو.
۱۹۹۴ع کال زما د پاره ځکه خوښ کال دئ چي زه په لومړي ځل په اول نمرګۍ سره دریم ټولګۍ ته بریالی سوم، او په ټوله ښوونځی کي به فاتحانه او مغرور ګرځېدم. دا ابتدایه ښوونځی د بلوڅستان پاکستان د پښین اولسوالۍ سرانانو نومي کمپ کي وه، چي اوس د جمالدین افغان لیسي یا ۱۵ نمبر ښوونځی په نامه یادېږي. دا چي د دې تعلیمي نصاب چلښت تر اوسه پوري د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره کوي، نو به ئې ښارونکي تل د همدې اداري وه. یوه ورځ یو ښارونکی له یوه بهرني سره ملګری ټولګۍ ته راغلل او زموږ ښوونکی ته ئې د بهرني تر مخ د یو زده کوونکي څخه د پوښتني غوښتنه وکړه. ښوونکي ماته د دودیز سبک له مخه د پښتو کتاب د یوې پاڼي د متن ویلو وویل؛ چي باید په لوړ ږغ وي. ما هم هغه پاڼه په خوند وویل. بهرني فکر وکړ چي ده لکه چي همدا څو پاڼي یاد کړي؛ په لاس کي ورسره مجله ماته راکړه او په ژباړن ئې راته وویل چي له دې مجلې څه ووایه! ما چي د مجلې پر تندي لومړۍ کرښه وویل، ټولو ته ئې خوند ورکړ؛ کرښه کي لیکل سوي:
((د دعوت خپلو درنو لوستونکو ته د خپل څلورم نشراتي کال مبارکي وايي.)) نوري پاڼو کي هم پوښتنه وسوه، خو هره پاڼه چي به ئې وښوول، لکه بلبل داسي به وږغېدم.
وروسته څو نور ټولګیوال هم وپوښتل سوه، خو په مجله څوک نه جګېده. بهرني کس له وتو سره هغه مجله ماته د انعام په ډول راکړه چي تر ښوونکي پوري د ټولو خولې اوبه ورته کولې.
ښوونځی، کلي او کور کي اوازه وه چي سردار ولي ته ئې انعام کي (کتاب) ورکړی، هغه هم یوه بهرني! ځکه مو کتاب باله چي هغه وخت کي موږ مجله او کتاب نسوای سره بېلولای. دا مجله د ((دعوت)) درنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجله وه چي وروسته نو دې مجلې راته د ملي هنـداري ارزښـت لاره او تل به مي په کور کي په خورا سینګار ډول ساتل.

کلونه تېر سوه، یوه ښوونکي مي راته وویل چـي هغـه سـتا سره مجلـه د ځو ورځو د پاره راکړه. مجله مي په ورین تندی ورکړه، خـو مجلـه مـي بیا ونه مونده او ښوونکي به راتـه وویـل چـي زه بـه بیـا بلـه درتـه راوړم. اتکل تر اوسه پوري غواړم له هغه ښوونکي خپل روا حق وغـواړم، خـو ښوونکي مي لس کاله وړاندي ومړ او زما د ژوند دا غوښتنه د تل د پاره رد سوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعوت

(ډیرو هغو پیغلو او ځوانانو لپاره چې خپل هیواد
نلری د یوې لارښود په حیث خپل رول لوبولی دی)
شاهي سعادت

انسانان د خپلو معلوماتو پر بنیاد د خپل ژوند لارې ټاکي او د خپلو معلوماتو په رڼا کښې خپل ژوند تیروي. ویښ انسانان، قومونه، ولسونه، او ملتونه تل کوښښ کوي چې معلومات یي د حقایقو پر بنسټ ولاړ وي. همدغه وجه ده چې دوی تل کامیابه، سرلوړي، پر خپلو ځانونو معتقد او خپلواکه ژوند کوي.
که په تیرو وختونو رڼا واچوو او مختلف ولسونه یو له بل سره پرتله کړو نو په ډیره اساني سره به ووینو چې هغه ولسونه چې د غلطو معلوماتو ښکار شوي دي نو یا خو یي نوم او نښان ورک شوی دی او یا د تباهي ښکار شوي او د ذلت او د بل واکی په تورو شپو کښې د محتاجی ژوند تیروي.
که چیرې مونږ د افغانستان دې تیرو څو لسیزو ته یوه کتنه وکړو نو پدې به پوه شو چه هغه غلط معلومات چه زمونږ تر غوږونو تر ننه پورې رارسیږي ترینه تر څومره د پردیو ګټو دپاره استفاده شوې ده او څومره زمونږ د تباهی او بربادی سبب ګرځیدلی دی.
د دغو ټولو حقایقو په نظر کې نیولو سره باید ووایو او دا ومنو چې معلومات او رسنی زمونږ د ژوند او مرګ سره تړلي دي. دا باید ومنو چې سپیڅلي ژورنالستان همیشه د خپلو پرګنو او ملتونو ګټې له خپل ژوند څخه برترې ګڼي او خپل ژوند د خپل ملت په ژوند کښېویني.
نو ځکه په ډیرو ځایونو او حالاتو کښې دغه سپیڅلي انسانان د ظالمانو، وحشتګرو او د بې ضمیره انسانانو د توطئو ښکار شوي، په زندانونو کښې غورځول شوي او ډیرو خپل ژوند له لاسه ورکړي.
ښاغلي محمد طارق بزګر هم یو له هغو سپیڅلو ژورنالستانو څخه دی چه خپل ټول عمر یي د خپل جنګ ځپلي ولس ته قرباني کړی دی او د خپل ملت اواز یي په هر ځای، هر وخت او هر حالت کې ژوندی ساتلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعوت دا یوازی نه چي یوه خپلواکه خپرونه ده بلکه د ډیرو هغو پیغلو او ځوانانو لپاره چي خپل هیواد نلری د یوې لارښودې په حیث خپل رول لوبولی دی.
کله چي زه د لسو کالو په عمر کي له خپل ټاټوبی افغانستان نه له خپلي کورنۍ سره وشړل شوم او بیا وروسته د اروپا او امریکا ښارونو کي سرگردانه او له خپل ټاټوبي او ولس څخه نا خبره گرځیدم نو همدغه دعوت او د دعوت پر ځیر نورې ملي خپروني وې چه ما ته او زما پر ځیر میلیونونو نورو ځوانانو ته یي د خپل هیواد کیسي کولي او زمونږ زړونه یي له خپل ټاټوبي سره پیوندول.
نن د دعوت او د نورو ملي خپرونو له برکته مونږ یواځي دا نه چي د خپل هیواد له حالاتو خبریږو بلکه د دغه معلوماتو په رڼا کي د خپل هیواد او خلکو د سوکالی له پاره هلې ځلې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعوت، هیڅکله د چا د تاثیر لاندي
## نه دی تللی او نه به ولاړ شي

استاد کاظم بیمار ننګرهاری

د دعوت جریده د خپل تاسیس له ورځي څخه بیا تر نن ورځي پوري د ګران هیواد افغانستان د آزادی، سوکالی، خپلواکی او آبادی لپاره ډیرې هلي ځلي کړیدي او کوي یې. دعوت هر مشر او کشر رابللی دی، او د هر نظر خاوند پسي په ملکونو ګرځیدلي، او د هغوی افکاریي راټول او بې له تشبثه یې نشر کړیدي.

د دعوت وظیفه د هیواد خدمت ته بلنه ده او دغه بلنه تر څو چي دعوت وجود ولري دوام لري. دعوت په خپلو خپرونو ویاړي، ځکه چي د دې مرامونه او اهداف معلوم دي، او هغه د افغانستان د دښمنانو د تو طئو رسوا کول او له منځه وړل دي.

دعوت هیڅکله د چا د تاثیر لاندي نه دی تللی او نه به ولاړ شي.

دعوت د ظلم او استبداد په مقابل کي قیام کړیدی او په دغه لار کي بې له ویرې مخ په وړاندي روان دی.

دعوت، کورنی او بهرني دښمنان رسوا کړیدي او هیڅکا ته یې لغزش، لرزش او کرنش نه دی کړی، هر څه یې چي لیدلي هغه یې رسوا کړیدي. دا وزینه جریده د هیڅ فاسد حاکم او جنګسالار څخه نه ده ډار شوې او د هغوي ظالمانه اعمال یې په میړانه او مردانګی رسوا کړیدي.

دعوت د روسي سور استعمار په مقابل کي په میړانه وجنګید او د خپل ملت په راویښولو کي یې پراخه ونډه اخیستي ده، او تر هغه وخته وجنګید تر څو چي سور استعمار په شا تګ ته مجبور شو.

دعوت د ګاونډیو هیوادونو لاس وهني غندلي، او په تیره بیا د ایران اخوندي نظا م ته یې په هیواد کي د لاس وهنو او د بندونو او انهارو په هکله سخت اخطارونه ورکړیدي، همدارنګه، هم یې د پاکستان پنجابي حکومت ته د ډیورند د کرښي په شا وخوا د اغزن سیم په ارتباط د پښتنو د حق خودارادیت موضوع په کلکه ذکر کړیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعوت د پښتونستان د مسئلي د حل کلک ملاتړ او د فخر أفغان باچا خان د مشي او پالیسۍ سخت پلوی دی. په ګران هېواد افغانستان کې د خویندو او میندو د حقوقو په هکله یې هم کلکه مبارزه کړېده، او یو وار بیا یې وطنوالو ته دا ثابته کړیده چې دعوت به همیشه د عدالت پلوي وي او په دغه لار کې به خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

په هیواد کې همیشه د ملي مبارزینو پلوي کړیده او د نیشلیزم او وطن پرستۍ غږ یې او حرکت یې ژوندی ساتلی دی. او هر کله یې چې بې روا او بې عدالتي لیدلی ده هغه یې رسوا کړېده. دا ټول د دعوت د مسئول چلوونکی ابتکار او منډې ترړي دي چې دعوت لا هماغسې-ځوان او د خپلو هیوادوالو خدمت ته چمتو ولاړ دی. په هکله یې د هیواد تکړه شاعر ګل پاچا الفت صاحب داسې وايي:

سرګردان وي په جهان هغه مړونه

چې د خپل وطن غمونه یې په سر شي

دعوت نه سور استعمار خوښوه او نه غربي استعمار خوښوي، د دواړو په مقابل کې په مبارزه بوخت دی. ده ته د خپل ټاټوبي ملي منافع تر هر څه زیات ارزښت لري، نو ځکه پري مونږ ویاړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## میرمن شکریه بارکزۍ د دعوت
## د ۲۹مې کلیزې په ویاړ

ش. بارکزۍ:
زه غواړم تاسو نه مننه وکړم په دا ستر خدمت چې تاسو يې کوئ. ډېر وخت نه کيږي چې زه ووايم چې د دعوت لوستونکي يم. اول غواړم چې مبارکي يې تاسو ته ووايم؛ ځکه چې هر ادبي او کلتوري فعاليت د هېواد نه د باندې ډير سخت دی، ډيرې ستونزې لري، دننه په افغانستان کې يې هم لري، خو بهر ډير دی. زما له پاره د خوشالۍ ځای همدا وو چې په هره صفحه کې يو نوی نوم او يو نوی فکر سره اشنا کيدم. سربيره پردې چې هغه پخواني ليکوالانو، شاعرانو او سياستوالو نومونه هم وو، زما له پاره دا ډير د خوشالۍ ځای دی. اوس مې پريږدۍ چې لږ رښتيا هم ووايم.
بی بی سی فارسي چې وينم، کله ناکله فکر کوم چې ولې دا د ايران خلک هر چيرته چې دي د پوهنتون استادان دي يا څومره څه لري او افغانان څه نه لري. مګر ستاسو نشريې دا راته وښودله چې نه، موږ يې هم لرو، خو متاسفانه داسې چينلونه نشته چې خلک دعوت کړي او وخت ورته ورکړي چې دوی خپل نظريات وړاندې کړي او بل د خوشالۍ خبر دا وو چې نوي ځوان ليکوالان ستاسو د نشريې له خوانه معرفي کيږي. دا زما له پاره ډير د خوشالۍ ځای دی يا کيدای شي چې زه ډيره د خارج نه ليرې وم، دننه وطن کې وم نو ډير به د دې نه خبره نه وم چې زموږ څومره ملي، او معنوي شتمنۍ د هيواد نه بهر دي. دا زما له پاره فکر کوم يو کلکسيون د افغانستان د ګټو او ملي شتمنيو، څيرو او ملي څيرو نه دی چې بايد درنښت يې وشي او بايد خلکو ته ورو پيژندل شي. زه غواړم تاسو نه مننه وکړم په دا ستر خدمت چې تاسو يې کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دعوت خپروني ۲۹مې کليزې په مناسبت

ډاکټر حضرت عمر زاخېلوال

ژوند څومره په ځغاسته تيرېږي، لکه پرون داسي مي په ياد شي چي په پېښور کـي د دعـوت د خپرونـي د بنسټګر او مسـوول ښاغلي محمـد طارق مشر ورور ډاکټر عبدالصمد ملک زی چي زما ډېر نږدې دوست او ملګرى و ماته د دعوت د جريـدې د لومړنيـو ګڼـو څخه يـوه کـاپي راکړه. پـه هغـه وخـت کـي مـا د افغـاني جريـدو سره چنـدان علاقـه نـه درلوده، ځکه اکثره يي تنظيمي وې چي يا په خپلو تنظيمي لاپـو پټـاکو او يا هم د جنګ او جګړو په تـرويج، تشـويق او تشـديد ځرخېـدې، د هېله مندۍ مطالب په کي کم و. زما په څېر يو زلمى کـډوال تـه چـي لا تر اوسه يي زده کـړې نيمګـړې او راتلـونکی يـي نـامطمين مګـر هيلـي زياتي وې ناهيلونکي وې. مګر د دعوت په جريـده کـي مـي بـرعکس هغه څه پيدا کړل چي مايي لوستل غوښتل:

د آزادۍ او بې پرې خبرونو تر څنګ ازادې شنني، خپلواک نظريات او د داسي ملي شخصيتونو سره مرکي چي د کډوالۍ په چاپېريال کـي پـه نظر نه برېښېده مګر نومونه يی آشنا او هېلي ورته زياتي وې.

په ټوله کي جريده په ملي موخو ځرخېده لکه سوله، ملي يووالی، مـلي شـناخت، مـلي حاکميـت، دې موخـو تـه شـته ګواښـونه او فرصـتونه او هېواد د يو لا ستر ناورين څخه ساتل.

په ۱۹۹۱ ميلادي کال کي زه د لوړو زده کړو لپاره کاناډا ته لاړم. په هغه وخت کي نه انټرنېټ و نه ازرانه موبايل تيليفونونه او يـا د اړيکـو نـورې اسـانه وسـيلي. لـه افغانسـتان څخـه د شـوروي پوځونـه وتـلي وو او د شوروي اتحاد په نسکورېدو سره د غرب لپاره پـه افغانسـتان کـي نـور د علاقه مندۍ څه نه و پاتي؛ نو ځکه افغانستان نه د غرب په تلويزونو او نه هم په جرېدو، اخبارونو او مجلو کي په خبر يا مضمون ارزېده. مګر پـه افغانستان کي خبرونه ډېر او اکثر يي د اندېښني وړ وو.

د ډاکټر نجيب د حکومت وروستۍ سلګۍ وې او د جهادي تنظيمونـو او سيمه ايزو استخباراتي ملاتړو يـی د قـدرت پـر سر د خـونړي پـړاوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیاری نیولی. په داسې وخت کې همدومره چې په ګران هېواد کې پیښې دردونکې وي همغومره له هغوی څخه لېریوالی او بې خبري.
نـو د هېـواد د حـالاتو سره د نـږدې پـاتې کېـدو لپـاره مـې د دعـوت د جريدې سره اړيکې اړينې وبللې. ښاغلي بزګر صاحب ته مـې لیـک او خپل ادرس ولېږه چې په پيرزوينه يې له هغې وروسته د دعوت جريدې په مسلسـله توګـه راسـتولې او پـه دې توګـه يـې د ګـران هېـواد د ترخـه تاريخي پړاو سره نږدې وساتلم.
زه د دعوت خپروني د ۲۹مې کالیزې په مناسبت څخه په ګټـې ښـاغلي محمد طارق بزګر او د نوموړې خپروني ټولو کارکونکو ته نه یواځې مـا سره د دوی د ځانګړې پيرزوینې بلکې همدارنګه د هېـواد د تـاريخ پـه ډېر حساس پړاوو کې د مطبوعاتو په ډګر کـې د دوی اغيـزمن تـاريخي مسولیت او رسالت د ښه ادا کولو له کبلـه د زړه لـه کـومې منـنه کـوم، د لاسته راوړنو يې ورته مبارکی وايم او د هسک ځښـتن څخـه پـدې او د ژوند په نورو چارو کې لا زيات بریالیتوبونه او سرلوړی غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درې لسيزې جهاد مو مبارک شه

ډاکټر نبي مصداق

د دعوت جريده د لومړي ځل لپاره په ۱۹۸۸ م کال کې چې زه په لندن کې وم، راته را ورسېده. جريده څلور مخه وه او کـه هېـر شـوي مـې نـه وي، مضمونونه يې په تور قلم په لاس ليکل شـوې وو. پـه هغـه وخـت کې د مجاهدينو له حال احوال نه بله مهمه جريده مجاهد ولس و چـې د استقلال جريدې او د څو نورو تر څنگ به له پېښور څخه خپرېـدې.
په لندن کې د ستميانو ورځپاڼـه (اميـد) تـر هغـه وختـه او تـر څـو کـالو وروسته پورې داسـې نشرـيات درلـودل چـې نـه ورتـه افغانسـتان، نـه د افغانستان نوم او نه معاصر تاريخ کوم اهميت درلـود. د دوی همفکرانـو به د اروپا او امريکا نه په ((اميد)) کې په داسې وخت کـې چـې لا هـم جنگ روان و، زهرجن تبليغات روان کړي ول.
نو د دعوت جريده چې د ناروې د هارايد او وروسته له ليليسټروم څخه خپرېده، ډېرو افغانانو ته دا توقع ور کړه چـې پـه افغانسـتان کـې د روان جنگ او داخلي پرديپالو په خلاف خپل مضمونونه وروليـږي. دعـوت له کوچنيوالولي نه په بيړه ځوانۍ ته ورسېد او د دې پرديپـالو پـه مقابـل کې د پوهاند هاشميان د آيني مجلې په شان چې له کليفورنيا نه خپرېده يو کلک سپر و گرځېده. محمد طارق بزگر چې د دې جريدې د امتياز څښتن و او دی، له هغه معاش نه چې لاس ته يې راوړ، دعـوت چاپـاوه او د پُستې له لارې يې اسيا، استراليا، افريقا، امريکا او اروپـا تـه اسـتوله.
پُسته په اروپا کې ډېره لوړه بيه لري؛ نو ما به تل دا فکر کاوه چې دی بـه هرومرو د خپلې کورنۍ د آزوقـې ډېـره برخـه د جريـدې پـه نشرـولو او پُستولو باندې مصرفوي.
د انټرنېټ او مجازي فضا په منځته راتلو سره، دعـوت د لاسي ليـک نـه چاپي ليک ته ورسېده او د پُسـتې پـر ځـای د انټرنيـټ لـه لارې لا هـم زياتو مينه والو ته په رسېدو شو.
څو کاله وړانـدې محمـد طـارق بزگـر پرېکـړه وکـړه چـې يـو انټرنېټـي تلوېزيون منځ تـه راولي؛ څـو د نـړۍ پـه ټولـو برخـو کـې افغانـانو تـه د دعـوت لـه جريـدې نـه لا ښـه او پـر وخـت خبرونـه او پروگرامونـه ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسوي. د دې لپاره موږ ځينو افغانانو چې په اروپا، امريکا او نورو ځايونو کې وو، دعوت ته مو د خپلې وسې په اندازه مرسته ورواستوله چې دغه انټرنيټي ټلوېزيون ډېر ژر پيل شي. د دې لپاره پريکړه داسې وه چې هر څوک به وکولای شي خپل تصويري پروگرامونه د انټرنيټ له لارې د دعوت مرکز ته را واستوي او هغه به يې له ايډيټ او سمون نه وروسته په انټرنيټي تلوېزيون کې داخل کړي.

زه له هغه نه وروسته په يو لړ سفرونو کې شوم چې په هاوايي، جاپان او قفقاز کې به مې درس ور کاوه. پوه نه شوم چې زموږ هغه پروژه کوم ځای ته ورسېده. په هر حال! دعوت چې له دوو پاڼو پيل شوی و، کله تر شپږو او کله تر اتو چاپي مخونو ته به، په کوچني اته سايز کې چاپېده او زموږ ټولو نوموتو ليکوالو او شاعرانو دا ځوانه جريده د کميت او کيفيت له نظره د پوخوالي سن ته ورسوله. اوس چې زموږ لپاره په انټرنيټ کې يوه پېژندل شوې سرچينه ده، د مشهورو ليکوالانو او د افغانستان تاريخ او د کلتور نورو برخو ته پکې جلا جلا فايلونه پرانيستل شوي دي. دا فايلونه د هغو ځوانانو لپاره چې که د افغانستان په تاريخ، ادبياتو، ژبپوهنه، تاريخ، سياست او داسې نورو باندې د مضمونو او يا مونگرافونو د ليکلو غوښتنه کوي؛ نو مطالعه يې اړينه ده.

محمد طارق بزگر په تېرو نهه ويشت کالو کې په اقتصادي او شخصي- هر ورځني کړاوونو تر څنگ، دا جريده د افغانستان د مطبوعاتو يوه مهمه برخه گرځولې ده او زه باور لرم چې زموږ موجوده ځوانان او راتلونکي نسلونه به د څېړنو لپاره د دې ترڅنگ د پوهاند هاشميان (آينهء افغانستان) له مجله نه هم چې د شلو کالو په موده کې په افغانستان کې د شوروي تېرى او را پاتي کړاونو باندې مضمونونه ليکلي، د خپلو علمي ليکنو لپاره ورنه استفاده کوي؛ ځکه په امريکا او اروپا کې دا دوې سرچينې له روسانو سره په لس کلن جنگ او له هغه نه وروسته د مهاجرو افغانانو په سر درگومي کړاونو باندې له هر نظره څېړني شوې دي.

زه د دعوت د ځوان د امتياز څښتن بزگر صيب تر څنگ پوهاند هاشميان ته هم د دوی د قلمي جهاد د دوام مبارکي ور کوم او دواړو ته ډاډ ورکوم چې د افغانستان د ادبياتو په تاريخ کې يې ځان ته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېرېدونکي مقامونه ګټلي دي. خداى ج دې له دوى دواړو سره ښه وکړي او بزګر صيب ته دې الله ج توفيق ور کړي چې د دعوت ځينې تاريخي فايلونو مواد د کتاب په بڼه هم راته چاپ کړي. زه حاضر يم چې له کابل څخه د داسې مطبوعو په لټون کې شم چې زموږ د دې هيلې په تر سره کېدو کې را سره مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دعوت د کولتوري او معنوي خدمت
## نهه ویشتمه کلېزه دې مبارک وي

محمد نقیب تره خیل

ښاغلئ محمد طارق بزگر، خپل هوډ ته وفادار شخص دی. وایـی چـې باعزته خلک با اخلاقه با صبره باحوصله با قناعته قانع هوډمن او زړه ور وي او په ملگري کې وفادار پاتي کېږي.

زه له ۲۰۰۱یوم کال نه دعوت سره قلمي رابطه لرم. له بزگر صیب سره د تلیفوني اړیکو سربېره دوه درې پلا کښېناستلي سره هم یـو. احساساتي جذباتي او د باجگېرۍ خبري چـې هېـواد، ولـس، قـوم، ژبـې، دیـن تـه خدمت کوم هیڅ مې ترې ندي اورېدلي. سره لدې چې په یاد خـدمت له پخوا بوخت هم دی، څه دا خاصیت یـی د فضـلیت، تقـوا او د ښـو اخلاقو ثبوت دي.

کانټ اخلاقي کار پدې ټکو راپېژني:

که څوک له چاسره پدې نېت ښـه کـوي چـې یـو وخـت بـه یـی بـدل راکړي، دا اخلاقي عمل نه دی. که د دې لپاره له چا سره مینه کوي چې خلک مې وستایي، دا هم اخلاقي عمل نـه دی. اخلاقـي عمـل هغـه ده چې د ځان د خوښي او گټې عمل په کې نه وي.

د صبر او حوصلي په اړوند به له بزگر صېب سره د شـوي عمـل یادونـه وکړم. مجلس مو سره کوه، ښاغلي بزگر زمـا د پوښـتني پـه ځـواب کـې داسې وویل:

افغان کولتـوري ټـولني کـولن کـې غونـډې تـه بللـی وم. د دعـوت یـو گډونوال ته مې یادونه وکړه کال نژدې اخر دي که د گـډون روپـې دی راکړي. ویې ښیه! ښایسته ځنډ وروسته راغې. له یو ملگري سره ولاړ وم. د پنځه گون اېرو لوټ یی راگذار او پر ځمکه ولوېد. را وامې خیست او ورله ومې خندل. کبرجن د ۵۰ پرځاي پنځه گون ورکـړی، هاغـه هـم د سوالگر په څېر.

هو؛ د قناعت نښه یی دا ده څه د خپل د نفس بادار او د کار په مزد قانع کس دی، نه د واکمن او نه د شتمن پروا لري. د ځاني منفعت لپاره یـی نه د چا ملاتړ او نه یی د چا مخالفت کـړی. د وینـا تـر حـده عمـل یـی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی او د سوسیالیزم او امپریالیزم د یرغلگرو د هغوي د گوډاگیانو د دین، قوم، ژبې او هېواد د معامله گرو په ضد د دعوت سنگر جوړول یې د زړه ورتوب نښه ده.

پدې ۵۳ کلن عمر کې مې ډېر کسان ولیدل او وامې وریدل چې د دین، ملت، ژبې، قوم او هېواد ته د خدمت کولو په نوم یې کولتوري ټولنې په بلجیم، جرمني، هالنډ، انگلیند او د اروپا په نورو هېوادو، امریکې او استرالیا کې جوړې کړې غونډې یې وکړې، مجلې یې راوویستې، سایټونه یې جوړ کړل؛ درې څلور کاله وروسته یې ټولنې، سایټونه او مجلې شلې شنډې او شاړې پرېښودې. د ثروت او شهرت موندو لپار د هغو کسانو او د هغه حکومتو مله شول چې دوی هغوی قاتلان، خاینان، جنایتکاران او فاسده ادارې یې نومولې. سره لدې چې د ښاغلي بزگر کولتوري هڅې د هغوي په پرتله څو برابره زیاتې دي او د پېژندگلوی امکانات یې هم ترې ډېر دی، خو ثروت، قدرت او شهرت د خپل د وجدان د سپېڅلتیا په وړاندې هېڅ وگڼل نو ځکه د پرگنو ترڅنگ ولاړ دی. الله ج دې په همدې هوډ باندې تل پاتې وفادار لري چې هر رېښتني افغان د دعوت له سنگره د اسلامیت او افغانیت پر دښمنانو همدا شان لعنت ووایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دعوت دې سل کلن شي

زاهد جلالي

د دعوت خپروني له نامه سره له ماشومتوبه اشنا یم. هغه مهال زه د هجرت دیار د نوښار سیمه کې د جلوزو پر سړک په یوه کمپ کې اوسېدم. د هجرت او ستونزو هغه کونج و کنار ماحول کې بزګر صاحب تر کلیو او بانډو دعوت مجله رسوله.

بیا چې ځوان شوم، انټرنټ سره اشنا شوم، لیکني و ژباړې مې پیل کړې، دعوت انټرنټي پاڼه یو له هغو ادرسونو څخه وه چې زما مقالې په کې د سترو لیکوالو ترڅنګ نشرېدې.

له دعوت سره زما اشنایي اوږده شوه او تر دې ځایه راورسېده او لا پر مخ درومي. دعوت رسنۍ کې ما ته دوه د پام وړ ټکي ښکاري. یوه دا چې له هماغه پیله په کې د پښتو او دري ژبو ښه انډول ساتل شوی و. د پښتنو خو ورته ډېره توجه وه، خو د دري ژبې د سترو لیکوالو لیکنې هم په کې خپرېدې. همدا د دعوت رسنۍ برکت و چې له اسحاق نګارګر، هاشمیان، څېرکیار او نورو سترو لیکوالو او پوهانو سره یې آشنا کړم.

د دعوت پاڼې بله ځانګړنه د دې ازادي او خپلواکي ده. نن سبا خو د هرې رسنۍ پر تندي د ((ازاده او خپلواکه)) شعار لیکل شوی، خو تقریباً هره رسنۍ د یوه جهت له لورې تمویلېږي او د نورو نظرونو خپرولو سره علاقه مندي نه لري، خو دعوت داسې نه ده. دعوت کې رښتیني ازادي شته. زه تل دوستانو ته وایم چې که غواړئ واقعاً ازاد نظر د خلکو تر اذهانو ورسوئ، اصلي ځای یې دعوت دی.

د دعوت تر شا ایکي یوه ستړه ده او هغه طارق بزګر صاحب دی. بزګر صاحب د نظر اختلاف زغمي او واقعاً یو محترم او د پراخې سینې او خلاص لاس سړی دی.

زه هغه مهال چې اسلام اباد کې محصل وم او د افغان محصلینو د مجلې مسوول، بزګر صاحب راته څو وار په خپله ویلي چې د محصلینو د مجلې د دغې ګڼې مالي ملاتړ پر ما. دغه راز زما د یوه کتاب د چاپ لګښت یې په خپله غاړه اخیستی، تر څو د سید جمال الدین په اړه دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليكل شوى كتاب په ټيټه بيه د خلكو لاسونو ته ورسيږي او د هغه په اړه پوهاوى زيات شي.

بزگر صاحب، فرهنگ دوسته سړى دى او د خپلو وطنوالو د علمي پرمختگ له پاره يې پراخ خدمتونه او ډېرې هلې ځلې كړي.

بزگر صاحب راباندې گران دى. له زړه يې احترام كوم او هيله لرم چې د نوښتونو دغه نړۍ كې د دعوت په څير نور نوښتونه هم وكړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دعوت د خپروني او ويبپاڼي په هکله يو څو ټکي

ډاکتر محمد نواب ويساند

وروستيو نږدې څلورو لسيزو پرله پسې غميزو او ناخوالو، افغان ټولنې ته پراخه ځاني، مادي او معنوي زيانونه واړول. نيم ژوبله توليدي بنسټونه يې په بشپړ ډول ويجاړ، کاري بشري ځواک يې له هېواده د يو زيات شمير په کار پوه کسانوپه وتلو سره وپاشه او د ټولنيزو رسنيو (ميډيا) چارې (چاپي، انځوريزې، غږيزې)، چې د دولت د درې گونو قواوو (اجرائيه، مقننه او قضائيه) وروسته په سياسي، ټولنيزو، کولتوري او اقتصادي ډگر کې د سمي او په واقعيت ولاړ راپورونو په ورکولو سره، چې د يوې څلورمې قوې په توگه د ټولنې د پرمختگ او رښتني ولسواکۍ (دموکراسۍ) په راوستلو کې ځانگړی اغېز درلودلای شي، هم ټکنۍ کړ.

خو د خپروني گټورتوب او ارزښت ته په کتو، له هېواده بهر د نړۍ په بېلابېلو هيوادونو کې ميشتو خورو ورو او د کلک هوډ درلودونکوونکو افغانانو د هيوادنۍ ميني له مخې د پردېسۍ په ستونزمن ژوند کې د خپلو غښتلو متو په زور د چاپي، انځوريزو او غږيزو خپرونو له لارې د خپلو شونتياوو، وخت او شرايطوته په پام خپلو خلکو او ولسونو ته د چوپړ لپاره ملا وتړله.

د دعوت ميډيا، چې په پښتو، دري او انگليسي-ژبو خپروني لري او اوس يې ۲۹ يمه کليزه لمانځل کيږي، د يو هوډمن، ځوان، تکړه، په مسلکي پوهي سمبال، با تجربه ژورناليست او په خپلو خلکو او هېواد مين شخصيت ښاغلي محمد طارق بزگر له خوا د پراخه هلوځلو او زيار وروسته په کار پيل وکړ. په دغه تيرو کلونو کې يې نه يواځې د خپلو خپرونو له لارې خپلو هېوادوالو ته د پښتو ادب په ډگر کې بې ساري خدمتونه وکړلای شول، بلکه د وخت په تيريدو سره يې د يو لړ نوښتونو په راوستلو د ويبپاڼي بڼې او جوړښت ته داسي ښکلا ور وبښله، چې د خپلې ځانگړني له کبله د ډېرو معتبرو ويبپاڼو په منځ کې د پام وړ او زړه راښکوونکی ځای لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دعوت میډیا، نه یواځې په خپل وخت د هېواد او نړۍ اړوند د بېلابېلو تازه او مهمو پېښو د بشپړو او کره مالوماتو د لاسرسي یوه په زړه پورې سرچینه وګرځېدله، بلکه د ټولنيز ژوند د بېلابېلو فنونو پورې تړلي علمي او اکادمیکو مالوماتو خپرول، چې د وګړو د مسلکي پوهې د لوړولو او د ټولني د پرمختګ سره مرسته کوي، ځانګړې ارزښت لري.
لوستوال په ډېره اسانۍ سره کولای شي هم خپله دعوت خپرونې او ويبپاڼه کي د خپرېدونکو مالوماتو نه ګټه پورته کړي اوهم یې د نورو همفکرانو سره شريک کړي.
دعوت میډیا، د کلتوري او فرهنګي ارزښت درلودلو ترڅنګ، په خپل وار د افغان ټولني د واکمنانو له خوا د پټ ساتل شوو کمزوریو په راسپړلو، ناخوالو او بې عدالتیو په ګوته کولو او د پردیپالو او ملي ګټو ضد څېرو په افشا کولو او همدارنګه د نورو منفي پدیدو په وړاندې مبارزې ته د ټولني د رښتینو بچیانو په راویښولو او هڅولو کې رغنده رول لوبولی دی.
زمونږ له بیداره بخته، له هغې راهیسي، چې د نړۍ هېوادونه او ولسونه د انترنيټي تکنالوژۍ د نړیوال کېدو له برکته سره نږدې شوي او نښلوشوي دي، د د عوت میډیا هم په خپل وار د ننۍ نړۍ مهمې پیښې په ډېره چټکۍ سره د نږدې او لېرې پرتو سیمو اوسیدونکو ته د خپلو خپرونو له لارې رسولي دي.
خو له بده مرغه زمونږ د هېواد یو زیات شمېر بې وسه افغانان د اقتصادی او امنیتي ستونزو له امله نه شي کولای د خپرو شوو مالوماتونه، لکه د نړۍ د نورو پرمختللو هېوادو د وګړو (انترنيټ ته د نه لاس رسي له کبله) په څېر ګټه پورته کړي.
د دعوت میډیا له لارې نه یواځې د هېواد او نړۍ د روانو حالاتو په هکله د مالوماتو خپرېدل د پام وړ دي، بلکه په هېواد کې د سرتاسرې سولې د ټینګښت، د اداري فساد د له منځه وړلو، د ورځېزو چارو د ټیکاو او سمون او د خلکو د پوهاوي د کچې د لوړولو په موخه د هر ډول رغوونکو وړاندیزونو د خپرولو اغیز یې هم له پامه نه شو غورځولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې د دعوت میډیا مشرتابه او مینه والو ته د دعوت خپرونې د کلیزې مبارکي وایم اود لا ډیرو بریاوو په هیله یې.

وړاندیز:

که څه هم دا به اسانه کار نه وي، خو که په ویبپاڼه کې د هر لیکوال یا څیړونکي په نوم یوه جلا کړکۍ، چې د تیرو خپرو شوو لیکنو د ارشیف څخه د لیکوال د نوم په ورکولو د اړینې موضوع د ژر پیداکولو او لټون سره مرسته وکړلای شي، جوړه شي، بده به نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دعوت د نهه ویشتم خپرنیز کال په مناسبت

دکتور محمد عثمان روستار تره کی

د افغانستان د جګړې د پیل نه راهیسي، مهاجر افغانان چه د نړې په مختلفو هیوادونو کې یې تیت او پرک ژوند له سره تیراوه د لاندې دوه دلیلونو په بنست یوې اغیزمني مطبوعاتي کمیونیکیشن لاسوند ته اړتیا لیدل کېده:

ــ خپل منځي اړیکي د تامینولو په مقصد
ــ د وطن د حالاتو نه خبرتیا

دغه اړتیا د افغانستان نه د باندې افغاني میډیا او مطبوعات افغانانو ته ور په برخه کړ.

د کډوالتوب په لمړیو کلونوکي د نړي په ګوت ګوټ کي بې شمیره خپرونو په کار پیل وکړ چه زیاتره یې د بهرنیانو له خوا تمویل کیدلي. د وخت د تیریدو سره جوخت افغاني مطبوعات د عامه ارزوني د فلتر نه تیر شو؛ یوازې هغه خپروني پاتي شولي چه د لاندې امکاناتو نه برخمني وې:

ــ د تمویل ډاډمني سرچیني
ــ مسلکي مدیریت
ــ تکړه قلمی همکاران
ــ د لوستونکو هرکلي.

د افغان مهاجرینو په منځ کې، دعوت د افغاني مطبوعاتو په کورنۍ کې د هغه لړو خپرونو څخه ګڼل کیږي چه د نوموړې معیارونو په بشپړیدو، توانیدلې نهه ویشت کاله عمر وکړی.

دعوت د هیواد د اوږدې غمیزې په کلونو کې چې له هرې خوا د تاریخي شخصیتونو، افغاني ملي ارزښتونو او ملي مشترکاتو د پیکه کولو او ورکاوي طوفان را الوتی وو، د خپلو قلمي وفادارو همکارانو او پر وطن مینو افغان شخصیتونو په مټ، د ملي پرتم، ملي وفاق، ملي ارزښتونو او ګډ وطن د ساتني او دفاع توغ پر خپلو اوږو ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعوت د خپل عمر په اوږدو کی د افغانانو او په ځانګړي توګه د افغاني کډوالو په منځ کی د نظر د تبادلې د باوري وثیقې په توګه پیژندل شوې ده؛ د ملي تفاهم زمینه برابره یې کړې ده. د ژبې، قوم، سیمې او مذهب د تعصبونو په وړاندې د ټینګ ملي مورچل د دریځ نه د مقابلې جوګه شویده او د افغانانو د سیاسي شعور د ودې په استقامت یې اوچت ګامونه پورته کړیدي.

د پیژندل شوې قلمي همکارانو سره اړیکې، په پښتو، دري ژبو خپرونې او د هغوي ترمنځ انډول، د افغانستان او نړې د مهمو وروستي خبرونو خپرول، دعوت ته د ژوند د بقا ضمانت او د یو ستندرد اخبار بڼه ورپه برخه کړې ده.

زه د دائمي همکار په توګه د دعوت چلونکو ښاغي بزګر ته د دعوت د نهه ویشتمې کلیزې په مناسبت مبارکي وایم او ورته د هیواد په خدمت کې د لازیاتې هڅې او زیار هیله کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعوت د افغانانو د ملی روحیی او ستراتیژیکو روابطو کی لوی رول لوبولی دی

فهیم نظیمی

ما د ښاغلی بزګر صاحب سره ډیر کلنونه پخوا په یوه میلمستیا کی په لندن کی ولیدل او په تصادفی توګه اشنا شوم او له همغي ورځي د دعوت ویبپاڼی او مجلی دعوت سره هم اشنا شوم. د هماغه وخت راهسی د ښاغلی بزګر صاحب ورځپاڼه زما د هیلو، نظریاتو د خپرولو، وطنوالو او نړیوالو سره د ارتباط ستره منبع او وسیله ګرځیدلی ده. د ده مسلکی پوهه او هاند او زیار د دی باعث وګرځیدل چی نوموړې ورځپاڼه چاپی او رسانه یی خپرونی وکړي او ډیر زیات مینه وال پیدا کړي.

د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز د افغانانو د ملی روحیی او ستراتیژیکو روابطو په ټینګولو او نړی والو ته د افغانستان د حقیقت او واقعیتونو په رسولو کی لوی رول لوبولی دی.

پوره ۲۹ کاله کیږي چی ښاغلی محمد طارق بزګر صاحب او د ده ټیم شپه او ورځ په پوره ایمانداری او مسلکی مهارت او لیاقت کار او زیار ایستلی او لوی مطبوعاتی او ژورنالیستیکي خدمات یي په پښتو او انګلیسی ژبه وړاندی کړي دي، چی خورا زیات د قدر او ستایلو وړ دی. د ده دا ټولی لاسته راوړنی په ډیرو کمو اقتصادی امکاناتو تر سره شوی او لا هم روانی دي.

دعوت ورځپاڼه او مجله، انترنیتی سایت او فیسبوکی خپرونی اوس جهانی شهرت موندلی او خورا ډیر مینه وال لری. زه فهیم نظیمی د ښاغلی بزګر صاحب د زیار، هاند، لیاقت او مسلکی پوهی او د وطنپالنی د عالی روحیی په درلودلو له کبله و ده ته د زړه له کومی مبارکی وایم او ویاړم چی ښاغلی بزګر صاحب او د ده ټیم دا ټول صفات په تیرو څو لسیزو کی د عمل په دګر کی افغانانو او نړی والو ته ثابت کړي دي. د لوی خدایه ورته د لا بریاوو هیله کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعوت د انسانيت

بېکسيار

کابل د غونډو، منډو، مشاعرو، سمينارونو، مجلو، اخبارونو، مجالسو او محافلو زانگو وه چې زه ترې رابېل شوم.

د حمزه بابا دغه شعر چې وايي ((يو شور يې د شهرت و چې شوم پېښ په پېښور))، هغه وخت په رښتيني مانا کابل ته مخاطب کېداى شواى. ما تازه تازه شعر اومشاعرو ته مخه کړې وه، له کتاب او اخبار سره مې جوړه راغلې وه، ادبي بنډارونو او شب نشينيو داسې په غېږ کې اخيستى وم چې ستړيا او بې خوبي مې هډو پېژندله نه.

پېښور ته په راتلو مې دغه شور، هيجان او غوغا داسې خاموشه شول لکه په ډک محفل کې له ډېرې مستۍ د دوکړيمار دوکړه وچوي. اروايي حالت مې داسې وه لکه د مور د مرگ، شيدو وچېدو يا کومې ناروغۍ له وجې په درې مياشتني ماشوم د مور شيدې بندې شي. په پارسۍ کې دغه ماشوم ته شير سوخته وايي.

هو البته يو څيز چې له کابله بيا تر پېښوره، او بيا د پېښور په هغه ټوله موده کې تر هر څه زيات و، هغه دعوتونه و. د کومې مېلمستيا، واده او کوژدې دعوتونه، نه، بلکې گوندونو، سازمانونو، ايزمونو، له گوندونو جلاشويو ډلو او له ډلو جلاشويو ټپلو ته. يو کس به چې يوازې يو دوه ورځې ځان در سره لږ خوږ را خوږ کړ او لږ په ادب او احترام به يې در سره ستړي مشي، خواره مشي وکړه نو دريمه ورځ به يې ضرور ديوې ډلې، ټپلې، نظريې او عقيدې دعوت در مخکې کاوه.

څو کاله وروسته ډنمارک ته په راتلو حالت نور هم ترينگلى شو، ياني له بده بد تر. په پېښور کې که له يوه همژبي او هموطن سره د بنډار او ناستې امکان و، يا د کوم اردو يا تنظيمي اخبار د کتو او يا په قصه خوانۍ کې د مرگ منظر، ادم خان درخانۍ، غم غلط، د بيلتانه ټپې او دې ته ورته کتابونو د لوستو امکان و، هم له منځه لاړ. پدې هکله کابليان يو عجيب مالگين طنزي ډيالوگ لري:

ـ ولوېدې؟

ـ هو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ژوبل شوې؟
ـ نه.

اوس نو زه داسې لوېدلی وم چې د خوږو بيان يې نور هم په ناسور زخم د مالگې پاشل و او بس. نور نو کراره کراري وه هېڅ نه و. نه يو همژبی، نه يو کليوال، نه يو دښوونځي يا پوهنځي ملگری، نه کتاب، نه مجله، نه اخبار، نه شعر، نه مشاعره، نه محفل، نه شب نشيني، هېڅ هم نه، ابې مړه تبه شلېدلې.

د نهيلی، غم، درد او کرب په دغسې توپان او د مهاجرت د ژوند په سختو اروايي حالاتو کې، د اروپا په دائيم الدائيم تورو وريځو، يخونو، بارانونو او ځول کې چې ښايي زما دغه شعر د هماغه وختونو انځور وي:

هسې يو دوه گامه ژوندون لنډول
د اروپا زنده گي څه زنده گي؟

څه گورم چې يوه ورځ بيا يو ((دعوت)) را غی. اول خو لکه هغه چې وايي، مار خوړلی له پړي وېرېږي، لږ غونډې ووېرېدم. ماوې که د پېښور او کابل دعوات دلته هم را پسې راغلل، خو چې مې پرانيست او ومې لوست، کيسه بل ډول وه.

دغه دعوت تر هغو نورو دعوتونو بېخي بل شان دعوت و. دغه دعوت له هغو نورو دعوتونو دومره ټوپير درلود لکه بېخي له کومې بلې سيارې او د ځمکې له کومې بلې جلا کړې چې راغلی وي. دغه دعوت نه د کوم ايزم دعوت و، نه د کوم گوند، نه د کومې ډلې او نه د کومې ټپلې.

دغه دعوت د افغانيت دعوت و، دغه دعوت د اسلاميت دعوت و، دغه دعوت د غيرت، ننگ، ناموس، حيا او د وطن د مور د پړوني دعوت و.

دغه دعوت د هغو مهاجرو خويندو، ميندو د لوپټې دعوت و چې: چايي پلو ليدلی نه و.

اوس د جمرود په غاښې ځي سر تور سرونه.

لدغه دعوت څخه يوه تر سکونه وطني وږمه راتله، چې پکې د ممانړو، گور گورو، ښېځو، توتو، غوزانو، سنځلو، ازقلاني خټکيو، بغلاني هندوانړو، قنداريو انارو، جوزجاني پستو او خوستيو جلغوزو رنگونه او خوندونه لکه د گوتې غمی پکې را ټول شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لدغه دعوت څخه د روس او روس پلوو خلاف د افغان فيلسوف ګل پاچا الفت دغه ناره بې لـدې چې د هـرې ګڼې پـر تنـدي ليکلې وي لوستونکي ته تداعي کېدله:

یو پټ غلی احساس دی چې ارام مې نه پرېږدي
په اور مې کړوي لکه چې خام مې نه پرېږدي
جرئت مې زيا توي دومره په ځان يمه پوه شوی
غافل له خپله حقه او غلام مې نه پرېږدي

دغه دعوت د تېرو درې لسيزو په اوږدو کې مدام د پاکستانيزم، ايرانيزم، عربيزم، روسيزم او ډېرو نورو ايزمونو خلاف د رښتينو او پـه وطـن مينـو افغانانو د مبارزې تود سنګر و، دی او وي به ان شاالله.

د دغه دعوت په هکله يوه بله خبره هم د استاد الفت پـه وينـا: وخـت د اعتراف دی ګونا خپله درته وايمه!

پدا دومره کلونو کې مې يوه افغانۍ، يوه انه، يوه حبه د دعوت چلوونکو ته نده ور کړې، هسې که خپله کومـه شـعري ټولګـه يـا د هيلـې مجلـې کومـه ګڼـه مـې، هغـه هـم د چـا پـر لاس ور ليـږلي وي والله اعلـم؟ خو ښاغلي بزګر د دعوت هره يوه ګڼه، نه يوازې يوه ګڼه بلکې د يـوې ګڼې څو څو کاپياني هر هر ځل د دا دومره کلونو په اوږدو کې مخـامخ د پوست له لارې ماته را استولې دي، او خدای خبر چې زمـا پـه شـان به يې په لسکونو او سلګونو نورو ته هم استولې وي. زه له خپله اړخه او تولو هغو ملګرو په استازولۍ چې ما ورته د دعوت ګڼـې رسـولي دي د دعوت کليزې په وياړ ښاغلي محمد طارق بزګر، ډاکـتر محمـد فريـد بزګر، د بزګر ټولې کورنۍ او د افغاني رسنيو پراخې مجموعې ته مبارکي وايم. پاکه ربه د انسانيت دغه چغه همداسې رسا لـرې او ازانګـه يـې د افغاني رسنيو په ټولي کې مه کموې. امين، ثم امين!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له دعوت سره د ملگرتوب له پیله تر نن

ډاکتر جمشېد سمون

له هماغه پیله مې چې دوه اونۍ وړاندې ښاغلي او ملي ژورنالیست درانه ورور محمد طارق بزگر راته په نږدې راتلونکي کې د دعوت د ۲۹ مې کلیزې او په هکله یې د نظر او یا څه لیکلو پوښتنه مخته کېښېښوه، له آره نیت دا ؤ چې د ښې او منځپانګې له مخې به له ما سره د دعوت چاپي ښې په شتو څو ګڼو او همدارنګه د دعوت وېبپاڼې په هکله، چې لوستونکی او مینه وال یې یم، خپله ارزونه کوم، خو له یوې خوا د خپلې لتې له امله چې تل د نن کار راڅخه سبا او بل سبا ته پاتې وي او له بلې خوا ورځینی فزیکي مصروفیت د دې لامل شول چې له پورتني درانه پېټې اوږه سپکه او په دې هیله چې د دعوت ۵۰۰۰ تیراژ درلودونکي چاپي خپروني او په شپه او ورځ کې د کم و ډېر ۱۰۰۰۰ لیدونکو دعوت وېبپاڼې څېرمنه او بې پرې ارزونه به نورو دوستانو هرومرو کړې وي، له دعوت سره د خپلې ملتیا او پر دعوت د روږدېدو کیسه تېره کړم.
پوره یوویشت کاله وړاندې کله چې شمالي ټلواله د کابل ښار پرېښودو ته اړ ایستای شوه، په دغه ښار کې د لوړو زده کړو موسسې او ښوونځې د ((طالبانو اسلامي امارت)) لخوا، تر ((امر ثاني)) پورې وتړل شول.
د طبي زده کړو د وروستي کال وروستۍ میاشتې مو وې، زموږ د ټولګیوالو لخوا، د کابل طب انستیتوت او په تېره بیا د وروستي کال د محصلینو د زده کړو د بیا پیل کېدو هلو ځلو، له ((مشرـ ملا صاحب)) پرته نورو ټولو اړوندو لوړپوړو چارواکو ته مراجعو څه ګټه نه درلوده او ځواب به بیا هم هماغه د راډیو له لارې د ((امر ثاني)) اعلان ته انتظار ؤ.
یو عجیب و غریب ترینګلی او نا هیلی حالت منځته راغلی و، ټول ټولګیوال مو کورونو ته ستانه شول. ښایي ډېرو به ځان ته بوختیاوې پیدا کړې وې، یو له بله چنداني نه خبریدو، د اوس په څېر د اړیکو وسایل نه ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپل مسلک سره د بې کچې مينې او د صميمي دوستانو ډاکټر صاحب روح الله ساپي او ډاکټر صاحب جان محمد اپريدي په څنګونو او ټينګار مې په سروبي ولسوالۍ کې کتنځای پرانيست.
د شپې لخوا د اوسېدو لپاره د يوې کوټې په لټه کې شوم چې دوو اخلاصمنو مشرانو چې په برېښنا رياست کې يې دندې درلودې، د دغې موسسې د مېلمستون په يوې کوټې کې د اوسېدنې راته وويل، د برېښنا او اوبو ستونزه مې حل وه. د اوسېدو لپاره د کوټې د تيارولو او پاکولو پر مهال مې سترګې پر دعوت خپرونې ولګېدې، هېر مې دي او نه يې شم ويلای چې د کړکيو هندارو ته سرېښې او که هسې له کړکۍ سره پراته ول.
له دولس- ديارلس کلنۍ څخه د چاپي خپرونو او کتاب ملګرتوب پالم. هغه د کابلي انډيوالانو په خبره ((مشکل پسند)) هم يم. د نجيب الله د واکمنۍ د وروستيو کلونو، د ((مجاهدينو)) او د طالبانو د واک پر مهال نامعيارو، کليشوي، بې خوندو، پيکه، بې مضمونو، او شعاري خپرونو د لوړ ذوق د څښتنانو تنده نه شوای خړوبولای او هغه د چا خبره د فکر باز يې د دوی پر ځانګو نه شوای کښېناستای. دغه مهال مو پر څو محدودو په لوړ معيار، بې پرو او کره چاپي او غږيزو خپرونو د ذوق تنده ماتوله: له مسکوه ((ليمه))، له لندنه ((ډيوه))، له پېښوره ((ليکوال))، په کال کې يوه- نيمه ګڼه د ((شمشاد)) او بيا راوروسته ((هيلې)) مجلو، د بي بي سي او امريکا غږ راډيويي خپرونو.
د دعوت په تندي ليکل شوي متن ((اسلامي، خپلواکه، علمي، سياسي او فرهنګي خپرونه))، په زړه پوريو، ناپېيلو او تر ډېره په کره ليکدود ليکنو او غني منځپانګې يې خوند راکړ، ډاکټر صاحب روح الله مې چې د کوټې په منظمولو کې راسره مرستندوی و، بې له ځنډه وپوښته: چې دا به له کومه شوی وي؟
هغه د عادت له مخې چې د پوښتنې ځواب يې هم بېرته پوښتنه وه، راغبرګه کړه: ((ولې دعوت دې پخوا نه ؤ لوستی؟ طارق بزګر نه پېژنې؟ د انجنير صاحب نجيب دوی خپل دی، په ناروې کې اوسي او دعوت له هاغه ځايه رالېږي، دلته مخکې په دې کوټه کې د يوې موسسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



انجنير صاحبان اوسېدل، شايد انجنير صاحب نجيب دلته ورتـه راوړي وي.))

څه موده وروسته چې د خپلي سپېڅلي روږدتيـا او د ځينـي کتـابونو او ضروري موادو د پېرودني لپاره د پېښور په کتابپلورنځيو گرځېـدم، نـو د خيبر بازار په ((سعيد بک سټور)) کې مي په دعوت خپرونه بيا سـترگي روڼې شوې. هلته د کتابپلورنځي يو کارمن ؤ، ښه ښکلي غټه تکـه تـوره ږيره يې وه، ما به صوفي صاحب باله، له لهجې دی هم د برې پښتونخوا (افغان) ښکارېده، د نورو په پرتله يې له برنو سره په ښه چلند کې جوت توپير ليده محسوسېده. ما ورته ويل دغه دعوت خپرونه تاسې ته څوک راوړي؟ ويل ولې، خير خو به وي؟ ما وې هسې، پوښتنه مي کولـه چـې څنگه کولای شم ويې وينم، صوفي صاحب چې زما په بې خطری پـوه شو نو ويل (( دا خو ډاکټر صاحب بزگر راوړي، که غواړې زه به يـې د دفتر د ټليفون نمبر درکړم، پته به ترې واخلې او ورسره ملاو به شې.)) د ټليفوني اړيکي په مټ مي د پېژنـدگلوۍ تـر څنـگ لـه ښـاغلي ډاکټـر صاحب محمد فريد بزگر څخه د دوی د کارځای په ((آبدره روډ)) کې د ORA دفتر پته هم واخيسته او په همدا لـومړي ليـده کاتـه کـې يـې د مينې او زښتې مهربانۍ د ځرگندولو تر څنگ د دعوت خپروني پـه څـو وروستيو گڼو او همدارنگـه د ORA او KOR نـادولتي موسسـو د گڼـو خپرونو او کتابونو په راکولو ښه پوره وقدرولم.

راوروسته به هم، چې کله د لويې پښتونخوا ژمني پلاز ته ورکوز شوم نو د ډاکټر صاحب بزگر د ORA له دفتر، د هېوادمـل صـاحب د WUFA دفتر، د ښاغلو پيرمحمد کاروان، استاد بـاجوړي، عبـدالهادي هـادي او احمد تکل د بي بي سي د تعليمي ډرامو دفتر، د ښاغلي نورالبشر نويـد د ((ليکوال)) دفتر، دانش کتابپلورنځي او ((آسيا سـافټ)) لـه دفترونـو مي خامخا د تازه خپرونو د ترلاسـه کولـو لپـاره د کتنـې او دورې هڅـه کوله او تل د دوی له مهربانيو برخمن وم.

مسکو ته له کډوالي سره مي هـم لـه نېکـه مرغـه د دعـوت خپرونـې لـه پـازوال، نومـوتي ژورناليسـت او مهربـان اجتماعـي شخصـيت ښـاغلي محمد طارق بزگر سره تر دې دمه بې اړيکو پاتې شوی نه يم. د دعوت په پېرزوينو ترې خوښ او منندوی يم. رب (ج) دې يې زمـوږ لـه پـراخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوره ښځه نه کموي، فکر او قلم یې همداسې سپیڅلی، تانـد او منلـی غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دعوت ۲۹مه کلیزې؛ د ویاړنې یوه پلمه

اجمل روهي

څه باندې دوه لسیزې وړانـدې، کله چې زه هم د زیات شمېر نورو افغانانو په څېر جلا وطنۍ ته اړ شوم، د برخلیک څپو زه د جرمنـي خاورې ته ورسولم. که څه هم زما د محصلۍ دوره په اروپا کې تېره شوې وه، خو داسې یو هېواد ته راتګ، چې ژبه دې نه وي زده او وګړي یې انګریزې ژبې ویلو ته هم لېوالتیا نلري، ځینې ستونزې رامنځته کولې، چې له رسمي کارونو، ډاکتر ته تګ نه تر کاروموندنې پورې ټولې چارې ور سره تړلې وې.
هغه مهال، چې د نن په پرتله ټکنالوجي دومره پرمختللې نه وه؛ د انټرنیټ او ډیش انتانونو نه شتون هم موږ له دې نه محروم کړي وو، چې د خپل هېواد په هکله کره مالومات ولرو، زموږ لویه خوشالي به دا وه، که کوم چا ته به زموږ لیک رسیدلی و او د هغوی لخوا به ځواب را ورسید او یا به افغاني مجلې، کتابونه او ورځپاڼې تر موږه راورسیدې. د جلا وطنۍ په همدې کلونو کې، ځینې ورځپاڼې یا بهتره ووایم جریدې تقریباً په منظمه توګه رارسیدلې او تر لوستلو وروسته به لاس په لاس کیدلې. د دغو ورځپاڼو څو بېلګې مې چې په یادې دي: «وفا» چې بنسټ ګر یې ارواښاد پروفیسر-رسول امین او سرمحقق زلمي هېوادمل یې مدیریت کولو، «دعوت» د ښاغلي طارق بزګر په مدیریت، «آئینه افغانستان» د ښاغلي سیدخلیل الله هاشمیان په مشرۍ او «مجاهد ولس» د ښاغلي محمدحسن ولسمل په مدیریت.د دغو ورځپاڼو په لوستلو به زموږ د زړه للمه په هېوادنۍ مینه خړوبیدله او هم به اپډیټ کیدلو.
څرنګه، چې سږ کال د «دعوت» ۲۹ کلیزه ده، نو زه به هم د دغه رسنۍ (ورځپاڼې او ویبپاڼه) په هکله، زما په ذهن کې پنځیدلی نظر وړاندې کړم.
زما په اند د هرې بریالۍ رسنۍ په هکله چې خبرې کیږي دا په حقیقت کې د هغه رسنۍ د مدیر او کارډلې د بریالیتوب په هکله خبرې دي. د «دعوت» په هکله هم بې له شکه همدا فرمول صدق کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم د ليکوال د شخصيت او آثارو تر منځ تړاو شته، خو ځيني بيا له دې نظر سره مخالفت لري او وايي، چې کيدی شي يو څوک ښه شخصيت ونلري، خو ښه آثار يې وړاندې کړي وي.

له نيکمرغه زه د «دعوت» بنسټګر او مسوول مدير ښاغلی طارق بزګر پيژنم، له نږدې مو بنډار هم سره کړی او په هغه ډله کې حسابيږي، چې هم درونـد شخصيت لري او هم درنه او بريالۍ رسنۍ چلوي.

يو څو ټکي د ګران بزګر صيب په هکله:

ډير اجتماعي او د اړيکو په پاللو کې تکړه، د غره په څېر حوصله؛ بېلګه يې د ۲۹ کلونو پرله پسې ژورناليستيک کار، له حسد او دښمنيو نه ليرې او بس هسې خوږ انسان.

يو څو لنډ ټکي هم د «دعوت» په هکله:

هيڅکله يې ژيړ ژورناليزم ته مخه نکړه؛ د پيسو او نورو امتيازاتو لپاره يې څوک بې ځايه ټارګيټ او سپک نه کړل. تل يې ملي ګټې په پام کې نيولي او په هېواد کې د خيانت، فساد او ملي خائينيو پر وړاندې يې د مبازې بيرغ تل اوچت ساتلی.

ګران بزګر صيب، ځان او ټولو هېوادوالو ته د دې کليزې او برياوو مبارکي وايم، الله دې همداسې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعوت د ملي ګټو او بیان ازادۍ په تله کې!

سرلوڅ مرادزی

د دعوت د ۲۹مې کلیزې په ویاړ!

تر نورو خبرو مخکې اړینه بولم، د دعوت خپرونې ۲۹ کلیزه او په راوروسته کې د دعوت بریښناپاڼې ښېګڼېزه او بریالۍ چلونه قدروړ او منلي شخصیت محمد طارق بزګر، د هغه همکارانو، او بیا لیکوالو او لوستونکو ته چې د دعوت خپروني او بریښناپاڼې سره همکاري لري او اړیکه ساتي، مبارکي او کور وداني ووایم.

له هېواده لیرې، د کډوالۍ په ناخواله چاپېریال او نیشت امکاناتو، د خپروني د وسایلو او تخنیک د تیارولو د هڅو او کړاوو سره سره؛ د بزګر صیب ۲۹ کلن قلمي او پوهنیز زیار چې مهالپیر یي تر ننه پورې د یوه نسل د عمر سره برابري کوي، نه یوازې د ستاینې او قدروړ دی بلکې د هېوادپالنې یوه داسې غوره بېلګه ده چې ځوان نسل یې باید هر پل پسې پل واخلي!

که څه هم ما مخکې د دعوت خپروني ټولو ګڼو ته لاسرسی نه درلود او یوازې ځینې مې لوستې او بریښناپاڼې سره له پیله اړیکه پالم، خو سړی ویلای شي دواړه، د دعوت خپرونه او هم بریښناپاڼه د هېوادپالنې په ګاڼه سمبال او د ملي ګټو په بیان، ملاتړ او ساتنه کې په تول پوره دي.

د ډېرې خوښۍ ځای دی نن سبا په هېواد کې دننه او بهر د خپرونو او بریښناپاڼو پریماني او ارزاني ده، خو ملي ګټو او د بیان ازادۍ سره د بریښناپاڼو او خپرونو چلند یو راز نه دی. یو شمېر یې له خپرېدو څخه په نه خپرېدو هېواد ته ګټه رسوي او که د ژورنالیزم نور ارونه او ځانګړنې ورسره غوټه شي چې زما د ځانګپوهي له انګړه بهر دي، خبره نوره هم درنه او پیچلې کوي.

ملي ارزښتونو او ګټو ته ژمنتیا او د هغو ساتنه او همداراز د بیان ازادي هغه دوه وزرونه دي چې که یوه خپرونه یې ولري، تر ډېره پرې چلېدای او ژوندۍ پاتې کېدای شي. هغه خپرونې چې له یادو ښېګڼو څخه یوه یې پېکه او یا دواړه یې پیکه او یا یې هیڅ ونه لري، څوک یې نه خوښوي او په لوستلو نه ارزي. همدا لامل دی چې ځینې خپرونې ژر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مري او اوږد ژوند نه لري او ځيني نورې لکه دعوت بيا کلونه دوام کوي، نسلونو اړوي او نسلونه روزي.
زه د دې دعوه نه کوم چې د دعوت خپروني به په يادو برخو کي کومه نيمگړتيا ونه لري، خو تر کومه چې زه يي ارزولای شم، په واړو ډگرونو کې په بريا پلونه اخلي او د لا بشپړتيا او پرمختيا پړاوونه وهي.
دعوت د افغان ټولو قلموالو او ليکوالو د ليکنو او لوستلو خونديځ دی. دعوت د کينډلارو، ښيلارو، منځلارو او گڼلارو ليکنې په پراخه ټنډه خپروي او تر خپلي وسې پورې يي د بيان ازادي ژوندی ساتلي ده. تر اوسه زما هيڅ ليکنه چې ښای ځينو به يي د دعوت تگلار سره سمون هم نه وي لرلی، دعوت بې لاسوهني خپرې کړې. همداراز زه ليکنې، خپلو بيلا بېلو لوستونکو ته د اسانه لاسرسی په موخه نورو بريښناپاڼو ته هم ليږم، خو د ځينو نورو ترڅنگ دعوت په ډېر ورين تندي دا ليکنې خپروي چې ترې مننډوی يم.
يو وخت ما بلي بريښناپاڼې ته ليکنه ليږلي وه. په ليکنه کي مي د وفات شوي شخص د نوم سره د اروابناد کلمه ليکلي وه، نومورې بريښناپاڼي چې نوم اخيستل يي اړين نه بولم، د هغه اروابناد له نوم څخه د خپل تنگليد په لامل، دا کلمه غورځولي وه او په وفات شوی شخص يي د اروابناد تش يوه کلمه قدرې هم پيرزو نه ده!
په پای کې د ملي گټو او ارزښتونو خبره يو ځل بيا دلته رااخلم. زه خو وايم خپرونه دې د ملي هويت، خپل تاريخ او رواياتو په منځپانگه بډايه وي. که نور ورځچاري رنگارنگ مطالب خپريږي، خپاره دې شي، خو هغو کي دې هم د ملي ارزښتونو ونډه خوندي وي.
د خپروني په تگلار کي ملي گټو ته ژمنتيا او په خپرونو کي د داسي ارزښتونو پرله پسي انځورول، خپروني سره د لوستونکو او هېوادوالو د لوست مينه زياتوي، هغوی د هېوادپالني په روحيه روزل کيږي او په دې لامل د خپروني ځلا او ښکلا لا زياتوي. د دعوت خپروني چې په دې گاڼه تر ډېره سمبالي دی، دې ټکي ته يي نوره پاملرنه هم رااړوم!
دعوت ته د خپرونو په هېوادپاله دنده کي لابرياوې غواړم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خجسته کتاب دعوت

دکتور سید خلیل الله هاشمیان

جریدهء وزین دعوت اینک ۱۶ ساله می شود و در مسیر این مدت به مدیریت مسئول شخصیت مبارز، آقای محمد طارق بزگر، موقف ملی و مبارزهء ملی خود را برای احیای افغانستان آزاد، دموکراسی ملی، رفع و دفع هر نوع تبعیض و تاسیس حکومت قانون در افغانستان حفظ نموده و در مدت سه سال گذشته که افغانستان به طور رسمی تحت اشغال قوای اجنبی قرار گرفته، جریدهء مبارز دعوت پیوسته به ضد اشغال اجنبی شعار داده است.

جریدهء مبارز دعوت همیشه از اتحاد ملی حمایت نموده و از حکومت دست نشانده تقاضا کرده تا اول تر به مقابل تجزیه طلبان دست به کار شود، زیرا تا زمانی که جنگ سالاران تجزیه طلب، ولایات افغانستان را تحت تسلط داشته باشند، وحدت ملی تامین شده نمی تواند.

جریدهء دعوت از اظهار حقایق هراس نداشته واقعیت ها را بی پرده بیان می کند، چنان چه در شمارهء مسلسل ۱۶۲ می خوانیم که در دورهء «حاکمیت متزلزل و فاجعه برانگیز مسعود- ربانی که از سال ۱۹۹۲ تا سپتامبر ۱۹۹۶ دوام نمود و موجب قتل پنجاه هزار اهالی ملکی شد و هم اقلاً ۵۰ فیصد عمارات ملکی و رسمی در کابل تخریب شدند... به استناد یک منبع معتبر خارجی، در فروری سال ۱۹۸۳، بین احمد شاه مسعود، عبدالرشید دوستم و قوماندان مالک، قراردادی با روس ها امضا شد که به اساس آن، مسعود مکلف ساخته شد تا امنیت راه سالنگ را برای عبور کاروان های اکمالاتی روس ها به جانب کابل تامین کند....»

جریدهء دعوت با نشر افکار و مقالات دانشمندان افغان و توجه خاص به زبان ملی پشتو توانسته است در بین طبقهء وسیع دانشمندان پشتو زبان محبوبیت خاص حاصل کند. در حالی که با انتشار مقالات زیاد به زبان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملی دری، موازنه بین دو زبان را نیز نگه داشته و از لحاظ ژورنالیزم مانند پلی، فاصله بین امریکا، اروپا، آسیا را به هم نزدیک ساخته است.
تمنیات نیک خود را برای دوام و موفقیت این جریدهء مبارز ملی و برای صحتمندی و سعادت شاغلی محمد طارق بزگر بدین وسیله ابراز می کنم.
پیروز و جاویدان باد مبارزهء ملی به ضد ارتجاع داخلی و به ضد اشغال کشور توسط لشکر اجنبی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعوت د کتاب په بڼه

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

د دعوت میاشتنۍ خپرونه، ۱۹۸۸ کال نه راپدیخوا په ناروې کې د ښاغلی محمد طارق بزګر په سروالۍ خپرېږي. دعوت په دغو شپاړلسو کلونو کې تر اوسه پورې په منظم ډول خپور شوی او لوستونکو ته هم دننه په افغانستان کې او هم له افغانستان نه د باندې په نورو هیوادونو کې رسیدلی دی.

د مساپرۍ په حال کې په نااشنا ملکونو کې خپرونه ایستل او هغه لوستونکو ته په وخت استول اسان کار نه دی. د دعوت دغه غټ کار په لاندې دلیلونو سره واقعې شوی دی. د واقعې کیدلو غټ عامل یې پخپله چلوونکی ښاغلی بزګر دی چې له کډوال کېدلو نه وروسته یې د پردیسۍ په حال کې هم زیار ایستلی چې خپل وطن او وطنوالو ته د قلم له لارې خدمت وکړي.

د ثور له کودتا په تېره د شوروي له نظامي یرغل نه وروسته په ملیونو افغانان اړ کړل شول چې له خپل هیواد څخه ووځي، په ملیونو له خپلو کورنیو سره په پاکستان، او ایران کې کډوال شول او تر دوو لکو پورې یې د لویدیځې نړۍ د بېلو بیلو هیوادونو په تیره جرمني، کاناډا او امریکا ته لاړل. معاصر افغانستان هیڅکله دغومره ډیر افغانان له لاسه ورکړي نه وو، دوی اقتصادي کډوالان نه وو چې د ژوند ښه کولو د پاره به د خپل پروګرام له مخې له وطن نه وتلي وي. دوی لکه چې د مخه مې وویل د مجبورۍ له مخې کډوال شول نو ځکه د کډوالۍ په حال کې د وطن اندیښنه ورسره وه او خپل وطن ته یې ډول ډول خدمتونه وکړل. ځینو د مقاومت د پاره تنظیمونه جوړ یا له سره فعال کړل؛ نورو د همدغو تنظیمونو له لارې د وطن په بیا خپلواك کولو کې اغیزناکه عملي ونډه واخیستله او لا هم نورو د قلم او لیکنو له لارې د افغان داعیه پرمخ بوتلله او د دغه مقصد د پاره یې خپرونې وایستلی. دغه خپرونې ډول ډول او ډیرې دي؛ په تیره په پیښور کې د مقاومت په دوره کې؛ خو له بده مرغه هغه نه په یوه عامه ګڼه مرکز کې ټولې شوې او نه هم په عامه کتابتونو کې خوندي شوې. د افغانانو د پاره دا یوه ډیره غټه کلتوري او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاريخي ضايعه ده؛ ځکه چې په دغو خپرونو کې د افغان ملي مقاومت او په هغه پورې اړوندو موضوعګانو انعکاس کړی و. په هغو کې د افغان کارنامې او تاريخ خوندي وو. دغه حال ښيي چې افغانان به د شتمن ليکلي کلتور خاوندان نه شي. دغه وينا په دغه ترخه واقعيت سره نور هم ټينګه کيږي او هغه دا چې د اسلامي تنظيمونو په دوره کې عامه او شخصي کتابتونونه چور شول، او ډير کتابونه يې وسوځول شول. په هغو کې زما کتابتون هم راځي چې له انګلستان او امريکې نه مې ډير کتابونه ورته راوړي او بيا د کابل د زاړه ښار د کتاب پلورنځيو نه مې د پخوا وختو ډيرې زړې پاڼې او کتابګوټي راټول کړي وو. زما په کتابتون کې يو شمير اثرونه بېجوړې وو؛ لکه د برتانوي هند حکومت د استخباراتو د ځانګي يوه خپرونه چې د افغانستان د وخت د لويانو په هکله وه، او بيا ما د خپلې څيړنې درې کلنې مودې په بهير کې له ناخپرو شوو ارشيفي پاڼو نه نور ډير معلومات پرې ورزيات کړي وو چې دغه اثار د هغو له امله پوره بېجوړې شوي وو. دغه اثر چې په نيم تخته يې پاڼو کې شنه پښتي لرله او اضافي ليکنې يې په انګريزي کې زما په قلم دي شايد بل څوک لوستلی ونه شي.

په کابل کې د طالبانو تر پرزيدلو نه وروسته د خپرونو يوه لويه ازاده دوره پيل شوې ده، خو د دغې دورې خپرونې دننه په وطن کې د لوستونکو د پاره دي. په داسې حال کې چې له افغانستان څخه د باندې په لويديځې او عربي نړۍ کې د دوو لکو په شاوخوا کې افغانان اوسيږي. له ښه مرغه د دغه افغانانو او داسې هم په وطن کې دننه افغانانو د پاره اوس هم په باندينيو هيوادونو کې خپرونې کيږي؛ لکه په امريکا کې "آئينه افغان" د ډاکټر سيد خليل الله هاشميان په سروالي، په کاناډا کې "افغان رساله" د ښاغلي احمد شاه هوتك په زيار، په جرمنې کې "ګوربت" د ښاغلي محمدآصف په همت او "اسه مايی" د ښاغلي حميد عبيدي په زيار، او په امريکې کې "کيوان افغان" د ښاغلی رحيم وحدت په مشرۍ او په ناروې کې "دعوت" د ښاغلي محمد طارق بزګر په سروالۍ، دغه خپرونې هم ملي دي او هم يې د عمر کولو توان ښوولی. البته نورې خپرونې هم شته چې يا يو وخت بل وخت ايستلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي او یا ملي نه دي، لکه د "امید" خپرونه؛ خو دلته په دغو پاڼو کې یوازې د دعوت خپرونې باندې خبرې کیږي.
لکه چې ړومبی مې وویل چې شپاړلس کاله کیږي چې دغه خپرونه د ښاغلی بزگر په زیار راووځي په باندینیو نااشنا ملکونو کې د دغسې خپرونو ایستل اسان کار نه دی، خو د هغوی د ایستلو هلې ځلې لوستونکو ته نه ښکاري لکه هسې چې لوستونکي د کتاب مخونه په منډه لولي. بې له دې چې ځیر شي لیکونکي به د هر مخ په کښلو کې څومره زیار ایستلی وي. په دغه اړه ښاغلی بزگر یو مثال کیدلی شي. دئ د خپلې کورنۍ د ژوند خوندي کولو د پاره د ناروی د پوست په مرکزي دفتر کې کار کوي، خو د خپل معاش یوه برخه د دعوت په ویستلو باندې لگوي. له دینه جوته ده چې د ښاغلي بزگر د دعوت د خپرولو هڅونکی قوه مادي نه ده. په اصل کې د دغسې خپرونو ایستل د پیسو د پاره نه وي او نه هم دا د پیسو گټلو لار ده، هغه هم په باندینیو ملکونو کې د دغسې افغانانو د پاره چې ملي خپرونې راوباسي. دغه څه پخپله د دعوت د مخونو نه څرگندیږي.
دعوت د هیواد په دواړو رسمي ژبو خپریږي، خو د پښتو پله یې درنه او افاده یې هم معیاري ده. په هره گنه کې یو یا ده لیکنې په انگریزي هم لري، خو د دعوت غټه ځانگړتیا د هغې د لیکنو څنگه والی دی. لیکنې یې نږدې ټولې د افغانستان د پیښو په تېره د سیاسي پیښو په اړه تحلیلي دي، مهمې نړیوالې جاري پیښې یې هم په مخونو کې راوځي. په لیکنو کې یې په موضوع گانو باندې بحث کیږي نه په فردونو باندې. هو، د فردونو کړه وړه او نظرونه او سیاستونه به پکې ډانډس کیږي او ټکول کیږي، خو پخپله هغوئ په سپکه نه یادیږي. دعوت د مدني اصلونو مراعات په ټینگه کوي. دعوت په واقع کې په دغو اصلونو او فرد ته د درناوي په اصل ولاړ دی. په دغه ډول د دعوت په لیکنو کې د فرد حیثیت هر څوك او په هر مقام کې چې وي خوندي دی، خو د هغه کړه او فکرونه سپیځلي نه کڼل کیږي، هغه سپړول کیږي یا یې قدر کیږي یا بېرحمه نیوکې او وارونه پرې باندې کیږي. دا ټول د دې د پاره چې دعوت دا خپله ملي او اجتماعي دنده او مسئولیت گڼي چې خپل لوستونکي د هغو نظرونو، کړو، او موضوعگانو په ښو او ناوړو خواو

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې خبر کړي چې هغوئ او د هغوی وطنوالان متاثر کوي. دا په واقع کې د دعوت رسالت دی. پـه دې حسـاب د دعـوت ليکنـې نـه ننداره ييزې، نه احساساتي او نه هم پارونکي دي. هغه د ازادو دماغونو تحليلي ليکنې او تبصرې دي. له دې امله دعوت ډير علاقه مندان، خوښـونکي او لوستونکي لري او دا د دعوت قلمـي مرسـتيالان دي چـې د وطـن د پيښو د بېلو بېلو اړخونو پـه اړه پخـې ليکنـې وراسـتوي او مرسـته ورسره کوي. دوئ په دې ډول د دعوت ارزښت، درنښت او د زيات عمر کولو توان ورزياتوي. نو دعوت د يوې ګډې موخې په لور په لويدځې نـړۍ کې د خورو ورو افغانانو د همکارۍ يوه څرګنده، لوړه او ګټـوره بيلګـه ده. دا دعوت دی چې خپل خواره واره افغان ليکوالانو به يوه بل باندې پيژني او سره نږدې کوي. خو سره له دې هم ګمان نه کيږي چې حتی د دعوت ليوالانو په هم د هغه ټولې ګڼې ساتلې وي.

د مساپرۍ په دغه اوسني حـال کـې د خپرونـو سـاتل اسـان نـه دي. نـو ښاغلی بزګر وړانديز کړی چې د دعوت غوره ليکنې د کتاب يا کتابونو په بڼه راوباسي؛ د دې د پاره چې لوسـتونکي هـر وخـت چـې وغـواړي ترينه ګټه واخلی. دا يو بل ښه ګام دی چې ښاغلی بزګر پورته کړی. پـه دغه کار سره به د دعوت د غوره ليکنو ارزښت او پايښت نور هم يقيني او ګټورتوب به يې زيات شي. په دغه ګټور کـار کـې هـم زه د ښـاغلی محمد طارق بزګر بری غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعوت او محمد طارق بزګر

ډاکټر عبدالصمد حامد

بسم الله الرحمن الرحيم

ګرانه وروره بزګر صاحب!

د هرڅه نه لومړی تاسي ته زړه لـه کـومې تبريـك وايـم چـې د دعـوت درنده خپرونه د خپلو لیکنو، مرکو او شعرونو کتاب خپروي، زموږ د ښو او بدو خاطراتو نه ډك تاريخ او په ځانګړې توګه د تيرو ديرشو کلونو په ترڅ کې چې زموږ د هيواد او هيوادوالو د سياسي او ټولنيز ژوندانـه يـوه ډيره حساسه مرحله وه او لا هم ده، د يو شـمير هغـه هيوادوالـو چـې د ډيرو ستونزو په ګاللو سره، هيواد او هيوادوالو تـه د خـدمت او خـير پـه نيت د مطبوعاتو او تبليغ په سطح د قدر وړ خدمت کړی دی، انشاالله به زموږ د تاريخ يوه مثبته برخه جوړوي. ستاسو دا خدمت د تيرو پنځلسو کلونو په اوږدو پرته د خپل کار پر حقانيت باندې باور او ډيـر صـبر نـه شي تر سره کيدای.

د تيرو ديرشو کلونو راپديخوا زمـوږ هيـواد د پرديـو او د هغـوئ امربـرو افغانانو د لوبو او تجربو ميـدان پـه توګـه کـارول شـوی دی چـې افغـان مجاهد، خو مظلوم ولس د ډيرو قربانيو او مصيبتونو د ګاللو سره سـګره لا تراوسه هم دې لوی او ملي مصيبت لاس په ګريوان دي. که څـه هـم د نيکه مرغه په هيواد کې دننه تر يو حده دا زمينه مساعده شوي ده چې يو شمير ازاد نشرات رامنځ تـه شي خـو د هيـواد نـه بهـر ميشـته افغـاني موقوتې خپرونې او الکترونيکـې وسـايل د خپرونـې لا اوس هـم خپلـه ځانګړې وظيفه لري او صبا به يې هم ولري.

د افغان ولس اکثريت او موثرې طبقې ښايي چې د خپـل موجـود لـوی مصيبت د جريان نه د واقعيت درك کړی وي چې:

افغان ولس د بشري ټولنې د غړې په حيث نه يوازې د نـورو ولسـونو او هيوادونو څخه په تجريد کې ژوند نه شي کولای، بلکـې دا وظيفـه يـې هم ورپه غاړه ده، چې د خپلو مشروعو حقوقو، خپل د تهـذيبی هويـت څخه د دفـاع تـر څنـګ د بشري تـولنې سره د سـوله ييـزو او د هغـوئ مشروع حقوقو او هويت ته د احـترام پـه واسـطه حتـی المقـدور نـژدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړیکو ساتلو او پاللو په وجه داسې حالات منځ ته راشي، چې د افغان ولس او د نورو هیوادونو د مشروعو حقوقو د تامین په لاره کې د ټکر له پاره زمینه برابره نه شي. زما په نظر د هیواد نه په بهر کې میشته افغاني ذکر شوی خپروني اصلی نقش په دې اړوند به ځانګړی اهمیت ولري.
دا نقش په حقیقت کې په دې اړوند د یو منصف او د یو خواخوږي څارونکي او منتقد، رابط نقش به وي.
کوم د انصاف او واقعیتونو پر بنا متکي تنقیدونه چې په هیواد کې دننه میشته وو اطلاعاتي خپرونو له خوا د ځینو عواملو او محدودیتونو له کبله نشي خپریدلی، باید د هیواد نه په بهر کې میشته خپرونو په واسطه هرو مرو هیوادوالو ته په اطلاع ورسول شي. همدا راز دا هم د هیواد نه په بهر کې میشته خپرونو وظیفه به وي، چې په هیواد کې دننه د مثبتو پیښو او کارونو اطلاع د نورو افغانانو او افغان ولس سره نورو غیر افغاني علاقه لرونکو کړیو په خبرتیا ورسول شي.
په دې اساس دا ذکر شوي په بهر کې مشته خپروني د یوې خوا نه د افغان ولس د تنقیدي غبرګون د خپروني نقش تر څنګ د افغان ولس تر سره شوي خدمت د مبلغ نقش به ولوبوي او د بلې خوا نه به د هیواد نه په بهر کې د افغانانو او د افغان ولس ترمنځ د اړیکو د ټینګولو او پراختیا عامل به وګرځي. همدا راز د دوی دا کار به د افغان ولس او د بشري ټولنې تر منځ د ذات البیني ښو اړیکو د تقویې په لاره کې مثبت رول ولوبوي.
د دې کبله ښایي چې د هیواد نه بهر میشته افغانان (که د نورو هیوادونو تبعه هم شوي وي) د دعوت د درندې خپروني او نورو په بهر کې میشته افغاني خپرونو سره تر وسه پورې خپلې مادي او معنوي مرستې وکړي. تاسو ته تبریك وایم او درته اجر، ډیر صبر او توفیق غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دعوت خپلواک رسنيز مرکز سره زما اړيکه

## هلمند پرديس

مخکې تر دې چې زه د دعوت خپلواک رسنيز مرکز سره په خپلو اړيکو وغږيږم، غواړم د دغه رسنيز مرکز په ځينو ارزښتونو او خدمتونو يو څه ووايم. دعوت خپلواک رسنيز مرکز په حقيقت کې يو خپلواک او د رسنيو په ډګر کې يو بې پرې او ازاد رسنيز مرکز دی. د دغه مرکز هڅې او پرمختګونه ټول د افغانستان او افغان درديدلي ولس سره تړلی او د دوی اواز دی، نو ځکه د دغه مرکز مشر محمد طارق بزګر صاحب په خپلو شخصي، مادي او معنوي توان سره دغه درووند بار ته دا نهه ويشت کاله کېږي چې مټ ورکړی دی، زما د خبرو هدف هم همدا دی، چې دغه رسنيز مرکز په ټوله مانا خپلواک دی. دا چې څرنګه دغه رسنيز مرکز لا تر اوسه خپلواک پاتې شوی دی، د کاميابۍ راز يې په خپله د دغه رسنيز مرکز مشر محمد طارق بزګر صاحب دی. د ده ډېرې هڅې، زيار، د خپل ولس او وطن سره بې انتها مينه دا هغه څه وو، چې محترم بزګر صاحب په دغه لار کې سترې مادي او معنوي قربانۍ ورکړي دي، او دغه رسنيز بهير يې تر هدف رسيدو پورې له ستونزو او مشکلاتو بهر کړی دی او همدا علت دی، چې نن يې مونږ تاسې نهه ويشتمه کليزه لمانځو.

محترم مشر بزګر صاحب سره د ډېرو نورو ښو خاصيتونو لرلو تر څنګ يو بل ارزښتمن خاصيت دا دی، چې هغه ريښتوني وطندوسته شخصيت دی، او هغه د خپلې همدغې وطندوستۍ له برکته د وطنپرسته فکرونو په روزلو کې هم موثر ګامونه اوچت کړي دي. هغه سره د احمد، محمود، د قوم، قبيلې، ژبې او نژاد تعصب نشته، نو ځکه ده سره د دعوت خپلواک رسنيز مرکز په همکارۍ کې د افغانستان د هر قوم ورونه ملګري او همکاري کوي، او بزګر صاحب دا خبره په حقيقت کې په اثبات رسولې ده، چې يو شاعر يې په خپل شعر کې وايي:

چې نشه د استبداد لري په سر کې
ما ته يو دی که مغل دی که افغان

پوره يوه لسيزه مخکې چې کله ما د مسافرۍ په درشل قدم کېښود د وطن بېلتون مې د زړه دننه د خپل وطن سره د مينې داسې اورونه بل کړل، چې زه يې ليکلو ته اړ ايستم. ليکل مې شروع کړل، که څه هم زه له ماشومتوبه په خپل کلي مين وم، حتا له کلي بهر به مې له دوستانو سره هم شپه نه کوله زړه به مې تنګيده، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کله مسافر شوم، نو د وطن دا مینه او دردونه مې دوه چنده او سل چنده شول، او همدغه د وطنپرستۍ احساس او مینه وه، چې ما به د انترنیت له لارې خپل احساسات او د زړه خواله د خپل ولس او وطن سره شریکول. شپږ کاله پخوا د دعوت میډیا خپلواک رسنیز مرکز سره اشنا شوم، او دغه رسنیز مرکز ته به مې خپلې نیمګړې لیکنې ورلیږلې او د دغه همکارۍ په نتیجه کې له محترم مشر بزګر صاحب سره معرفي شوم، او وخت ناوخت به یې زه هڅولوم، چې زما لیکل ښکلي او په تول پوره دي، خو زه وروسته پوه شوم، چې هغه وخت زما لیکلو بلا تیروتنې لرلې، کیدای شي اوس یې هم لري، خو زه محترم بزګر صاحب زړه ماتی نه کړم، او هر وخت یې مناسبې لارښونې راته کړې دي، او همدا د ده د لارښونو برکت و، چې څلور کاله مخکې بیا د دعوت خپلواک رسنیز مرکز سره رسمي همکار شوم، خو د دغه همکارۍ اجوره ما هم نه ده اخیستې، د دې لپاره ما دوه دلایل لرل، یوه وجه دا وه، چې ما خپله هغه مینه چې له خپل ولس او وطن سره لرله او لرم یې، ما باید دا په عمل کې اثبات رسولې وای، ځکه چې افغان وطن او ولس پر موږ حق لري، چې خدمت یې وکړو، او همداسې مې وکړل، او دا مې ستر ارمان هم وو، چې خپل وطن او وطنوالو ته د خدمت جوګه شم او بله وجه یې د محترم مشر بزګر د کار او خدمت څخه متاثره کیدل ؤ، چې ده هم له چا څخه په دغه بهیر کې اجوره نه ده اخیستې او خپل وطن او وطنوالو ته یې دا نهه ویشت کاله وړیا خپل رسنیز خدمتونه وړاندې کړې دي.

په پای کې زه مشر- بزګر صاحب ته دوعاګانې کوم، چې ستر رب العزت یې عمر ډېر او ارمانونه یې پوره شه، او لوی خدای دې موږ ته هم دا توفیق راکړي، چې په دغه بهیر کې ورسره ریښتوني ملګري پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بیست و سومین سال نشرات جهانی
# کمپلکس دعوت تبریک و تهنیت باد

استاد صباح

آزادی، نه تنها بی بها نیست بل که کالای بسیار ارزشمندی ست که در طول تاریخ، مفت و ارزان به چنگ هیچ کس نیامده است.

دانشمند گرامی، مرد دانش و خرد وشخصیت برازندهء بیرون مرزی کشور، جناب محمد طارق «بزگر»، رییس کمپلکس نشراتی دعوت! صمیمانه ترین تبریکات قلبی ام را به مناسبت بیست و سومین سالروز (۱۹۸۸ – ۲۰۱۱) نشرات دعوت پذیرفته و از طریق شما به هیات محترم تحریر، همکاران گرانمایه و خواننده گان، بیننده گان و شنونده گان گرامی دعوت تقدیم نموده، زنده گی خوش به شما و خانواده های تان و جذابیت و رنگینی بیشتر دعوت آرزودارم.

شارل دو مونتسکیو می گوید: بشری که حق اظهار عقیده و بیان اندیشهء خود را نداشته باشد، موجودی زنده به شمار نمی رود.

اگر به آزادی بیان اعتقاد دارید، انتقاد صریح، علنی و شفاف از شما در رسانه‌ها، معیار آزادی بیان است. اگر نتوان از رهبر سیاسی کشور انتقاد کرد، نمی‌توان مدعی وجود آزادی بیان شد. این که فردی به دلیل انتقاد غیر مستقیم از رهبر، محکوم به پرداخت هزینه‌های بسیار سنگین شود، دلیل آزادی نیست، بل که حاکی از خودکامه گی نوع توتالیتر است.

این که یک فرد قدرت مطلق را به طور مادام العمردر اختیار داشته باشد و باز هم از مردم سالار بودن حکومتش سخن بگوید، نزد عقلا چه معنایی دارد؟

دعوت! رسانه ی صوتی، تصویری و چاپی است که نویسنده گان و قلم به دستان اندیشمند و متفکر برای تحقق دموکراسی واقعی در کشور کهن و مردخیز افغانستان، مبارزهء صادقانه وبی الایشانه نموده و

(c) ketabton.com: The Digital Library



شباروزی عرق می ریزند و زحمت می کشند. مسوولیت بزرگ و خطیر آنان توضیح و تشریح دموکراسی واقعی، متحد کردن تمام نیرو های دموکراتیک تا بنای حکومت قانون، تا ختم جنگ و برادرکشی، تا تحقق آزادی، مردم سالاری، سیکولاریزم و خردگرایی در سرزمین درد دیدهء ما بنیان گذاشته شود.

دعوت، نقطهٔ شروعی برای بحث و گفت و گو و استراتژی هایی برای ایجاد ارتباط وطنی، افغانی و روشنفکرانه برای توسعهٔ دموکراسی، آزادی، عدالت اجتماعی و حقوق واقعی در میهن است. دعوت برای آزادی، حقوق بشر و دموکراسی مبارزه می کند.

دعوت، تریبونی برای آزادی، دموکراسی، روشنفکری، عدالت خواهی، برادری و برابری بوده و برضد اندیشه های تفرقه انداز به نام شمال و جنوب، شرق و غرب، سلطه خواهی و قدرت طلبی و بر علیه دزدان، چپاولگران، آدمکشان، جنگسالاران، سلاحداران، قاچاقبران ثروت های مادی و معنوی وطن پیکار دوامدار نموده و در این مسیر، گام های بلند برداشته و در آینده نیز ساکت نخواهد ماند.

دعوت، هرگز استقلال و منافع ملی خود را زیر پا نمی گذارد و آنانی که طی سه دهه به استقلال ملی، تمامیت ارضی و آزادی و مردم گرایی خیانت نموده و در هر مقطع تاریخی برای چور و چپاول باشنده گان این خطهء تاریخی معامله و غلامی نموده اند و در بدل پول، کرسی و قدرت بر سرنوشت کشور و مردم با اجنبی ها معامله کرده اند، بی باکانه و میهن پرستانه، چهره های منحوس آنان را برای ملت غیور افشاء و رسوا می نماید.

به عقیدهء من، نویسنده گان، قلم به دستان و همکاران رسالت مند دعوت باید تاریخ غنی و نبرد های آزادی خواهی و افتخارات میهنی خود را به یاد داشته باشند و در مسیری روشنگری مردم جد و جهد

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیشتر نمایند تا بـار دیگـر بـه پیشـرفت هـایی در زمینـه هـای اقتصـادی، اجتماعی و حقوق انسانی دست پیدا کنند.

مردم ما باید آزاد باشند تا به خود و آیندهٔ کشور امید داشته باشند. همـهٔ ما باید برای عدالت، شرافت، صداقت، سعادت و متانت مبارزه کنیم تـا بر نیرو های سلطه گر و چپاول پیشه چیره شویم.

ما باید با امید و میل به دستیابی به رفیع ترین قلل افتخار برای کشـور بـه سمت آینده حرکت کنیم. زمان پیشرفت و ترقی به وسـیلهٔ مـا در زمینـه های هنری و فرهنگی فرا رسیده، پیروزی نزدیك است و تغییر اجتنـاب ناپذیر است.

دعــوت بــا پیــروی از اصــول آزادی و حقــوق بشــر و دموکراســی ومردمگرایی به قوی ترین شبکهء جهـانی بیشـتر ازگذشـته مبـدل شـود. زمانی قدرت‌های بزرگ بـا ورود مسـتقیم بـه کشـورها، جهـان سـوم را غارت می‌کردند، ولی حالا در هـزارهء سـوم در ظـاهر بـه نـام آزادی و دموکراسی می‌خواهند ملت‌ها را تاراج کنند و انسان ها را در بند بکشند و آزادی را نیست و نابود نمایند.

باید در مورد نقشه ها و خیانت های مافیای بنیادگرایی و تفنگ سالاری هوشیارانه عمل نمایم تا آنان عقیـدهء پـوچ و بـی معنـی منطقـه پرسـتی، قومگرایی، تضاد های ملی و زبانی به نام افغـان و افغانسـتانی، شـمالی و جنوبی و ستم طلبی و سلطه خواهی چـون ویـرس مهلـك و کشـنده بـر جامعه تزریق نکنند تا بار دیگـر شـاهد بـدبختی، فلاکـت و سـیه روزی وطن و مردم ستم دیدهء آن نباشیم.

ما مصرانه بر این اصل پا فشاری کنیم که زنده گی ما درکشور، تجربهء عالی، با شکوه و عظیم است. هر انسای وطن حقوقی دارد کـه بداننـد و مستفید شوند، هیچ دولتی، نیرو و یا شخصی حـق نـدارد کـه آنـان را از چنین حقوقی محروم کند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر انسانی می بایست در برابر قانون برابر باشد. هر شخص باید زیر چتر حقوق و آزادی قانون اساسی بدون برتری از هر نوع، مانند نژاد، جنسیت، زبان، معلولیت، مذهب، عقاید سیاسی، ملیت یا طبقۀ اجتماعی، ارزش های فکری، اولویت ها، دارایی، محل تولد و مانند این ها باشد. تمام مردم باید حق شرکت در اداره و حکومت را داشته باشند. هر شخص حق تفکر، مذهب، تحصیلات، عقیده و سخنرانی آزاد را دارد. این حق شامل داشتن عقیدهء بدون دخالت است و همچنین دنبال کردن، دریافت و بیان اطلاعات و عقیده از طریق رسانه ها آزاد اند.

هر شخص حق دارد که به طور مسالمت آمیز در انجمن ها و گردهم آیی ها شرکت کند، ولی هیچ کس نباید مجبور به عضویت چنین انجمن ها یا گردهم آیی هایی شود.

هر انسانی حق کار دارد و می تواند شغلش را آزادانه انتخاب کند؛ شرایط محیط کارش به دلخواه و منصفانه باشد و نیز حق دارد با تشکیل و پیوستن به اتحادیه های کارگری، آنان در جهت حمایت از منافع او اقدام کنند. هر شخصی حق حفاظت از منافع، عاید کار علمی، ادبی و هنری را که خود پدیدآورندۀ آن هاست، دارد.

در دورۀ مدرن امروزی، بیشتر حکومت ها برای اثبات حقانیت شان ادعای دموکراسی دارند. دعوت، معتقد است که در یک دموکراسی واقعی، مردم، بالا ترین قدرت را دارند. آن ها بالاترین شکل قدرت سیاسی می باشند. مردم با علایق و عقاید مختلف باید خواستار نشستن و گفت و گو با یکدیگر باشند. زمانی که کسی عقیده اش را ابراز می کند، باید که به نظرات دیگران گوش دهد، حتی اگر دیگران با او مخالف باشند. هرکس حق دارد که آزادانه ابراز عقیده کند.

مردم سالاری، شیوه ای ست برای مردم تا رهبران شان را آزادانه انتخاب کنند و آن ها نیز برای سیاست ها و رفتار شان نسبت به خدمتگذاری مردم جوابگو باشند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



من معتقدم که وظیفه ی اولیه حکومت، عبارت از محافظت کشور از تجاوزات خارجی و تخطی های داخلی است تا به طور کامل از حقوق اولیهٔ انسانی حمایت کند تا که یک اقتصاد آزاد و باز را مانند تجارت خصوصی مورد تشویق و حمایت قرار دهد، کیفیت منابع تحصیلی را ترویج کند و کیفیت خدمات درمانی را به بالاترین سطح ممکن برساند تا به طور پیوسته با مردم در پی بهبود زیرساخت های فیزیکی، تکنولوژیکی و اقتصادی کشور باشد.

ما باید جرأت و جسارت ایستادن برای ارزش ها و اعتقادات را پیدا کنیم. نباید روشنفکران و تحصیل کرده ها تنها در این فکر باشند که چه گونه به کشور های خارجی فرار کنند.

ما باید بدانیم افرادی که بر مسند قدرت تکیه زده اند، آیا مشتی اوباش و جنایت پیشه اند که مصروف غارت و چپاول کمک های صحی، بیت المال، اراضی دولتی، زمین و املاک شخصی، ثروت های ملی و منابع طبیعی کشور هستند. اینان به خاطر چور و چپاول، به خاطر حفظ قدرت و حاکمیت شخصی و گروپی خود با کلمات و جملات بازی می کنند تا تفرقه های منطقوی، سمتی و زبانی را چاق کنند و از آب گل آلود ماهی بگیرند.

با درود های گرم و وطنی

استاد صباح؛ همکار قلمی دعوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د دعوت پاڼې د درویشتمی کلیزی په ویاړ**

استاد ابوبکر ساپی

چه نظر کړمه هر خوا دعوت دعوت دئ
همه واړه د بزگر صاحب محنت دئ
څوک صفت د خپلی پاڼی څوک د ځان کړي
د دعوت د پاڼی بی ساری شـــهرت دئ
څوک يي ستايي په شعرونو او نغمو کښی
د حسودو پری له هر لوري تهمت دئ
د پښتون ولس او قام د زړه دردونه
دی انځور پکښی، همدا يې حقانيت دی
گوره کار نه لاس په سر نه شی مومنه
د الله د دین بیان ستر امانت دئ
په وطن باندی یهودو یرغل کړی
بی گناه وژنی همدا يي ستر خيانت دئ
هرې خوا ته دی ورانکاری را تول شوي
سر و کار يي شيطانت او ضلالت دئ
د دعوت پاڼی درنو لوستونکو واوری
يي قلم په لاس هم ډیر مو مسوولیت دئ
له دعوت سره د دین دعوت کښي مل شی
د صافی لخوا همدغه یو وصیت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعوت خو پوخ زلمی شو، مبارک مبارک!
## محمد امین بسمل

د یو هېوادپال، ولس پال درانه او مـنلي هڅانـد افغـان پـه لاس اېښـودل شوی نیالګی (دعوت) ثمر ته ورسېد. دا نیـالګی د هجـرت، غربـت او لاس تنګي په داسې بدو حالاتو کـې کښېښـود شـو، چـې د راتوکېـدو، زرغونېدو، لویېدو، سپړېدو او په ثمر راتلو هیلې یې زیاتې نه وې، خو د یو متین او سنګین انسان په همت یې دا تول پړاونه او مزلونه په بریا سره ووهل. مبارک دې وي بیا هم مبارک!

درویشت کلن دعوت نن هغه ښایسته او صالح اولاد ته پاته کیږي، چې نه یوازې د خپل پلار او کورنۍ په سترګو کې خوږ لګي، بلکې کلیـوال او سیمه وال هم سترګې پسې اړوي (له نظره مه شې ګرانه دعوته).

احساس مې په غربت کې اوښکې تویه کړي له سترګو
چې لولمه لیکنې د پتمنو په دعوت کې
د هیلو مات وزری مرغی بیا په الوت راشي
امید دی چې افغان ولس ژوند وکړي په عزت کې

دا چې زموږ د هیلو دا مات وزری مرغی به څه وخـت سرمنـزل تـه پـه الوت شي، لا خو وخت ډېر دی، خو بیا هم د دې تمه شته، چې یـو او بل ته د لاس ورکولو په صورت کې دې لوړ ارمان ته ورسېږو.

راګرځم د دعوت میوه لرونکي نیـالګي تـه، چـې ایښـودونکی یـې یـو داسـې پـتمن افغـان دی، چـې د توصـیف لپـاره یـې د پـوره الفـاظو په راټولولو کـې څـان عـاجز ګـڼم. زمـوږ دا ګـران افغـان محمـد طـارق بزګر نومیږي.

د ښاغلي بزګر صاحب د همـت، هېوادپـالنې او متانـت پـه اړونـد زمـوږ نورو درنو افغان لیکوالو خپل ښایسته نظریات وړاندې کـړي، خـو کـوم څه، چې ما د بزګر صاحب په اړوند ترلاسه کړي هغه داسې دي:

ــ د اوچت کرکتر او لوړو اخلاقو لرونکی.
ــ د پراخې سینې (حوصلې) څښتن
ــ ماهر او هېوادپال ژورنالست
ــ جذاب، حلیم او صابر انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ پالونکی، مرستندوی او حقبین
ما پخپل ژوند کې یو ځل هم بزګر صاحب له نږدې څخه نه دی لیدلی، خو څو ځلې مې ورسره تیلیفوني اړیکه نیولې ده. البته مخکې له تیلیفوني اړیکو ما د بزګر صاحب اوصاف او کردار د هغه په درانه انځور کې انځورول، خو کله مې چې تیلیفوني اړیکه ورسره ټینګه شوه نو دې ته یې اړیستم، چې یو څو هر اړخیزې پوښتنې ورڅخه وکړم. جالبه خو داوه، چې زما د اوږدو پوښتنو ځواب به یې په یو څو لنډو جملو کې پوره کاوه.
که به خبرو په غایب شخص پورې تړاو درلود نو د بزګر صاحب نظر به مطلق بې پلوه و. دا په دې مانا، چې بزګر صاحب خپل تګ لوری سم ټاکلی و.
د پورتنیو جملو په وړاندې کولو سره دا هم وبیلای شم، چې د دعوت نوښتګر هم بزګر و هم زرګر. زرګر په دې مانا، چې ویې کولای شول په خپل لوړ استعداد او خلوص سره زموږ درانه او زرین لیکوالان د ځان خواته ور جذب او د دعوت خپرونې پرې زرینې او رنګینې کړي. دا کار هر څوک هم نه شي کولای. دا زغم، صبر، حوصله او صادقانه اړیکې غواړي.
د یادولو ده، چې موږ غم لړلي افغانان (پښتانه) له نېکه مرغه نه یوازې بزګر صاحب لرو بلکې له ټول افغان څخه یې رانیولې تر لر او بر، تل افغان، بېنوا، خبریال، لوی افغانستان، سپرغۍ او یو څو نورو پورې داسې هېوادپال افغان وېبپاڼې چلوونکي لرو، چې د سړي زړه پرې باغ باغ شي.
زه دغو ټولو درنو وېبپاڼو چلوونکو ته په دې تاریخي او دردوونکو شېبو کې له پاک رب څخه د لا ډېرو نورو بریاوو غوښتنه کوم. دوی دې تل هسک او بریالي وي.
د خپلې لیکنې په وروستۍ برخه کې په موږ ګران بزګر صاحب ته د بې شمېرو مبارکیو ترڅنګ په ډېر درنښت سره نه یوازې ده بلکې زموږ نورو ګرانو او درنو افغان وېبپاڼو چلوونکو ته دا وړاندیز کوم، چې د خپلو قلمي همکارانو انځورونه هر وخت د هغوی له لیکنو سره یوځای خپاره کړي که کوم څوک خپل انځور او پېژندنه نه ورلېږي، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



به په دې مانا وي، چې هغه له يادو ويبپاڼو او ملت سره دغداري نيت لري. زما د وړانديز د نه منلو په صورت کې دې بزگر صاحب او دا نور درانه افغان ويبپاڼې چلوونکي د هغو مرموزو او مغرضو کسانو ليکنې کوم، چې خپل شهرت او انځورونه نه ورلېږي يا خپرې نه کړي او يا دې په داسې يوه ټيټه او ځانگړې کتگورۍ کې خپرې کړې، چې د لوستونکو زيات نظر نه پرې لگي.

په اخېر کې يو ځل بيا د دعوت درانه چلوونکي محمد طارق بزگر ته د زړه په مينه د دعوت د پاخه زلميتوب مباره کي وايم.

محمد امين بسمل
د جرمني له بايرن ايالت څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم څپرکی:

پیغامونه

## د منزل په لور د دعوت دیرش کلن مزل

ولي الله ملکزی

که د نړیوال سټیج په پاسني لوړ کې، د نامي امپراطوریو او تهذیبونو د عروج او زوال تابلو ته ځیر شو، نو هرو مرو به مو یقین راشي چې د خرش پرش پړاو ته د رسیدلو لپاره په پیړیو پیړیو مزلونه شوي ترڅو د دوئ د ځواک ځولۍ ډکه، ارته او وغوړیږي.

د رسنیو دنیا هم د لوړو، ژورو او غورځو پرځو یو ستومانه او دیته ورته تاریخ لري. د لرغوني چین دنګ دیوالونه، د بغداد منارې، د بیروت کوڅې، د اروپا ښیرازه ورشوګاني او د امریکا سیلکن ویلي، ټول د دی شاهدان دي چې د نړیوال کلي جوړول او یوه ځنډه له بلې سره نښلول څومره ګران، څومره هڅو او څومره شوګیرونوته اړتیا لري؟

له نن دیرش کاله وړاندی، د دعوت په نوم یوه کوچنۍ او ساده پاڼه د مطبوعاتو د دی ستر کاروان له وروستۍ جوپې سره یوځای شوه او پدی زیره او شګلنه لاره یی قدم وهل پیل کړل. لا د خاړپوڅو شپې ورځې وې چې په ۱۹۸۸ کال کی لمړنۍ شماره چاپ او ځما د ګوتو په شمار خلکو ته واستول شوه. د چاپ لپاره به کله پیسي نه وې او کله به د متوازنو اوغوښنو لیکنو او مقالو کمی وو، خو ټینګ هوډ او کلکه اراده تل په غورځنګونو وه.

دعوت کومه اسماني صحیفه نده چې غلطي او اشتباه به نکوي. خو زما په اند، دعوت د هر هغه چا ننګه کوي چې سوله غواړي او هغه څوک ننګوي چې د جګړې سپرغیو ته ببوزی وهي. دعوت د دریو لسیزو پدی اوږد او لاالهنده سفر کې، د خپلو اصولو په سر نه له چا سره جوړه جاړه کړی او نه یی د څه واخله او څه راکړه سودا کړی ده. دعوت د ټوپک او کوتک په ځای د قلم او رڼا مبارزه بریالۍ ګڼي او له کرکۍ ځخه، کرکه لري. دعوت د مینې ساندې زمزمه کوي او د پخلاینې له شعار سره ستونې نرموي.

کله چې په ۱۹۹۷ کال کې د دعوت خپروني د رواجي پاڼې په ځای د ویبپاڼې بڼه غوره او د انټرنیټ په نیلۍ سپره شوه، نو غږ یی د نړۍ په ډیرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخو کې غوړونه پیدا کړل. دا اوسنۍ کلیشه یې د یوې پراخې تجربې او ښه ذوق نماینده ګي کوي او ښایسته ډېر څه پکې سترګو، سترګو ته کېږي.

څما کشر ورور او د یو مسلک د لارې لاره وې، محمد طارق بزګر د ښې حوصلې او څرګند لرلید خاوند دی. د مالي او تخنیکي ستونزو سره سره یې و کولای شول تک تنها دومره غټ او درونډ پیټي ته اوږه ښکته کړي او دی ځایګي ته یې را ورسوي.

موږ ولیدل چې د روسي ښکیلاک په مهال او بیا وروسته مرحله کې، د خدای بلا ورځپاڼې، مجلې او رقم رقم خپروني را میدان ته شوې، خو په څومره چټکۍ چې راغلې وې په هماغه سرعت سره تری تم شوې. ولی دعوت د وخت او شرائطو ګواښونو وارخطا نکړ، میدان یې پری نښود او د منزل په لور خپل مزل یې همداسی جاري وساته. دعوت نن لوستونکي لري، د افغاني رسنیو په کتار کې خپل پرستیژ لري او د خبر او څېړنو د یوې سرچینې په توګه ور باندی حساب کېږي.

هیله مند یم چې دعوت به د تیر په څیر، په راتلونکي کې هم د خپل دین، ولس او ارزښتونو په څنګ کې وي. تمه لرم چې دعوت او د هغې اړونده خپروني به لا وغوړیږي، لا به وځلیږي او لا به ګړندۍ او میړنۍ شي.

سکرمنتو، کلیفورنیا- امریکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعوت سره زما ملګرتیا

استاد عمر پاڅون

دعوت سره زما ملګرتیا ډېره پخوانۍ ده چې لسګونو کلونو ته رسیږي. دعوت هغه وخت په خاپوړو کې وو په قلم به په څو محدودو مخونو کې په لاس لیکلی چاپېده. دا دی اوس دعوت په کمپیوټر او د انټرنت نړۍ کې لوی او بیل ځای لري. دعوت یواځې یوه چاپي جریده نه ده د دې په څنګ کې څلور جلا ویبپاڼې، دوه پښتو او درې: www.dawatmedia24.com، www.afghansabawoon.com، یوه انګلیسي www.dawatmedia.com او یو پښتو ټلویزیوني چینل www.astv24.com چې لا هم د کار لاندې دی، چې په دې سره دعوت یو رسنیز مرکز دی، یو ځواک دی، یو قوت دی.

زه بوډا شوم خو خوشاله یم چې دعوت خپله دیرشمه (۳۰) کلیزه لمانځي. اوس نو یو سړی په زغرده ویلی شي چې د خپل هېواد څخه بهر د افغانانو په ځانګړي ډول د پښتنو یوه نړیوال رسنیز مرکز (دعوت میډیا) شته. دا ټول د محمد طارق بزګر نه ستړیکېدونکی هلې ځلې دي چې په یواځې سر د دعوت جریده په ښکلی ډول چاپ او د نړۍ نږدې ۵٦ هېوادونو کې خپلو افغانانو او غیر افغانانو ته رسیږي.

د هېواد څخه بهر په مهاجرۍ او د مسافرۍ په ژوند کې د خپل شخصي لګښت څخه د دعوت ۳۰ کاله په پرله پسې ډول چاپ، خپرول او تر مینه والو رسول څه اسان او د هر چا د وس کار نه دی چې دا ټول محمد طارق بزګر صاحب په یواځې سر پرمخ بیایي. نو د لوی خدای (ج) په دربار کې ورته اوږد عمر او قلم یې تاند غواړم.

د دعوت درنو قلمي همکارانو، لوستونکو، مینه والو او په سر کې فرهنګیانو او فرهنګپالو څخه هیله لرم چې دعوت درنې میډیا او په سر کې د دعوت درووند مشر محمد طارق بزګر صاحب یوازې پرې نږدي لکه چې تر اوسه یې یواځې پرېښی نه دی. په راتلونکې کې همداسې خپلې ټولې مادي، معنوي او فرهنګي مرستې رواني وساتي، تر څو په بهر کې زموږ دا فرهنګي / کلتوري شمع تل روښانه وي.

شتوتګارت - جرمنی

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعوت په خپل دعوت او رسالت کې د افتخار وړ او د میډیا د کورنۍ یوه بامسؤولیته برخه ده

ډاکټر صلاح الدین سعیدي

دعوت په خپل دعوت او رسالت کې د افتخار وړ او د میډیا د کورنۍ یوه بامسؤولیته برخه ده او د لمر حیثیت لري. هغه لمر چې د هغه په راختو سره د نورو ستورو وجود کم رنګه او یا ډېر ضعیفوي.

زه د دعوت د ویبپاڼې سره له یوې لسیزې زیات ډېر کلک روابط او علایق لرم او د دې پاڼې او نشراتو نه مو پوره ګټه اخېستې او په ټولنه کې د هغې مقام ستر او د افتخار وړ بولم او دی.

الله (ج) دې د دعوت ټولو کارکوونکو او تنظیمونکو ته او په ځانګړي توګه جناب محمد طارق بزګر، تاسې ته اوږد عمر، کامل صحت او نورې برياوې په برخه کړه. ستاسې با مسؤولیته او ستر تنویري کار د الله (ج) او افغان ملت، افغانستان او انسانیت په ګټه، سولې او ښه تفاهم په ګټه، د قدر وړ، انشاء الله د ستر اجر موجب او ستر کار دی. اجازه راکړئ ستاسې نه د حق د لارې د کلتوري مرکز او د افغان ستراتیژیک مرکز د علمي شورا په نمایندګۍ او د ځان لخوا مننه او قدر داني وکړم. الله (ج) مو نور هم کامیاب او بریالي لره. ومن الله التوفیق

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډير څه مي له دعوته زده کړه،**
**او ډير څه نه پکې خبر شوم**

نجم شينواری

د دعوت خپروني د ۲۹ کليزې په وياړ!
بزگر صيب! زه به درته ووايم، په ۲۰۰۲ کال چي زه مصر ته د تحصيل لپاره لاړم، نو په عربي هم سم نه پوهيدم، اخبار، تلويزيون هرڅه عربي، يو څه موده و روسته چي مصر کي د پخوانيو افغان محصلينو سره لږ بلد شو، او د هغو کوټو ته تگ راتگ پيل شو، يوه ورځ مي د يو افغان محصل گلاب سيد په کوټه کي د دعوت خپرونه وليده، ښه په غور مي ولوستله، ډير مطالب پکي وو چي ماته نوي وو، ما فکر کاوه دعوت خپرونه کوم ملگري چي نوي راغلي هغو ځان سره د پيښور نه يا افغانستان نه راوړې ده، ملگري نه مې وپوښتل دا مو پاکستان نه راوړي..؟ هغه وويل نه. دا له اروپا نه راځي..؟ ما ويل نو څنگه راځي؟ وايي دا په اروپا کي ځيني افغانان چاپوي، او بيا يي پر افغانانو مفته ويشي، وايي تر ما د مخه دا په بنډلونو راتلله، چي چاته راتله هغه محصلين تللی، خو خپرونه اوس هم په دي ادرس راځي... بيا به نو زه هم ورته انتظار وم، چي رابه غله نو هغه به ولوستله، ورروسته به زما وار وو.. ډير څه مي پکي زده کړه، او ډير څه نه پکي خبر شوم، او ډيرې دعاگاني مو درته هلته کولی.. ولو چي ما تاسي نه پيژندلی... خو قسمت مو وو... او د پيژندگلوی هم يو جالبه کيسه ده... که تاسي ته ياده وي... ماته خو ياده ده... خوښ او اباد، سوکاله او د هيواد او ملت خدمت ته تل تاند اوسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعوت رسنۍ، نهه ویشت کلنه شوه

عظیم الدین علیمي

دعوت رسنۍ نهه ویشت کلنه شوه. څه د پاسه شل کاله د دعوت میاشتنۍ خپروني د لوستني ویاړ را په برخه دی. دعوت د خپل نشراتي ژوند بشپړتیایي پړاوونه په ډېره ښه توګه وهلي او د رسنیو په کتار کې یې خپل ویاړلی ځاي موندلی دی. دعوت په ډېر لږ وخت کې د هیواد د ادیبو، ژبپوهو، تاریخپوهو، ټولنپوهو، سیاستپوهو او په نورو برخو د مسلکي لیکوالانو پام ځان ته وراړولی او د هغوي همکاري یې خپله کړې چې په پایله کې د نشراتي ډګر ځلانده خپرونه ګرځیدلې او په زرګونو لوستونکي یې موندلي دي.

په تېرو کلونو کې دعوت په بشپړې ناپلوۍ سره د هیواد ستونزې له ملي دریځه څېړلي او د هیوادوالو د اذهانو په روښانتیا کې یې خپله ملي دنده ترسره کړې ده.

د دعوت میاشتنۍ خپروني له لارې، د افغانستان ځوریدلو خلکو ته د خدمت په موخه، د رسنۍ د مؤسس او د امتیاز د خاوند، ښاغلي محمد طارق بزګر، شپه ورځنۍ هڅې او زیار د ډېر قدر او ستاینې وړ دي.

د دعوت خپروني د نهه ویشتمې کلیزې په مناسبت ښاغلي بزګر صیب، د خپروني قلمي همکارانو او لوستونکو ته مبارکي وایم او د بزګر صیب د لا زیاتي بریا هیله کوم.

هیره دې نه وي چې ښاغلي محمد طارق بزګر د دعوت میډیا ۲۴ په نامه د ویبپاڼې خپروونکی هم ده. دې لارې یې هم د قدر وړ خدمتونه ترسره کړي او تر سره کوي یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سالروز «دعوت میدیا» خجسته باد!

استاد صباح

برادر گرامی، محمد طارق «بزگر»، دست اندرکاران کمپلکس دعوت میدیا و خواننده گان گران قدر دعوت، فرا رسیدن سالروز دعوت را صمیمانه و مخلصانه تبریک عرض نموده، سعادتمندی، کامگاری و موفقیت های شمارا تمنا دارم.

دعوت میدیا طی موجودیت پُر بار خویش، کار های زیاد تاریخی، روشنگری، تحلیلی و ادبی و فرهنگی را انجام داده است که بدون مبالغه یک سر و گردن از دیگران بیشتر درخشیده است.

اکنون دعوت در خانه خانهء هموطنانش راه باز کرده و حتی در کانادا و امریکا، علاقه مندان و خواننده گانی فراوان دارد.

دعوت، مردانه و رسالت مندانه در پرتو آزادی قلم و بیان بدبختی و فلاکت ملت را منعکس و بیشتر روی قضایای ملی و میهنی و چور و چپاول سرمایه های وطن و مسایل گسترده متمرکز بوده است.

حافظ، وظیفهء تو دعا گفتن است و بس
در بند آن مباش که نشنید یا شنید

در فرجام برای همهء تان صحت و سعادت و برای میهن آبادی و ترقی تمنا دارم و آرزو می کنم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دعوت له هماغه لومړۍ ورځې**
**خپل روښانه افغاني دریځ درلود**

ډاکټر لطیف یاد

د دعوت درنه پاڼه چې د ۱۹۸۸ زیږدیز کال د دسامبر د میاشتې نه یې د ناروې په هیواد کې خپلې خپرونې پیل کړې دي د هیواد د نامتو ژورنالیسټ او لیکوال ښاغلي محمد طارق بزګر صیب په مشرۍ خپریږي. د خپریدو له هماغه لومړۍ ورځې نه یې خپل روښانه افغاني دریځ درلود او ویې شول کولای چې د نورو افغاني خپرونو تر څنګ چې په بهر کې خپریدلې، خپل افغاني رسالت په ښه توګه سرته ورسوي او ښه وځلیږي.

دعوت د پښتو ژبې، ژبپوهنې، دینې، ټولنیزو، تاریخي، فرهنګي، کلتوري او علمي برخو کې د خپل تاسیس له لومړۍ ورځې نه تر اوسه پورې چې دا دی نهه ویشت کلونه یې پوره کیږي، ډیر په زړه پورې مطالب خپروي او خپاره کړي یې دي.

د دعوت میډیا سینټر په برکت اوس دعوت په پښتو، دري او انګریزي ژبو هم خپروني کوي چې دغه ګام یې په رښتیا سره هم د قدر او ستاینې وړبولم.

زه د دعوت د ویاړلې پاڼې د نهه ویشتمې کالیزې په ویاړ ښاغلی بزګر صیب ته مبارکی وایم او ده ته د لا زیاتو بریاوو هیله کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعوت، دعوت میدیا او محمد طارق بزګر

عاشق فنا

دعوت، دعوت میدیا او محمد طارق بزګر د اوسنی نړیوال سیاسی-کلتوري تاریخ زرینی پاڼی دي. په دی زرینو پاڼو به کتابونه ولیکل شی او د بشری افتخاراتو په خزانه کی به خپل ځلانده او روښانه ځای ولری.
طارق بزګر، دعوت او دعوت میډیا د افغانستان او افغانانو په ټولنیز ژوند کی د نوښت، بدلون او مثبت پرمختګ، علمی او منطقی زیری دی.
بزګر، دعوت او دعوت میډیا هغه انسانی روښانه څراغونه دي چی د ټولنی تاریکو برخو ته د علم، سعادت، پرمختګ، آزادۍ او خپلواکۍ رڼا خوروي.
د دعوت هره شیبه، هر ساعت، هره ورځ او هر کال دې ټول بشریت ته مبارک شي!

عاشق لونګین فنا

مبتکر و صاحب امتیاز مدال جهانی «انسانیت، صلح، علم»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بیست و نُه ساله گی رسانهٔ دعوت میدیا پُر میمنت

ف. هیرمند

مدت زیادی نمی شود که نوشته های ناچیزم را به وبسایت «دعوت میدیا» می فرستم که جناب طارق بزگر اداره و رهبری آن را عهد دار می باشد. این رسانه به دلیل نشرات ملی گرایانه اش، خواننده گان بی حساب دارد و با انتشار مسایل و مطالب روشنگرانه و وطنی و ملی خود عطش خواننده گان بی حساب هموطن خود را فرو می نشاند.

رسانه ای که مقتضیات زمان را بداند و به این درک اش مطمئن باشد که سرزمینی که برای خاک و مردمش نشرات دارد، نیازمند دریافت مطالب، اطلاعات و معلومات مشخص می باشد.

این کشور در وضعیت وخیمی به سر می برد و نیاز اساسی دارد که در تحکیم و صیانت اتحاد باشنده گان آن کار خالصانهٔ نشراتی به عمل آید و با این انتشارات، وحدت آنان هرچه بیشتر استحکام یابد و از ارزش های سرزمین یک پارچه و واحد کشور در هر گام تبلیغاتی، نگهبانی شده و در همین روند از دارایی های مادی و معنوی و هر داشتهٔ افغانستان حراست به عمل آید.

وبسایت «دعوت میدیا» در این عرصه ها با مسؤولیت و حساسیت قابل توجه کار و نشرات می نماید و مساعی به خرج می دهد تا این آرمان ها با دقت و مؤثریت مطلوب تحقق یابند.

برای جناب طارق بزگر و سایر گردانده گان نجیب این رسانه دعا و تمنای پیشرفت های بیشتر و بیشتر را دارم. افتخار ماحصل فعالیت رسانهٔ دعوت میدیا به همهٔ شما مبارک!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دعوت درویشتمه کلیزه دې مبارکه وې

انجنیر فضل احمد افغان

زما ګران ده فضل او پوهی خاوند ورور جناب محمد طارق جان بزګرصاحب ته ده زړه له کومي سلامونه او نیکې هیلی تقدیمه وم.
زه ډیر خوشحاله یم چه د دری کالو را په دیخواه ستاسی د ډیر درونـد علمی، دینی، سیاسي او اجتماعی ویبپاڼې نه استفاده او ډیری ارزشمنده زده کړې ورنه کوم. زه په اطمینان سره ویلای شم هغو وطنوالو چه په تیرو درویشت کالو کی ستاسی د دعوت خپرونو نه ګټې پورته کړی وي باید اوس په دینی، سیاسي او اجتماعي علومو کی لکه یو اکادیمسین په څیر د ملي او بین المللی چارو باندیې هر اړخیز بحث او لیکنی وکړی.
زه ویاړم چه د دعوت د ویبپاڼی سره اړیکې لرم او ښی زده کړی ورنه کوم. زه تاسی ګران او قدرمند ورور ته چې خپلې شپې او ورځی مو د ګرانو وطنوالو په چوپړ کی د دین، سولې، آزادۍ او استقلال له پاره وقف کړی دی او د وطنوالو له پاره زحمت باسۍ د پاک الله نه ستاسی نور بری غواړم او د دعوت درویشتمه کالیزه د زړه له کومی تاسی او ټولو ګرانو وطنوالو ته مبارکی وایم. خدای دی مل شه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بیست و سومین سال پُر فیض دعوت مبارک باد!

انجنیر فضل احمد افغان

برادر دانشمند و نهایت گران قـدر جنـاب محمـد طـارق جـان بزگـر بـا عرض سلام های آگنده از محبت، اذعان می دارم که من در مدت سـه سال اخیر با داشتن افتخـار اسـتفاده از ویبسـایت وزیـن دعـوت، توفیـق حاصل نموده ام که با دور نمودن پرده های تاریک، بی علمی خود را با مسائل سیاسی، اجتماعی و علوم دینی منتشرهء ویبسـایت وزیـن دعـوت تنویر کنم. به یقین آن خواهران و برادران هموطنم که در بیسـت و سـه سال گذشته از نوشته های علمی دانشمندان نخبـهء کشـور عزیـز مـا در دعوت مستفید شده اند، امروز به حیث شخصیت های علمی برای نسل های امروزی و بعدی رهنمای خوبی خواهند بود. لهذا وظیفهء خود می دانم که با قدردانی از زحمات شما در پیشبرد وظیفهء مقـدس ملـی کـه عبارت از تنویر و آگاهی هموطنان از اندیشه های علمـی دانشـمندان و شخصیت های ملی هموطن ما، خاصتاً در این مقطع زمانی که مادروطن عزیز در آتش جنایتکاران داخلی و خـارجی مـی سـوزد، میباشـد. ایـن مؤفقیت بزرگ را به شما برادر عزیز و هموطنـان مـیهن دوسـت خاصـتاً دانشمندان گران قدر که با اسـتفاده از دعـوت و نوشـته هـای ارزشـمند علمی شان ما را تنـویر مـی کننـد، از صـمیم قلـب تبریـک عـرض و از بارگاهٔ خداوند متعال، آرزوی مؤفقیت های مزید شما را می کنم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اديسی ادبی ټولنې پیغام

پښتون هر وخت د توپک او جنګ په دوستور ویاړلی دی، ده دا دوستور لمانځلی دی، او د تاریخ پاڼې یې هم په د دستور رنګینې کړې دی، نو ځکه د پښتانه په کور کې د جنګ او د دغه ویاړلی تاریخ دغه بدرنګ دستور لا تر اوسه هم لمانځلې کیږي؛ خو بل طرف پوهه او قلم دی چې نني پرمختللې جهان ترې برخمن دی او راتلونکې یې هم روښانه ښکاري، مګر پښتنو پدې برخه کې ډیر کم فکر کړی دی چې د پوهې او قلم سړی د سر سړی بلل کیږي، خو دا بیا زموږ ګاونډیو هیوادونو درک کړې ده چې زموږ د پوهې او د قلم سړي یا د مرګ کندې ته ورغورځوي، یا دوی باید د غربت شپې د بل په دیار کې صبا کړي او موږ لا تر اوسه پدې فکر کې نه شوو چې د پوهې او د قلم خاوندان باید ولمانځل شي، ونازول شي، تر څو پدې لار کې نور خواري هم وکړي.

جنګ په هر رنګه حالاتو کې پښتون ګټلی دی، خو ارامه او هوسا ژوند نلري. علت یې دا دی چې پښتون جنګ ګټلی دی، خو قلم یې بایللی دی.

د افغانستان په ټولنه کې عموماْ ډیرو کمو خلکو دیته پام شوی دی چې علم او پوهه د یوه هیواد راتلونکې مسیر ټاکي. هغه چا چې د علم او پوهې څخه ګټه لیدلې او ترې خوشاله دی، ځکه چې ده په دغه لاره کې ډیر زیار او زحمت ایستلی دی چې نورو ته یې هم ګټه ورسیږي، ژورنالیست، لیکوال ښاغلی محمد طارق بزګر صیب یادوم.

ښاغلی بزګر صیب د ژوند په دغه راز پوهیدلی دی چې علم او پوهه د انسان راتلونکې تقدیر او تدبیر کې جوړونکې رول لري، او همدغه علمي پوهه ده چې نن انسان تر مریخه هم رسیدلی دی.

ښاغلی بزګر صیب د پښتنو او پښتو ژبې له حاله خبر سړی دی، او ده محترم دا درک کړې ده چې هر انسان باندې خپله ژبه، وطن، او خپل اولس دا حق لري چې ورته خدمت وکړي، نو ځکه باید سړی په ځان شپه او ورځ یوه کړي او عملي کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی بزګر صیب دا په ثبوت رسولی ده ، چی همدم ګړی د دعوت ورځپاڼی او دعوت ویب پاڼی چلونکی مسوول دی، او همدارنګه په علمی سیمنارونو کی برخه اخسیتل، ژورنالیستکی او ادبی هلی ځلی یی بله بیلګه ده.
ښاغلی بزګر صیب د ملی یوالی په برخه کی هم بی تفاوته نه دی پاتی شوی، او نن یی خپل ځان تر هغه سرحده رسولی چی موږ یی باید قدر وکړو او ستاینه یی وکړو.
د ښاغلی بزګر صیب د لمانځلو ورځ به نورو ته هم دا جرات ورکړی چی دوی به هم په دی لار کی زیار او زحمت وباسی، او په دی به پوه شی چی عالم او پوه انسان د قدر وړ دی او بس.
ښاغلی بزګر صیب ته د اوږد ژوند هیله لرو، په علم، پوهه او قلم یی برکت شه او په اخیر کی د سویډن په هیواد کی زموږ مسافر میشتی ورونه ((د زلمو پاڅون)) ته د ښاغلی بزګر صیب د لمانځلو ورځی مبارکی وایو، ستاسو په همت او وطنپرستی افرین. ستاسو د لا نورو بریاو په هیله.

د ادیسی ادبی ټولنی مشرتابه شورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعوت د هر چا نظر او هیلي خپرې کړې دی

نیک هدایت ځاځی

نیکې هیلي او سلا مونه!
زه د دعوت اخبار ۲۳ کلنۍ په اړوند او همدارنگه دعوت ویبپاڼي او د پښتو لمړني انټرنېتي تلویزیون په اړوند کوم چه په ډیرو مالي مشکلاتو او کمو امکاناتو د هیواد تکړه او پر افغانستان مین خبریال او لیکوال قدرمن محمدطارق بزگر تر مدیریت او مسئولیت لاندي په کار او فعالیت شروع کړي ده، خورا اغیزمن او مثبت ارزوم؛ ځکه چي د هر چا نظر، هیلي یي په دعوت کي خپرې کړې دي؛ پوره بې طرفي، استقلالیت، رښتینولي او د هیواد د وولسونو، قومونو، لیکوالانو او شاعرانو نظرونه او شعرونه یي کټ مټ نشر ته سپارلي دي. نو له دې کبله دعوت ۲۳ کلیزه د دعوت رهبرۍ هیئت، همکارانو، لوستونکو او ټول افغان وولس ته د زړه له کومي مبارکي وایم. د لوي خدای (ج) له درباره ورته لاډیرې بریاوې غواړم. ورسره هیله کوم چي افغانان دعوت اخبار، ویب پاڼی او د لمړني پښتو ټلویزیون سره تر خپل توان پوري مالي مرستي وکړي، ترڅو دعوت اخبار او دعوت ټلویزیون لاغني شي.
ستاسو لابریاوي زما هیله او ارزو ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه د دعوت د مجلې او ورسره موازی د ویب پاڼې تاثیر خورا لوی بولم

محمد ایاز نوری

د دعوت د رسنیو د مرکز محترم مشر، افغان ملی شخصیت محمد طارق بزګر او ملګرو ته! سلامونه او شې هیلې وړاندې کوم. ستاسو د دعوت د مجلې او ویب پاڼې درویشت کلنه کلیزه د زړه له کومې درته مبارکي وایم. غواړم په اضافه عرض کړم، چې د دعوت د مرکز موجودیت او خپرونې زمونږ د افغاني ټولنې د اکثرو په ژبه یعنې په ویاړمنه پښتو ژبه دا پخپله د لمړي او بنسټیز لوی اهمیت وړ موضوع ده، ځکه زمونږ ملي ژبه پښتو ډېره محکومه پاتې شوې او ډېر ظلم او خیانت ورسره شوئ او دا کرغېړنه لړی همدا اوس هم روانه ده. په دې بهیر کې زه د دعوت د مجلې او ورسره موازی د ویب پاڼې تاثیر خورا لوی بولم او په ځانګړي توګه د خپل ورور د افغان ملت خدمتګار محمد طارق بزګر صاحب زیار او قرباني ډېره ستایم. که د بزګر صاحب ملي احساس او مستمر زیار نه وای د دعوت نشراتي مرکز به نن داسې لوړ بریالیتوب ته نه وای رسیدلی.

د دعوت نشرات تل د ملت په دفاع او د حقیقت په ویلو استوار ول او دي. قلمي همکاران یې هم ټول افغان لوړ ملي او د لوړ انساني احساس درلودونکي افغانان پاتې شوي دي. او البته کله چې یوه رسنۍ د یوه واقعاً ملي مبارز شخصیت لکه محمد طارق بزګر صاحب له خوا اداره کیږي، معلومه ده، چې هلته ملي خاین ور نشي ورټکولای.

د دعوت انټرنټي جال هم ډېر ښه پرمختګ کړئ او کافي افغانان یې په دننه د هیواد او بهر کې هره ورځ او شپه ګوري او خپله لازمه استفاده ورڅخه کوي.

د دعوت د ویب پاڼې په هکله زما یو وړاندیز دا دئ، چې د هر لیکوال په نوم، یوه د آرشیف او اسناد ساتلو کوټه پکې ضرور ده، د لیکوالانو د آرشیف په نوم چې که خپله اړونده لیکوال او یا هم بل محترم لوستونکی وغواړي، څه مطلب ته مراجعه وکړي او په سهولت سره هغه مطلب ورته تیار او ورپه لاس ورشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د يوه افغان په حيث، چې هيـواد او ملـت مـې ډېـر راتـه ګـران دئ د دعوت د نشراتي مرکز ۲۳ ګلني هر افغان پال او آزادی پـال وطنـوال تـه ورمبارکوم. عاليقدر محمد طارق بزګر صاحب ته شه روغتيـايي حالـت نوي او نوي برياليتوبونه په شخصي او ملي ژونـد کـې د لـوی الله څخـه غواړم. بزګر صاحب! يوازې نه يې او ملت درسره ولاړ دئ.

په درنښت او افغاني احساس سره
د افغانستان يو خدمتګار
محمد اياز نوری

(c) ketabton.com: The Digital Library



## منه، ستاينه او خواله

استاد محمد اسمعیل یون

ښاغلی فرهنګپال او فرهنګپال محمد طارق بزګر ته!
سلامونه او احترامونه مې ومنه، هیله لرم په ټولو نیکو ورځنیو چارو کې بریمن اوسې. تیر کال مې پېښور کې د ((دعوت)) یوه ګڼه ترلاسه کړه> رښتیا خبره ده چې سترګې مې پرې خوږې او د زړه باد مې پرې کیناسته. ډیره موده کېده چې د داسې یوې خپرونې په لټه کې وم چې زموږ د ورځني ژوند د ناخوالو انځورګره وي، خو د ډیرو خپرونو کتنه او د هغو له چلوونکو سره به مو چې لیدنه وکړه نو چا به د ټاکلې ((پالیسۍ)) په وجه، چا د ((مجبوریت))، چا به د ((نزاکت)) د ساتلو په وجه د ټکېدلو زړونو د فریادونو له خپرولو او د پېښو د پېښوونکو د څیرو له ښکارندویې څخه اوړې تشولې. خو دلته هم د ځینو اشخاصو له خوا ځینې وختونه یوه نیمه داسې هڅه شوې ده چې زموږ د ډیرو دردونو د یوه درد انځورنه پکې وي، خو داسې خلاص مټ او زغرده توګه چې ((دعوت)) د پېښو څرګندونه کوي، زموږ په اوسنیو خپرونو کې یې بیلګې ډیرې لږې دي. په ځانګړي ډول هغه ستر او ملي رسالت چې خپرونې یې باید پوره کړي، هغه په دعوت کې زیاته ځلا او تجلا مومي.
آره خبره خو دا ده چې ډیر کلونه کیږي زموږ د ژبې، فرهنګ او ملي هویت ړنګونې او له منځه وړلو لپاره د نړدې او لرې دښمنانو له خوا ښکاره او پټې هڅې رواني دي، خو اوس اوس دا هڅې په بشپړ ډول څرګندې او په ډاګه شوي دي. دا ستم له پخوا کلونو راهیسې هم روان وو، نو که چا د پښتو او پښتنو د حقوقو د غوښتنې خبره رادمخه کړې وای، نو سمدلاسه پرې څو ډوله رنګینه ټاپې لګول کېدې. د ((ملحد واکۍ)) په شپو ورځو کې که چا د پښتو خبره رامنځته کړې وای نو هغه خو د ((فاشست)) په نوم یوې کندې ته غورځول کېده، خو د نورو قومونو او ژبو په ځانګړي ډول د ((فارسي)) له پاره بیا خبره سرچپه وه. کوم (پښتانه) [!] چې په دې پړاو کې پر څوکۍ ناست وو هغو ځانونه (انترناسیولستان) [!] بلل، کله چې ((ملا واکي)) راغله نو دوی خو لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور هم په پښتو او پښتنو خاورې واړولي او ویي ویل پښتو او پښتونولی خو په اسلام کې نشته، د اسلامي حکومت پر نوم چې کومه اخوانی ستمي، پرچمي ستمي او ستمي اداره په کابل کې جوړه شوه د نورو بې شمیره ورانیو تر څنګ یې د افغاني ـ پښتنی ارزښتونو او کلتوري شتمنیو په ړنګوني او لوټوني پیل وکړ. دې کار کې له دوی سره د سیمې ځینې هېوادونو د افغانستان او په خانګړې ډول د پښتنو لرې او نږدې، نوو او زړو دښمنانو هم ګډون درلود او لري یې.

لکه څنګه چې څرګنده ده د روس په ماتې او په شا تمبولو کې پښتنو غوښ او ټاکوونکی رول درلود، خو بیا هم له هغو وروسته د اسلامي حکومت په نوم یو پښتنی ضد نااندریزه اداره جوړه شوه د ((شني لیکی)) پیروانو ځانونه په لوی سمندر کې لاهو کړي وو، ځانونه یې د ((پان اسلامستان)) ګڼل او د خپلې ژبې او قوم په باب یې هغه د چا خبره غوږ هم نه ګراوه. په پایله کې پښتانه په ټولیز (کلي) توګه په څو ډلو وویشل شول: [۱] انترناسیونالستان (د سرې لیکی پلویان)، [۲] پان اسلامستان (د شني لیکي پلویان)، [۳] بې تفاوتان (بې خبره پښتانه)، [۴] پښتو ضد پښتانه یا ستمي پښتانه (هغه پښتانه چې خپله ژبه یې هېره کړې او عملاً د پښتو په ضد ودرېږي)، [۵] روڼ اندي (روښفکره) باشعوره پښتانه (هغه پښتانه چې هم د اند، هم د احساس له مخې عملاً پښتو ژبې، هېواد او پښتونولی ته خدمت کوي. د دې ډول پښتنو شمیر ډیر زیات نه دی، ایله دومره ځواک لري چې له ستمي پښتنو سره یې مقابله کې ولګوي. د انترناسیونالستانو او پان اسلامستو پښتنو غم خو لا پرېږده چې وخت په وخت یې پښتو ژبې او پښتنو ته درانه زیانونه اړولی دي.

کله چې مې د ((دعوت)) خپرونه ولوسته د دغو ټکو او پېښو انځورونه مې پکې ولوستل. د ناوړه پېښو له لوبغاړو څخه پکې پرده پورته اوچته شوې او نوره هم اوچتیږي. مور خو اوس لاس تړلی، او فکر تړلی اولس یوو، خو د احساس لاسونه او پښې مو څوک نشي تړلی.

تر کومه ځایه چې په نورو ژبو او لږکیو قومونو پورې اړوندیږي، پښتو پالنه او یا پښتونولي د چا له ژبې سره د کینې او تعصب مانا نه لري. روڼ اندي پښتانه په دې اند دي هغه حق چې فارسي ژبو ځان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاصل کړی او ساتلی، پښتانه هم باید ورڅخه برخمن شي. پخپله ژبه لیک لوست، وینا او ګړېدل جرم نه دی. او که دا کار جرم وګڼل شي نو د نړۍ ټول قومونه مجرمین دي.

ښاغلی بزګر صاحب! موږ اوس په هېواد کې له نومو ړې ستونزې سره مخ یوو، زموږ د زړونو په درد تاسو ښه پوهیږئ، ځکه چې همدا درد ستاسو په زړه کې هم څپې وهي. مونږ به هڅه وکړو د پورتنیو اندیښنو او ستونزو په باب تاسو ته څه لیکنې درولیږو، خو مونږ او ستاسو تر منځ غرونه، غرونه، سیندونه، سیندونه او هېوادونه، هېوادونه فزیکي واټن دی، که لیکونه او لیکنې مو ناوخته دررسیدلی، نو دا به د زړونو واټن نه وي بلکې د فزیکي مزلونو واټن او د وسیلو او وسایطو د نشتون لامل (علت) به وي.

په مینه او درناوی
ستا د پښتنی او انسانی لارې یو بل یون
مارچ ۴/ ۱۹۹۶- پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په سټوکهولم کې ښاغلی محمد طارق بزګر وویاړشو
د زلمو پاڅون ټولنه

د زلمو پاڅون ټولنې په نوښت، د ژمني سره سم د ۲۰۱۱ کال د ډیسمبر په لسمه په سټوکهولم کې د ګران هیواد افغانستان د ویاړمن فرهنګي شخصیت او نومیالي ژورنالیست ښاغلي محمد طارق بزګر په درناوی، ستاینغونډه جوړه شوه. دې غونډې کې د سویډن د مالمو ښار او د سټوکهولم له بېلابېلو کمیونونو څخه افغانانو ګډون کړی وو. ډیری ګډونوال د هیواد ځوان پښت وو. یو شمیر یې د زلمو پاڅون ټولنې غړي او په ټوله کې د هیواد راتلونکي علمي او فرهنګي شتمني ده چې پخپل ګډون سره یې غونډه لا پرتمینه کړې وه. د راغلو میلمنو په منځ کې ښاغلی حبیب الله غمخور له مالموښار څخه دې غونډې سره د مالمو میشتو افغانانو د یووالي او پیوستون بېلګه انځور کړې وه.
غونډې ته د ناکې کمیون (Nacka kommun) د لوړ ښوونځي (لیسه) په کنفرانس هال کې تیاری نیول شوې و چې د زلمو لخوا په پوره نظم او ترتیب سره مخې ته بیول کېده.
غونډه په یوه بجه د ښاغلي قاري واسع لخوا د قرانکریم د څو مبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه، ورپسې د افغانستان ملي سرود وغږول شو. روسته ښاغلي انعام هوسا چې د غونډې د کوربه توب چارې یې پر مخ بیولې، ښاغلي محمد طارق بزګر، ښاغلي حبیب الله غمخور او ښاغلي سرلوڅ مرادزي ته بلنه ورکړه چې د غونډې په دریځ (لوژ) کې خپلو ځایونو ته ولاړ شي. ورپسې ښاغلي هوسا د پاڅون ټولنې یو مشر غړي نصرت الله ننګرهاري ته بلنه ورکړه چې د ټولنې په استازیتوب میلمنو ته ښه راغلاست ووایي او د زلمو پاڅون ټولنې په اړه د غونډې برخوالو ته لنډ مالومات ورکړي، چې د ښاغلي ننګرهاري له خبرو وروسته د ناروې څخه د ښاغلي قریب الرحمن سعید پیغام ولوستل شو.
د غونډې ویاند ښاغلي سرلوڅ مرادزي ته بلنه ورکړه چې مایک ته راشي، چې ښاغلي مرادزي د سټوکهولم د استوګنو په استازیتوب یې ښاغلي بزګر او د غونډې نور ګډونوالو ته هرکلي او ښه راغلاست ووایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړي د بزگر صاحب د ۲۳ کلن وياړمن فرهنگي خدمت ستاينه وکړه. هغه، ښاغلی بزگر د هيواد ملي گټو او د افغانانو ملي يووالي ته ژمن شخصيت وباله او د مهاجرت په شرايطو کې يې د ښاغلي بزگر په نوښت او ميړانه د د عوت د جريدي او په را روسته کې ورسره د بريښاپاڼې په بريا چلولو کې د نوموړي هڅې او زيار د قدر وړ وگڼه. هغه په وينا کې زياته کړه، دا چې بزگر صاحب غواړي نږدې راتلونکې کې په پښتو ملي ژبه يو نړيوال تلويزيون فعال کړي او په دې لار کې نه ستړې کېدونکې هڅې کوي. داسې زيار يې د ټولو افغانانو زړه ته لار کړي.

د ښاغلی سرلوڅ مرادزي له عالمانه او هر اړخيزو خبرو وروسته د فرانسې څخه د دروند استاد روستار تره کي پيغام د غونډې گډونوالو ته واورول شو. له دې روسته يو زيات شمير پيغامونه چې د نړۍ له بېلا بېلو هيوادونو او لويو وچو څخه د هيواد دردمنو ليکوالانو، شاعرانو، ژورناليستانو، د ادبي او فرهنگي ټولنو مشرانو او استازو د ښاغلي بزگر په وياړ او درناوۍ رالېږلي وو او په هغو کې د بزگر صاحب ۲۳ کلن فرهنگي هڅې او د ژورناليزم په ډگر کې د نوموړي د زيار او هاند ستاينه شوې، د ځوانانو لخوا غونډې ته يو په بل پسې په لاندې ډول چې په اوږدو چک چکو بدرگه کيدل په لاندې ډول ولوستل شول:

ښاغلي سيف الرحمان شيرزاد د ښاغلي پوهنمل رحمت ځواکمن پيغام له هالنډ څخه، ښاغلي بشرکار د ښاغلي حاجي ولي محمد (گلستان) پيغام له کوټې څخه، ښاغلي همايون ننگرهاري د نيک هدايت ځاځي پيغام، ښاغلي سمندر خان د ښاغلي انجينر فضل احمد افغان پيغام له کاناډا څخه، ښاغلي جاويد مومند د عمر پاځون پيغام له جرمني څخه، د مالمو څخه د ډاکتر حکمت الله حکمت پيغام، د مسکو څخه د ښاغلی امرالدين شعر د بزگر په وياړ ولوستل شو. د کابل څخه د ښاغلي قدرت الله هېوادپال پيغام، د بلژيک څخه د ښاغلی امين باوري پيغام او د اوکراين د اديسې ادبي ټولنې پيغام. له دې سربېره د وخت د کمښت په لامل د يو شمير نورو پيغامونو لنډيز د غونډې د چارو د کوربه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي انعام هوسا لخوا ولوستل شو چې ګډونوالو پخپلو تودو ولولو بدرګه کړ.

د غونډې ورپسې ويناوال له مالموښار څخه راغلی دروند ميلمه ښاغلی حبيب الله غمخور و چې په زړه پورې وينا سره يې د غونډې ګډونوال برخمن کړل. نوموړي د خپلې وينا په يوه برخه کې وويل: زما له نظره ښاغلی محمد طارق بزګر نه يوازې فرهنګی شخصيت دی بلکې يوکارنده ژورنالست او تکړه ليکوال هم دی. د دعوت جريدې لپاره ټولې سرمقالې د همدې بزګر صاحب په قلم ليکل شوي چې د ده د پوهې او وطني مينې ښکاره بېلګه يې ګڼلای سو.

ښاغلی محمد طارق بزګر نه يوازې د بيلوبيلو مقالو په ليکلوسره بلکې د (۲۳) کاله په پرله پسې توګه د افغانستان د ډله ايزو رسنيو په اسمان کښې د دعوت په نوم جريدې د خپرولو شمع روښانه ساتلې ده او له دې لارې يې نه يوازې دا چې د خپلو ليکوالو او سياسي څېړونکو نظريات تر هيوادوالو او نړيوالو رسولي، دا دې اوس يې د ۱۹۹۷ کال راپه ديخوا د دعوت جريدې د خپرېدو تر څنګ دعوت ويب پاڼه پرانيستې او له دې لارې هم د افغانستان او نړۍ په ګوټ ګوټ کښې افغان ليکوالو ته د خپلو نظرياتو، علمي او ادبي ليکنو د خپرولو پوره امکانات برابر کړي دي.

